20

# د سحر جادو او بد نظر علاج

## د قرآن او سنتو په رڼا کښې

پښتو مترجم

# الصارم البتار


مؤلف: الشیخ وحید عبدالسلام بالی

مترجم: مولانا حضرت محمد

مدرس تعلیم القرآن گنج پشاور



ناشر: ایوب مکتبه و اسلامی کیسټ مرکز پشاور

پشت قصه خوانی بازار پشاور فون: 2550749



Maktaba Tul Ishaat.com

# Maktaba Tul Ishaat

تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

## اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

| | | |
|---|---|---|
| تفاسیر | خطبات | منطق |
| احادیث | سیرت | معانی |
| فقہ | تاریخ | تصوف |
| سوانح حیات | صرف | تقابل ادیان |
| درس نظامی | نحو | تجوید |
| لغت | فلسفہ | نعت |
| فتاوی | حکمت | تراجم |
| اصلاحی | بلاغت | تبلیغ و دعوت |
| آڈیو دروس | مناظرے | تمام فنون |

Contact Us: maktaba.tul.ishaatofficial.com

# جمله حقوق محفوظ دی


دکتاب نوم ——— دسحر اوجادو اوبد علاج
دقرآن او سنت په رنړا کښې

پښتو ترجمه ——— د الصارم البتار

مؤلف ——— الشیخ وحید عبد السلام بالی

مترجم ——— ابو سلمان حضرت محمد غفرله

تصحیح ——— ایضا۔

سنه طباعت ——— شعبان : ۱٤۲٤ هـ دوم ایډیشن

تعداد ——— گیاره سو (۱۱۰۰)۔ 2011

قیمت ——— (  ) روپئ۔

کمپوزنګ ——— ابو سلمان حضرت محمد غفرله

ناشر ——— ایوب مکتبه واسلامی کیسټ مرکز

**ایوب مکتبه واسلامی کیسټ مرکز**

عقب قصه خوانی بازار پیښور


*****

بسم الله الرحمن الرحيم

# سرنامه

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على سيد الانبياء وخاتم المرسلين وعلى آله وصحبه ومن تبعهم باحسان الى يوم الدين اما بعد :

الله تعالى په خپلو بندګانو ډير فضل او رحم کونکے دے، په هر دور کښے ئے ددوئ د هدايت او کاميابئ دپاره خپل کتابونه او احکام دانبياء کرامو عليهم السلام په ذريعه راليګلی دی چه ددغه انبياء کرامو په سلسله کښے ئے دنيا ته خپل آخری رسول جناب محمد مصطفی ﷺ مبعوث کړو او يو داسے دين ئے ورته ورکړو چه ترقيامته پورے د ټول عالم دپاره د هدايات اونجات ذريعه ده۔ هغه قرآن او احاديث کريمه چه د رسول الله ﷺ په ذريعه مونږ ته رارسيدلی دی زمونږ دژوند په هر اړخ کښے زمونږ بهترينه راهنمائی کوی۔

قرآن اوسنت کښے دعقائدو په باب کښے په عقيده دتوحيد شديد تاکيد کوی اود هر قسم شرك نه دځان ساتلو کلك امرکوی ځکه چه د هرے ګناه دمعاف کيدو ګنجائش ( که الله تعالی

Maktaba Tul Ishaat.com

اوغواړی نو) شته مگر دا دالله تعالی مقرر کړے شوے اټل قانون دے چه شرك هیڅ کله او په هیڅ صورت کښے نه بخښی۔ لکه چه فرمائی :

﴿ ان الله لایغفر ان یشرك به ویغفر ما دون ذلك لمن یشاء۔ [النساء ]۔

(بیشکه الله تعالی نه بخښی دا خبره چه شرك دے اوکړے شی د هغه سره اوبخنه کوی ددے نه سیوا دنورو گناهونو چه چاته اوغواړی)۔

زیر نظر کتاب چه دفضیله الشیخ وحید بن عبد السلام بالی حفظه الله تصنیف دے ، دسِحر دعلاج دپاره لیکلے شویدے، چونکه سِحر (جادو) هم د توحید الهی منافی اوخلاف یو شیطانی علم دے او قرآن او حدیث کښے ددے نه سخته منع هم راغلے ده۔ اودیته کفر وئیلے شویدے۔ لکه الله تعالی فرمائی :

﴿ وما کفر سلیمان ولکن الشیاطین کفروا یعلمون الناس السحر﴾ [ البقره : ۱۰۲ ]۔

(اوکفر – جادو – نه وو کړے سلیمان علیه السلام بلکه شیطانانو دا کفر کولو چه خلقو ته به ئے جادو ورخودلو )۔

الله تعالی دخپلو بندگانو دامتحان دپاره په جادو کښے اثر هم اچولے دے، اگرچه دا یو باطل کار دے۔ مگر داسے ډیر باطل اوناجائز کارونه وی چه خپل بد اثر لری۔ بعضے گناهونو کښے دضرر اثر زیات وی او په بعضو کښے کم ۔

ځوك چه دسِحر داثر نه انكار كوى نو داجاهلان په اصل كښې دقرآنْ اوسنت دښكاره نصوصو نه انكار كوى، البته دومره ده چه دا عقيده ساتل پكار دى چه جادو بذاتِ خْود چاته څه ضرر نشى وركولے ـ مګر دالله تعالى په امر په هغے كښې تاثير راځى ـ لكه چه الله تعالى فرمائى :

﴿ وما هم بضارين به من احد الا باذن الله ﴾ [ البقره : ۱۰۲ ]ـ

(اودوئ ضرر نشى وركولے په دے جادو سره هيچا ته مګر په حكم دالله تعالى )ـ

كله چه دموسى عليه السلام دجادوګرو سره مقابله راغله او جادوګرو خپل كرتب ښكاره كړو نو قرآن كريم په دے خبره ګواه دے چه په موسى عليه السلام هم دهغے اثر اوشو او ويره پرے راغله، لكه الله تعالى فرمائى :

﴿ فاوجس فى نفسه خيفة موسى، قلنا لا تخف انك انت الاعلى ﴾ [ سورت طه ]ـ

(نو محسوسه كړه موسى عليه السلام په خپل نفس كښې ويره، مونږ ورته اووئيل : مه ويريږه، يقينا ته پورته - غالب ئے)ـ

ځوك چه ددے آيت متعلق دا دخواهش تفسير كوى چه كوم جادو مخامخ كيږى نو دهغے اثر وى اوچه كوم مخامخ نه وى بلكه په غائب كښے - پټ پناه - كيږى نو دهغے اثر بالكل نشته، دا خلق خالص احمقان اود شريعت دنصوصو سره لوبے كوونكى دى ـ

ددوئ نه دا تپوس پكار دے چه په قرآن كريم كښے په سورت

الفلق کښې الله تعالی دغه چا نه دپناه غوښتلو امر کړیدے چه هغوئ په غوټو کښې پوکی کوی - یعنی جادو اوکوډے کوی - ځکه چه الله تعالی فرمائی :

﴿ ومن شر النفاثات فی العقد ﴾ الفلق۔

(اوداسې وایه چه ایے الله ! پناهی غواړم دشر دپوکو کونکو نه - چه پوکی کوی - په غوټو کښې)۔

نو آیا دا جادوګر یا کوډګر به ستا مخامخ داکار کوی چه په بندونو کښې به غوټے اچوی اوپوکی به کوی ؟ او ته به هر وخت ده ته ولاړ ئے، اوتاته به څه پته وی چه څوك کوډے اوجادو کوی او په کوم وخت کښې ئے کوی ؟

دویمه خبره داده : چه بیا ددے تعوّذ فائده څه شوه، یعنی که شریعت په مونږ دومره تکلیف اچوی چه که جادو مخامخ کیږی نو اثر به ئے وی نو آیا مونږه به دجادوګر مخے ته ورځو اود اکلمات به وایو نو بیا به دهغے دضرر نه بچ کیږو اوکه مخامخ جادو نه وی نو بیا به یے غمه ګرځو اود اتعوّذ به بالکل نه غواړو او الله تعالی ته به هیڅ قسم عاجزی نه کوو ؟

دریمه خبره داده : چه په یو صحیح حدیث سره ثابته ده چه په جناب نبی کریم ﷺ باندے جادو شوے وو۔

(کما رواه البخاری فی کتاب الطب من صحیحه)۔

او بیا ورته الله تعالی دعلاج دپاره دا دوه سورتونه معوذتین (سورت الفلق او سورت الناس) ور اوخودل چه دا وایه، نو آیا دغه

جادو دجناب نبی کریم ﷺ مخامخ شوے وو؟

تنبیه : په جناب نبی کریم ﷺ چه کوم جادو شوے وو نو په هغے سره دهغوئ په دینی امورو یا وحی کښے هیڅ نقصان نه دے راغلے (ځکه چه دین دحفاظت ذمه واری الله تعالی اخستے ده) بلکه صرف دنبی کریم ﷺ په قوتِ خیالی ئے دومره اثر کړے وو چه دنیوی امورو کښے به پرے پریشانی راتله چه آیا دا کار به مے کړے وی او که نه، لکه عائشه – رضی الله عنها – فرمائی :

کان یری انه یأتی النساء ولا یاتیهن۔

(نبی ﷺ به دا خیال کولو چه خپلو بیبیانو ته ئے نزدیکت کړے دے حالانکه نزدیکت به ئے نه وو کړے)۔

اودا پریشانیانے او امتحانات په انبیاء کرامو علیهم السلام راځی۔

څلورمه خبره داده : چه که دجادو اوکوډو اثر نه وے نو بیا دے عمل ته شر ولے وئیلے شویدے او ددے شر نه په پناه غوښتلو باندے الله تعالی حکم ولے کړیدے؟

مشهورو مفسرینو ددے آیت تفسیر په هم دے طریقه کړے دے لکه ابن کثیرؒ لیکلی دی :

قال مجاهد وعکرمة والحسن وقتادة والضحاك : یعنی السواحر، قال مجاهد : اذا رقین ونفثن فی العقد (۷۴۷/۴)۔

(یعنے :مجاهد، عکرمه، حسن بصری، قتاده اوضحاك فرمائی چه ددے نه مراد جادوګرے ښځے دی۔ مجاهد رحمه الله

Maktaba Tul Ishaat.com

فرمائی :کله چه دویٔ دجادو دمونه (شرکی الفاظ) وائی او بیا پوکی کوی (نو دغه حالت ترے مراد ددے)۔

مفسر ابن جریرؒ هم ددے معنی داسے لیکی :

ای ومن شر السواحر اللائی ینفثن فی عقد الخیط حین یرقین علیها۔

(یعنی د شر د هغه جادوگرو نه چه دتارونو په غوټو کښے پوکی کوی کله چه په هغے (خپل شرکی) دمونه اچوی۔

اودغه شان مفسر قرطبیؒ وغیره هم لیکلی دی۔

**الغرض :** سحر او جادو یو ډیر ناکاره او ضرری عمل دے، ددے ضرر دبندګانو دپاره یو امتحان دے،مګر دا د الله سبحانه وتعالی لوئے فضل اوکرم دے چه د هر مرض دپاره ئے علاج رالیګلے دے۔ او خصوصا هغه امراض چه کوم ددین په باب کښے واقع کیږی د هغے علاجونه په قرآن او سنت کښے مذکور دی۔

زمونږ د ملك اکثر عوام داسلام د احکامو اود توحید دعقیدے نه دغفلت په وجه اول خو دسِحر متعلق په وهمونو کښے پراته وی، یعنی اکثر اوقات چا پرے سِحر نه وی کړے خو شکونه اوشبهات کوی او بیا د هغه خلقو خواته ورځی چه کوم دخلقو دایمانونو او مالونو دتباه کولو دپاره قسما قسم پروپیګنډے کوی او په اخباراتو کښے اشتهارات ورکوی چۀ زه په چیلنج سره دجادو تور (ماتول) کووم اوکله ځان ته مشهور عامل یا خاندانی عامل وغیره وائی او حال دا چه د هغوئ عقیده دشرك وی او اعمال ئے

دفسق اوفجور او کفریاتو اولغویاتو مجموعه وی۔

زموږ ساده ګان مسلمانان ددغه ناکاره عاملانو او پیرانو ښکار کیږی اود افسوس خبره داده چه حکومت هم ددین په باب کښې ډیر بے پرواه دے اودداسے عناصرو دمخ نیوی دپاره هیڅ اقدام نه کوی۔

لهذا ضرورت ددے خبرے دے چه دسحر دعلاج دپاره شرعی طریقه اختیار کړے شی، ځکه چه دجادو ماتول په جادو سره (یا دجادو علاج په جادو یاجادوګر سره کول) دیته نشره وائی او حدیث کښې راځی چه جناب نبی کریم ﷺ ددے نه سخته منع فرمائیلے ده۔

الحمد لله په دے باب کښے اهل حق علماء کرامو ډیر تصانیف کړی دی چه په هغے کښے یو بهترین اومدلل کتاب – الصارم البتار فی التصدی للسحرة والأشرار – دجناب فضیلة الشیخ وحید بن عبد السلام بالی حفظه الله دے۔

دسِحر دعلاج دپاره دا کتاب دیو اکسیر حیثیت لری۔ بل کمال په کښے دادے چه مختصر مګر جامع کتاب دے۔

زما والدِ محترم اود ایوب مکتبه واسلامی کیسټ مرکز مدیر الحاج محمد ایوب صاحب ددے کتاب دپښتو ترجمے دشائع کولو خواهش اوکړو، دے دپاره چه عوام مسلمانان ترے فائده واخلی اود بے ځایه پریشانو اومختلف قسم نام نهاد عاملانو او ناکاره عناصرو نه ورته نجات ملاؤ شی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

د کتاب د ترجمې خدمات زما محترم استاذ فضيلة الشيخ مولانا حضرت محمد صاحب اداء کړی دی۔

الله تعالی دې دا کتاب دتمامو مسلمانانو ورونو أوخويندو اوددې دمترجم او ناشر دپاره باعث داجر او رحمت اوګرځوی او الله تعالی دِ ددوئ دا محنت په ميزان الأعمال کښې دقيامت په ورځ د دروند والی ذريعه اوګرځوی ۔ آمين !

فقط والسلام

ستاسو ورور

محمد روح الله توحيدی پيښور

* * * * *

# فهرست دکتاب


| شماره | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| ۱ | مقدمه: د مؤلف صاحب ........ | ۱۹ |
| ۲ | **اول فصل**: دسحر اوجادو تعریف ........ | ۲۳ |
| ۳ | د سحر لغوی معنی ........ | ۲۳ |
| ٤ | د سحر معنی په اصطلاح د شرع کښې ........ | ۲٤ |
| ٥ | شیطان ته د ساحر دنزدیکت حاصلولو بعضے وسائل .... | ۲٥ |
| ٦ | **دویم فصل**: سحر دقرآن او سنت په رنړا کښې ........ | ۲۹ |
| ۷ | د لائل په وجود دجناتو او شیطانانو باندے ........ | ۲۹ |
| ۸ | اول: دلائل دقرآن کریم نه ........ | ۲۹ |
| ۹ | دویم دلائل دسنت نبویه ﷺ نه ........ | ۳۲ |
| ۱۰ | دلائل په وجود دسِحر باندے ........ | ۳۸ |
| ۱۱ | اول: دقرآن کریم نه دلیلونه ........ | ۳۸ |
| ۱۲ | دویم: د سنت نبویه ﷺ نه دلیلونه ........ | ٤۲ |
| ۱۳ | د حدیث شریف مطلب ........ | ٤۳ |
| ۱٤ | یو شبهه او دهغے جواب ........ | ٤٥ |
| ۱٥ | دریم اقوال دعلماؤ ........ | ٥۱ |
| ۱٦ | **دریم فصل**: د سِحر قسمونه ........ | ٥۹ |
| ۱۷ | د سِحر تقسیم په نزد د امام رازی ........ | ٥۹ |


Maktaba Tul Ishaat.com

| | | |
|---|---|---|
| ١٨ | د سِحر تقسیم په نزد دامام راغب ........ | ٦٢ |
| ١٩ | د سِحر د اقسامو تحقیق او وضاحت ........ | ٦٤ |
| ٢٠ | **ځلورم فصل** : ساحر پیرے څنګه حاضروی ؟ ........ | ٦٨ |
| ٢١ | د ساحر او شیطان ترمینځه اتفاق ........ | ٦٨ |
| ٢٢ | ساحر پیرے څنګه حاضروی ؟ ........ | ٧١ |
| ٢٣ | اوله طریقه : د اقسام – یعنے قسم ورکولو ........ | ٧٢ |
| ٢٤ | ددے طریقے سره متعلق څو خبرے ........ | ٧٣ |
| ٢٥ | دویمه طریقه : طریقه د ذبحے ........ | ٧٤ |
| ٢٦ | دریمه طریقه : طریقه سفلیه ........ | ٧٦ |
| ٢٧ | ځلورمه طریقه : طریقه دنجاست ........ | ٧٧ |
| ٢٨ | پنځمه طریقه : طریقه د تنکیس ........ | ٧٧ |
| ٢٩ | شپږمه طریقه : طریقه دتنجیم ........ | ٧٨ |
| ٣٠ | اوومه طریقه : طریقه دکف (ورغوی) ........ | ٧٩ |
| ٣١ | اتمه طریقه : طریقه الأثر ........ | ٨٠ |
| ٣٢ | په دے طریقه باندے تبصره ........ | ٨١ |
| ٣٣ | هغه علامات چه په هغے سره ساحر پیژندلے کیږی ........ | ٨٢ |
| ٣٤ | **پنځم فصل** : په اسلام کښے دسحر حکم ........ | ٨٦ |
| ٣٥ | خلاصه ........ | ٨٩ |
| ٣٦ | داهل کتابو دساحر حکم ........ | ٩٠ |
| ٣٧ | آیا سِحر د سِحر په ذریعه ختمول جائز دی ؟ ........ | ٩١ |
| ٣٨ | آیا دسِحر زده کول جائز دی ؟ ........ | ٩٣ |

| | | |
|---|---|---|
| ۳۹ | دمعجزے، کرامت او سِحر ترمینځه فرق.......... | ۹۸ |
| ٤۰ | تنبیه :.......... | ۹۸ |
| ٤۱ | شپږم فصل : سِحر ختمول.......... | ۱۰۱ |
| ٤۲ | اول : سحر التفریق.......... | ۱۰٤ |
| ٤۳ | د سِحر التفریق تعریف.......... | ۱۰٦ |
| ٤٤ | د سِحر التفریق اقسام.......... | ۱۰٦ |
| ٤٥ | د سِحر التفریق علامات.......... | ۱۰۷ |
| ٤٦ | سِحر التفریق خنګه کیږی ؟.......... | ۱۰۸ |
| ٤۷ | د سِحر التفریق علاج.......... | ۱۰۸ |
| ٤۸ | اوله مرحله.......... | ۱۱۰ |
| ٤۹ | دویمه مرحله.......... | ۱۱۷ |
| ۵۰ | دریمه مرحله.......... | |
| ۵۱ | اول حالت.......... | ۱۲۲ |
| ۵۲ | دویم حالت.......... | ۱۲۳ |
| ۵۳ | دریم حالت.......... | ۱۲٤ |
| ۵٤ | دریمه مرحله دعلاج نه روسته.......... | ۱۲٦ |
| ۵۵ | د سِحر التفریق دعلاج عملی نمونے.......... | ۱۲٦ |
| ۵٦ | اوله نمونه.......... | ۱۳۱ |
| ۵۷ | دویمه نمونه.......... | ۱۳۱ |
| ۵۸ | دریمه نمونه.......... | ۱۳٤ |
| ۵۹ | څلورمه نمونه.......... | ۱۳۷ |


Maktaba Tul Ishaat.com

| | | |
|---|---|---|
| ٦٠ | دويم سِحر المحبه ........ | ۱٤٠ |
| ٦١ | د سِحر المحبه علامات اود کیدو طریقه ........ | ۱٤۱ |
| ٦٢ | د سِحر المحبه التـه اثرات ........ | ۱٤۲ |
| ٦٣ | د سِحر المحبه اسباب ........ | ۱٤۳ |
| ٦٤ | حلال سِحر ........ | ۱٤۳ |
| ٦٥ | د سِحر المحبه علاج ........ | ۱٤٥ |
| ٦٦ | د سِحر المحبه دعلاج یوه عملی نمونه ........ | ۱٤۷ |
| ٦٧ | دریم : سِحر التخییل (وهم کنبے مبتلا کول) ........ | ۱٤۹ |
| ٦٨ | د سِحر التخییل علامات ........ | ۱٥٠ |
| ٦٩ | سِحر التخییل ځنګه کیږی ؟ ........ | ۱٥۱ |
| ٧٠ | سِحر التخییل ختمول ........ | ۱٥۱ |
| ٧١ | د سِحر التخییل دختمولو یوه عملی نمونه ........ | ۱٥۲ |
| ٧٢ | څلورم : سِحر الجنون ........ | ۱٥٤ |
| ٧٣ | د سِحر الجنون علامات ........ | ۱٥٤ |
| ٧٤ | سِحر الجنون ځنګه کیږی ؟ ........ | ۱٥٥ |
| ٧٥ | د سِحر الجنون علاج ........ | ۱٥٥ |
| ٧٦ | د سِحر الجنون دعلاج نمونے ........ | ۱٥٨ |
| ٧٧ | اوله نمونه ........ | ۱٥٨ |
| ٧٨ | دویمهِ نمونه ........ | ۱٥٩ |
| ٧٩ | پنځم : سِحر الخمول (سستی) ........ | ۱٦٠ |
| ٨٠ | د سِحر الخمول علامات ........ | ۱٦٠ |

| | | |
|---|---|---|
| ٨١ | سِحر الخمول څنګه کیږی ؟ | ١٦٠ |
| ٨٢ | د سِحر الخمول علاج | ١٦١ |
| ٨٣ | شپږم: سِحر الهواتف – چغې سورې | ١٦٢ |
| ٨٤ | د سِحر الهواتف علامات | ١٦٢ |
| ٨٥ | سِحر الهواتف څنګه کیږی ؟ | ١٦٣ |
| ٨٦ | د سِحر الهواتف علاج | ١٦٣ |
| ٨٧ | اووم: سِحر المرض | ١٦٥ |
| ٨٨ | د سِحر المرض علامات | ١٦٥ |
| ٨٩ | سِحر المرض څنګه کیږی ؟ | ١٦٩ |
| ٩٠ | د سِحر المرض علاج | ١٧٠ |
| ٩١ | د سِحر المرض دعلاج نمونې | ١٧٠ |
| ٩٢ | اوله نمونه | ١٧٠ |
| ٩٣ | دویمه نمونه | ١٧١ |
| ٩٤ | دریمه نمونه | ١٧١ |
| ٩٥ | څلورمه نمونه | ١٧٣ |
| ٩٦ | پنځمه نمونه | ١٧٤ |
| ٩٧ | اتم: سِحر النزیف | ١٧٤ |
| ٩٨ | سِحر النزیف څنګه کیږی ؟ | ١٧٥ |
| ٩٩ | سِحر النزیف څه شے دے ؟ | ١٧٥ |
| ١٠٠ | د سِحر النزیف علاج | ١٧٥ |
| ١٠١ | د سِحر النزیف دعلاج نمونې | ١٧٥ |


Maktaba Tul Ishaat.com

| | | |
|---|---|---|
| ١٠٢ | سِحر تعطيل الزواج – واده نه بندول | ١٧٧ |
| ١٠٣ | دا جادو څنګه کیږی ؟ | ١٧٧ |
| ١٠٤ | د سِحر تعطيل الزواج علامات | ١٧٨ |
| ١٠٥ | ددې قسم جادو علاج | ١٧٨ |
| ١٠٦ | ددې سِحر دعلاج نمونې | ١٨٠ |
| ١٠٧ | دجادو په باره کښې ضروری معلومات | ١٨٢ |
| ١٠٨ | يوې جينۍ ته دالله دطرفنه دجادو ځائے ښودنه | ١٨٤ |
| ١٠٩ | اووم فصل : | ١٨٨ |
| ١١٠ | خپلے بی بی نه د تړلے شوی شخص علاج | ١٨٨ |
| ١١١ | د تړلو پیژندنه | ١٨٨ |
| ١١٢ | دنارينه دكور والی فلسفه | ١٨٨ |
| ١١٣ | دنارينه آله تناسل دانتشار درېے مرحلے | ١٨٨ |
| ١١٤ | د سړی دكور والی نه تړل څنګه کیږی ؟ | ١٨٩ |
| ١١٥ | دښځے تړل | ١٩٠ |
| ١١٦ | ربط المنع | ١٩٠ |
| ١١٧ | ربط التبلد | ١٩١ |
| ١١٨ | ربط النزيف | ١٩١ |
| ١١٩ | ربط الانسداد | ١٩٢ |
| ١٢٠ | ربط التغوير | ١٩٢ |
| ١٢١ | دجماع نه د بند والی علاج | ١٩٢ |
| ١٢٢ | اوله طريقه | ١٩٣ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۲۳ | دویمه طریقه | ۱۹۳ |
| ۱۲٤ | دریمه طریقه | ۱۹٤ |
| ۱۲۵ | څلورمه طریقه | ۱۹٤ |
| ۱۲٦ | پنځمه طریقه | ۱۹٤ |
| ۱۲۷ | شپږمه طریقه | ۱۹۵ |
| ۱۲۸ | اوومه طریقه | ۱۹٦ |
| ۱۲۹ | آتمه طریقه | ۱۹٦ |
| ۱۳۰ | نهمه طریقه | ۱۹۷ |
| ۱۳۱ | د تړلو، نامردئ اوجنسی کمزورئ ترمینځ فرق | ۱۹۷ |
| ۱۳۲ | اول : تړل او بندول | ۱۹۷ |
| ۱۳۳ | دویم : نامردی | ۱۹۷ |
| ۱۳٤ | دریم : مردانه کمزوری | ۱۹۷ |
| ۱۳۵ | دضعف جنسی – مردانه کمزورئ – علاج | ۱۹۷ |
| ۱۳٦ | د شنډوالی د بعضے اقسامو علاج | ۲۰۰ |
| ۱۳۷ | د سړی د شنډوالے | ۲۰۰ |
| ۱۳۸ | د طبعی شنډوالی اود پیری دوجے نه | ۲۰۱ |
| ۱۳۹ | دشنډوالی ترمینځ فرق | ۲۰۱ |
| ۱٤۰ | د پیری دوجے نه شنډوالے اود هغے علامات | ۲۰۱ |
| ۱٤۱ | د ښځے شنډ والے په دوه قسمه دے | ۲۰۱ |
| ۱٤۲ | د شنډ والی علاج | ۲۰۲ |
| ۱٤۳ | د سُرعت انزال علاج | ۲۰۳ |


Maktaba Tul Ishaat.com

| | | |
|---|---|---|
| ۱٤٤ | جادو نه د ځان بچ ساتلو احتیاطي تدبیرونه........ | ۲۰۷ |
| ۱٤٥ | د جماع نه د بندولو دعلاج يوه عملي نمونه........ | ۲۱۵ |
| ۱٤٦ | دجماع نه د بند والي جادو په ليونتوب بدل شو........ | ۲۱٦ |
| ۱٤٧ | اتم فصل: د نظره کيدو علاج........ | ۲۱۹ |
| ۱٤٨ | نظر کيدو باندې دقرآن کريم نه دليلونه........ | ۲۱۹ |
| ۱٤٩ | نظر کيدو باندې د سنت نبويه ﷺ نه دليلونه........ | ۲۲۲ |
| ۱٥۰ | دنظر لګيدو د حقيقت باره کښې دعلماؤ اقوال........ | ۲۲٦ |
| ۱٥۱ | د نظر او حسد ترمينځه فرق........ | ۲۳۰ |
| ۱٥۲ | پيرې انسان دنظره کولې شي........ | ۲۳۱ |
| ۱٥۳ | د نظره کيدو علاج........ | ۲۳۲ |
| ۱٥٤ | اوله طريقه........ | ۲۳۳ |
| ۱٥٥ | په لنګ کښې ددنه حصې دوينځلو څه مطلب دې؟........ | ۲۳٤ |
| ۱٥٦ | دغسل کولو طريقه........ | ۲۳٤ |
| ۱٥٧ | دنظر باز سړي د غسلو مشروعيت........ | ۲۳٥ |
| ۱٥٨ | دويمه طريقه........ | ۲۳٦ |
| ۱٥٩ | دريمه طريقه........ | ۲۳٦ |
| ۱٦۰ | څلورمه طريقه........ | ۲۳٦ |
| ۱٦۱ | پنځمه طريقه........ | ۲۳۷ |
| ۱٦۲ | د نظره دعلاج عملي نمونه........ | ۲۳۷ |
| ۱٦۳ | اوله نمونه........ | ۲۳۷ |
| ۱٦٤ | دويمه او دريمه نمونه | ۲۳۷ |

بسم الله الرحمن الرحيم

# مُقَدِّمَة

ان الحمد لله نحمده ونستعينه ونستهديه ونستغفره، و نعوذ بالله من شرور انفسنا ومن سيئات اعمالنا، من يهده الله فلا مضل له ومن يضلل فلا هادى له، وأشهد أن لا اله الا الله وحده لا شريك له وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

وبعد: فان أصدق الحديث كتاب الله تعالىٰ وخير الهدى هدى محمد صلى الله عليه وسلم وشر الأمور محدثاتها وكل محدثة بدعة، وكل بدعة ضلالة، وكل ضلالة فى النار.

أما بعد:

دسِحر او جادو موضوع دهغه اهمو موضوع ګانو نه ده چه علماؤ دپاره د بحث او تحقیق اود تصنیف او تالیف په ذریعه دهغے اهتمام ضروری دے. ځکه چه سِحر او جادو عملی طور سره زمونږ په معاشره کښې په پوره اندازے سره موجود دے، او جادو ګر دیو څو روپو پیسو په عوض کښې شپه او ورځ د فساد په خورولو کښے مصروف دی، کوم چه د مسلمانانو سره بُغض او کینه لری اودوئ دجادو په عذاب کښے مبتلا لیدلو باندے خوشحالی محسوسوی.

Maktaba Tul Ishaat.com

نو ددے وجے نه دامت مسلمه علماؤ دپاره پکار دی چه خلقو ته د سحر او جادو خطر او ضرر بیان کړی، بلکه اهمه خبره داده چه کوم مسلمانان د سِحر په مصیبت کښې اخته وی چه دا علماء کرام دهغوئ شرعی علاج اوکړی، دے دپاره چه خلق دغه ساحرانو فاجرانو ته دعلاج کولو اود سحر ختمولو دپاره لاړ نشی.

ددے ضرورت پیش نظر زه دخپلو لوستونکو په خدمت کښې دا کتاب پیش کوم، دکوم وعده چه ما څلور کاله مخکښې په خپل کتاب (وقایة الانسان من الجن والشیطان) کښې کړے وه.

دا کتاب یو عاجزانه کوشش او معمولی محنت دے چه ددے اهم مقصد دادے چه په دے سره دجادو او دغه شان د بد نظرئ اود حسد علاج په شرعی طریقه سره اوکړے شی، اوخلق ساحرانو ته محتاج نشی، هغه ساحران چه دخلقو عقائد بربادوی اوعبادات ئے خرابوی.

دالله رب العزت نه سوال کوم چه په دے کتاب سره ددے کاتب، ددے لوستونکی او ددے خورونکی ته نفع اورسوی.

زه دهغه محترمو ورونو نه، کوم چه ددے کتاب نه نفع واخلی دا خواست کوم چه ما دپاره غائبانه دعاء اوکړی.

او زه ددے خبرے اعلان کوم چه که تاسو په دے کتاب کښې دقرآن او سنت نه خلاف خبره بیاموئ نو هغه په دیوال باندے ووېشتئ. او ددے په مقابله کښې په قرآن او سنت باندے عمل اوکړئ.

الله دے په هغه چا باندے رحم اوکړی چه هغه په کومه

خطايئ باندے خبر شی که زه ژوندے ووم نو چه ما پرے خبر کړی، اوکه وفات شوے ووم نو چه دهغے خطايئ اصلاح په خپله اوکړی.

او هر هغه څه چه په دے کتاب کښے د قرآن او سنت نه خلاف وی زه دهغے نه د برائت او بيزاريئ اعلان کوم.

وما أريد الا الاصلاح ما استطعت، وما توفيقى الا بالله عليه توكلت واليه أنيب.

وكتبه افقر الخلق الى الله

وحيد عبد السلام بالى

المسجد النبوى (مدينة الرسول ﷺ).

١٤/ رمضان المبارك: ١٤١١ هـ.

* * * * *

Maktaba Tul Ishaat.com

# اول فصل

## د سحر تعریف

* دسحر لغوی معنی
* دسحر معنی په اصطلاح دشرع کښې
* شیطان ته د ساحر دنزدیکت حاصلولو
بعضې وسائل او طریقې

* * * * * *

# اول فصل : د سحر تعریف

## دسحر لغوی معنی :

په عربئ ژبه کښې دجادو دپاره دسِحر لفظ استعمال شوید ے چه ددے تعریف علماؤ داسے کړے دے :

* لیث رحمه الله فرمائی :

سحر هغه عمل دے چه په هغے سره شیطانانو ته نزدے والے حاصلیږی او بیا دهغوئ نه مدد غوښتل کیږی .

* علامه ازهری رحمه الله فرمائی :

سِحر په اصل کښې دخپل حقیقت نه دیو شی بل شی ته اړولو ته وائی .

* علامه ابن منظور رحمه الله فرمائی :

گویا ساحر چه کله باطل لره په صورت دحق کښې اولیدلو او څیز ئے دخپل حقیقت نه علاوه په بل شکل کښې اوکنړلو نو ده دغه شے دخپل مخ نه واړولو . (تهذیب اللغه : ٤/ ٢٩٠) .

* ابن عائشهؒ فرمائی :

عرب سحر ته سحر ځکه وائی چه دا صحت په مرض سره بدلوی .

(حواله سابقه) .

* ابن فارسؒ فرمائی :

یوے ډلے وئیلی دی چه سحر باطل لره په صورت دحق کښې

Maktaba Tul Ishaat.com

دښكاره كولو نوم دے .

(مقاييس اللغه : س ح ر، ونحوه في المصباح : ٢٦٧، طبع المكتبه العلميه بيروت) .

* المعجم الوسيط كښے دى چه :

سحر هغه شے دے چه دهغے مأخذ او بنياد باريك او دقيق وى .

(المعجم الوسيط : ٤١٩/١، دار الفكر) .

* صاحب دمحيط المحيط وائى چه :

په ښائسته انداز سره د يو شى داسے پيش كول چه خلق حيران كړى ديته سحر وائى .

(محيط المحيط : ٣٩٩، بيروت) .

د سِحر معنى په اصطلاح دشرع كښے :

* امام فخر الدين رازى فرمائى :

سحر په عرف دشرع كښے په هر هغه څيز پورے خاص دے چه دهغے سبب پټ وى اود خپل حقيقت نه علاوه په بل صورت كښے پيش كړے شى .

( المصباح المنير : ٢٦٨، ط بيروت) .

* ابن قدامه مقدسىؒ فرمائى :

سحر هغه غوټے او دمونه او هغه كلام دے چه په هغے باندے خله خوزولے شى اويا ليكلے كيږى اويا داسے يو عمل دے چه دمسحور (جادو كړے شوى) شخص په بدن يا په زړه يا په عقل باندے تاثير اوكړى . او سحر واقعى تاثير لرى، ددے په وجه يو

شخص قتل کیدے هم شی، بیمار کیدے هم شی او دخپلے بی بی سره دجماع کولو نه عاجز کیدے هم شی، اود خاوند او ښځے په مینځ کښے جدا والے هم راوستے شی، اود یو شخص دبل شخص سره په زړه کښے نفرت او محبت هم پیدا کولے شی.

(المغنی: ۱۰٤).

## دسِحر تعریف

سحر دجادوګر او شیطان په مینځ کښے دیوے معاهدے نوم دے چه دهغے په بنیاد باندے جادوګر دشرکی او حرامو کارونو ارتکاب کوی چه دهغے په بدل کښے بیا شیطان دجادګر مدد کوی.

## شیطان ته دساحر د نزدیکت حاصلولو بعضے وسائل او طریقے

* بعضے ساحران قرآن کریم خپلو خپو سره اوتړی او بیت الخلاء ته داخل شی (نعوذ بالله من ذلك)، بعضے داسے وی چه دقرآن کریم آیاتونه په ګندګئ سره لیکی، او بعضے دا آیتونه مبارکه دحیض په وینه لیکی، او ځینے دقرآن کریم آیتونه دقدمونو په لاندے طرف اولیکی او ورباندے اوګرځی، او ځینے سورت الفاتحه الټه لیکی، او ځینے مونځ بے اودسه کوی، او ځینے په جنابت کښے وخت تیروی، او ځینے دالله جل جلاله دنوم نه علاوه دشیطان دپاره ذبح یعنی ښاروے حلالوی اوبیا دغه ذبح شوے ښاروے په داسے ځائے کښے غورځوی کوم چه ورته شیطان خودلے وی.

Maktaba Tul Ishaat.com

(وقاية الانسان، طبع الصحابه : ٤٥).

اوبعضے ستورو سره خبرے کوی اود الله رب العزت نه بغیر ستورو ته سجدے کوی، او بعضے لعنت کړے شوی خپلے مور یا خور سره بدکاری کوی، او بعضے په غیر عربی الفاظو باندے منترونه لیکی چه هغه کفری معنی لری.

نو ددے وجے نه مونږ ته دا خبره ښکاره کیږی چه پیریان د جادوګر مدد نه کوی اونه ورله خدمت کوی مګر په مقابله ددغه کارونو کښے چه مونږ ذکر کړل. او هر کله چه یو ساحر (جادوګر) څومره سخت کافر وی نو شیطان د هغه ښه تابع وی او د هغه دکار په پوره کولو کښے جلتی کوی. اوکله چه ساحر دشیطان دکفریه کارونو په پوره کولو کښے کم والے کوی نو شیطان بیا دساحر خدمت نه کوی او نافرمانی ئے کوی.

نو په دے بنیاد باندے شیطان او ساحر دالله په نافرمانئ کښے ملګری وی. اوکله چه ته دساحر مخ ته اوګورے نو تاته به زما دهغه تولو خبرو صحیح والے ښکاره شی کومے چه ما ذکر کړے. ته به دده په مخ باندے دکفر هغه تیاره اوموے کومه چه دتورے وریځے پشان دده په مخ رازړونده وی. اوته چه کله ساحر ته دنزدے نه اوګورے نو ته به دا محسوسه کړے چه دے دخپلے ښځے اود خپل اولاد سره په ډیره بدبختئ کښے زندګی تیره وی بلکه دخپل ځان دپاره هم بدبخته وی، ځکه چه په آرام سره خوب نشی کولے، خوشحالی ورته حاصله نه وی بلکه اکثر په خوب کښے یریږی او

اکثر شیطانان دده اولاد اودده بنځے ته ضرر رسوی اود دوئ په مینځ کښے اختلاف پیدا کوی.

الله جل جلاله رشتیا فرمائیلی دی:

ومن اعرض عن ذكرى فان له معيشة ضنكا.

[سورت طه: ۱۳٤].

ترجمه: اوڅوك چه زما دذكر نه مخ واړوی نو دده دپاره به تنګه زندګی وی.

* * * * * *

Maktaba Tul Ishaat.com

# دویم فصل

## سحر د قرآن او سنت په رنړا کښې

* دلیلونه په وجود دجناتو او شیطانانو باندې

اول : د قرآن کریم نه دلیلونه

دویم : د سنت نه دلیلونه

* یوه شبهه او دهغې جواب

* دریم : اقوال دعلماؤ

* * *

# دویم فصل

# سِحر د قرآن او سنت په رڼا کښې

## دلیلونه په وجود د جناتو او شیطانانو باندې

دجناتو او سحر ترمینځه ډیر قوی تعلق وی بلکه جنات او شیطانان په سِحر کښې اساسی کاریګر دی.

بعضې خلق دجناتو (پیریانو) دوجود نه انکار کوی نو ددې وجې نه دوئ بیا دسحر د پیدا کیدونه هم انکار کوی، نو اوس زه اول په وجود دجناتو او شیطانانو باندې په اختصار سره قرآنی دلیلونه بیانوم.

* * * * * *

### قرآن کریم نه دلیلونه :

۱ - الله رب العزت فرمائی :

واذ صرفنا اليك نفرا من الجن يستمعون القرآن فلما حضروه قالوا انصتوا فلما قضى ولوا الى قومهم منذرين.

[ سوره الاحقاف : ۲۹ ].

ترجمه : اویاد کړه هغه وخت (اے پیغمبره !) کله چه اوګرځوله مونږ ستا طرفته یوه ډله دپیریانو نه چه غوږئے کیښودلو قرآن

Maktaba Tul Ishaat.com

تـه، نـو کـلـه چـه حاضر شو دوئ (قرآن ته) نو دوئ اووئيل- په مخ میـنـځ کښېـ - چه چپ شئ تاسو (اے پیریانو !) بیا کله چه (دقرآن کـریم تـلاوت) پـوره شـو نـو بیـرتـه خپـل قـوم تـه اوګرځیدل ویره ورکونکی (هغوئ ته دالله د عذاب نه).

۲ – او الله سبحانه وتعالیٰ فرمائی :

یا معشـر الـجن والانس الم یاتکم رسل منکم یقصون علیکم آیاتی وینذرونکم لقاء یومکم هذا.

[ سوره الأنعام : ۱۳۰].

تـرجـمـه : اے ډلے دپیریانو او انسانانو ! آیا نه وو راغلی تاسو ته رسـولان ستـاسو دجنس نه چه لوستل به ئے په تاسو باندے آیتونه زما او ویرولئ به ئے تاسو دملاقات دهغه ورځے ستاسو نه چه داده.

۳ – او الله جل شانه فرمائی :

﴿ یـا مـعشـر الـجـن والانـس ان استـطعتم ان تنفذوا من اقطار السموات والارض فانفذوا لا تنفذون الا بسلطان ﴾.

[ سوره الرحمن : ۳۳ ].

ترجمه : اے ډلے دپیریانو او انسانانو ! که چرے قدرت لرئ تاسو چـه بهر اووځئ (اوتښتـئ) د اطرافو د آسمانونو اود اطرافو د زمکے نـه نـو اووځـئ، خـو اوبـه نه وُځئ مګر په زور او طاقت سره (او زور اوطاقت ستاسو کوم دے ؟).

٤ – او الله رب العزت فرمائی :

﴿ قل اوحی الی انه استمع نفر من الجن فقالوا انا سمعنا قرآنا

عجبا ﴾ .

[ سوره الجن : ۱ ] .

ترجمه : اووايه (اے پيغمبره) ! وحي شوے ده ماته چه بيشکه غوږ کيښود (زما قرأت ته) يوے ډلے دپيريانو نه نو اووئيل دوئ چه بيشکه مونږ واوريدو يو عجيب قرآن .

۵ – او الله جل شانه فرمائي :

﴿ وانه کان رجال من الانس يعوذون برجال من الجن فزادوهم رهقا ﴾ .

[ سوره الجن : ٦ ] .

ترجمه : او بيشکه چه وو ډير سړي دانسانانو نه چه پناه به ئے غوښتله د پيريانو نه نو زياته کړه دغه انسانانو دغه پيريانو لره سرکشي (دوجے دپناه غوښتلو ددوئ د پيريانو نه) .

٦ – او الله تعالیٰ فرمائي :

﴿ انما يريد الشيطان ان يوقع بينكم العداوه والبغضاء في الخمر والميسر ويصدكم عن ذكر الله وعن الصلاه فهل انتم منتهون ﴾ .

[ سوره المائده : ۹۱ ] .

ترجمه : بيشکه غواړي شيطان چه واچوي ستاسو ترمينځه دشمني او بغض په (څکلو) دشرابو کښې او په (کولو) دجوارئ کښې. او واړوي تاسو ديادولو دالله نه اود مانځه نو آيا تاسو (ددے بدو کارونو نه) منع کيدونکي يئ ؟

Maktaba Tul Ishaat.com

۷ – او الله رب العزت فرمائی :

﴿ يا ايها الذين آمنوا لا تتبعوا خطوات الشيطان ومن يتبع خطوات الشيطان فانه يامر بالفحشاء والمنكر ﴾ .

[ سوره النور : ۲۱ ] .

ترجمه : اے ایمان والو ! مه روانیږئ دقدمونو دشیطان پسے او څوك چه روان شی دقدمونو دشیطان پسے نو بیشکه چه دا شیطان حکم کوی په بے حیایئ او نا روا کارونو سره .

دے نه علاوه په قرآن کریم کښے نور هم ډیر آیتونه په دے باره کښں شته دے بلکه دجناتو متعلق پوره یو مستقل سورت موجود دے، دا لا څه کوے چه په پوره قرآن کریم کښے د (جن) کلمه دوه دیرش (۳۲) ځله راغلے ده . او کلمه دجان اووه (۷) ځله راغلے ده اوکلمه دشیطان (٦٠) ځله راغلے ده، او کلمه د (شیاطین) ۱۷ ځله راغلے ده .

## دویم : د سنت نبوی ﷺ نه دلیلونه

۱ – ابن مسعود – رضی الله عنه – نه روایت دے چه مونږ یوه شپه درسول الله ﷺ سره وو، نو رسول الله ﷺ مونږ نه ورك شو . مونږ په کندو او درو کښں درسول الله ﷺ لټول شروع کړل نو مونږ به حپل مینځ کښے اووئیل داسے معلومیږی چه رسول الله ﷺ اوتختولے شو یا قتل کړے شو، زمونږ دا شپه ډیره په

پریشانئ کښې تیره شوه، هرکله چه صبا شو نو مونږ نبي کریم ﷺ اولیدو چه دغار حراء دطرفه راروان دے، ابن مسعودؓ فرمائی : مونږ عرض اوکړو : یا رسول الله ! تاسو بیګاه شپه مونږ نه ورك شوی وئ مونږ ډیر تالاش کړئ خو اومو نه موندئ، مونږ ټوله شپه په پریشانئ کښې تیره کړه . نبي کریم ﷺ اوفرمائیل :

( ماته دجناتو یو داعي راغلے وو زه دهغه سره تلے ووم، ما په هغوئ باندے قرآن اولوستلو ) .

ابن مسعودؓ فرمائي : نبي کریم ﷺ مونږ هغه ځائے ته بوتلو او مونږ ته ئے دهغوئ داور نښې او خودلے، او هغوئ نبي کریم ﷺ نه دخوراك متعلق څه اوغوښتل، نو نبي کریم ﷺ ورته اوفرمائیل : هر هغه هډوکے چه په هغې دالله نوم اخستل شوے وی او ستاسو لاسونو ته راشي نو دغوښې نه به ډکیږی (ستاسو دپاره غذاء ده) او هر خوشائی او پچه ستاسو دځناورو دپاره ګیاه ده .

بیا نبي ﷺ مونږ ته اوفرمائیل : چه تاسو په هډوکی او خوشائی باندے استنجاء مه کوئ (اودس مه اوچوئ) ځکه چه دا ستاسو د پیریانو ورونو خوراك دے .

(رواه مسلم : ٤/١٧٠، نووی) .

۲ - ابو سعید خدری - رضی الله عنه - نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ماته اوفرمائیل : یقینا زه تا ګورم چه ته ګډو بیزو او باندو سره مینه لرے نو چه کله ته خپلو ګډو بیزو او خپله باندو کښې ئے نو په اوچت آواز سره آذان کوه ځکه چه دمؤذن آواز چه

Maktaba Tul Ishaat.com

کوم پیریان، انسانان او (ددوئ نه علاوه) نور څیزونه اوری نو هغه به دده دپاره دقیامت په ورځ ګواهی ورکوی.

(رواه مالك: ٦٨/١، والبخاری: ٣٤٣/٦، فتح. والنسائی: ١٢/٢، وابن ماجه: ٢٣٩/١).

٣ - دابن عباس - رضی الله عنهما - نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د صحابه کرامو رض دیوے ډلے سره لاړو چه دوئ دعکاظ بازار ته تلونکی وو، او په دغه وخت کښے د شیطانانو اود اسمان نه دراتلونکو خبرونو په مینځ کښے حائل (رکاوټ) واقع شوے وو، اود آسمان نه به د اور لمبے رالیګلے شوے نو شیطانان خپل قوم ته خالی راواپس شول، نو قوم ورته اووئیل چه څه دی تاسو لره (چه خالی راواپس شوئ) ؟ دوئ ورته اووئیل: زمونږ اود آسمان دخبرونو ترمینځه حائل (پرده) واقع شوے دے او په مونږ د اور لمبے رالیګلے کیږی، هغوئ ورته اووئیل چه ستاسو اود آسمان دخبرونو ترمینځه حائل نه دے واقع شوے مګر څه نوے شے پیدا شوے دے. د زمکے مشرق او مغرب طرفته لاړ شئ او اوګورئ چه دا څه شے دے چه ستاسو اود آسمان دخبرونو ترمینځه رکاوټ واقع شویدے. نو دوئ دنبی ﷺ په طرف د تهامے په طرف لاړل او نبی ﷺ په نخله مقام کښے وو، اود عکاظ بازار ته دتلو په اراده وو، نبی کریم ﷺ صحابه کرامو رض ته د سَحر مونځ کولو، کله چه دوئ قرآن کریم واوریده نو غوږ ئے ورته کیښودلو نو وے وئیل چه په الله تعالی دے زمونږ قسم وی دا هغه شے دے چه مونږ ئے د آسمان د خبرونو

داوریدو نه منع کړی یو، نو د همدغې ... خپل قوم ته راواپس شول، او خپل قوم ته ئې اووئیل چه ... زمونږ قومه ! مونږ یو عجیب قرآن واوریده چه هدایت کوی نیغې لارې طرفته نو مونږ ایمان راوړو په هغې باندې او مونږ هرګز دالله تعالی سره هیڅوك نه شریکوو، بیا الله جل شانه په خپل نبی ﷺ باندې دا سورت نازل کړو چه :

﴿ قل اوحی الی انه استمع نفر من الجن ﴾ .

او نبی کریم ﷺ ته دجناتو ددغې قول وحی اوشوه .

(رواه البخاری : ۵۲/۲، فتح . ومسلم : ۱٦٨/٤، نووی، دا الفاظ د بخاری دی) .

٤ - دعائشې رضی الله عنها نه روایت دې چه نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی : ملائك د نور نه پیدا شوی دی او جنات داور نه پیدا شوی دی، او آدم (علیه السلام) دهغه شی نه پیدا شوې دې دکوم ذکر چه تاسو ته شوې (یعنی د خاورې نه) .

(رواه احمد : ۱٦٨/٦، ۱۵۳، ومسلم : ۱۲۳/۱٨، نووی) .

۵ - د صفیه بنت حُیَی - رضی الله عنها - نه روایت دې چه نبی ﷺ فرمائیلی دی : شیطان دانسان په بدن کښې د وینې پشان ګرځی راګرځی .

(رواه البخاری : ۱٨۲/٤، فتح، ومسلم : ۱۵۵/۱٤، نووی) .

٦ - د عبد الله بن عمر - رضی الله عنهما - نه روایت دې چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی :

Maktaba Tul Ishaat.com

کله چه یو تن پتاسو کښې خوراك كوى نو په ښى لاس دے خوراك كوى، اوكله چه څكل كوى نو په ښى لاس دے څكل كوى، ځكه چه شيطان په ګس لاس خوراك (څكاك) كوى.

(رواه مسلم: ١٩١/١٣، نووی).

٧ - دابو هريره - رضى الله عنه - نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى:

نشته هيڅ يو ماشوم چه پيدا كيږى مګر شيطان په هغه باندے سكوندۍ لګوى نو ماشوم دشيطان دسكوندۍ دوجے نه چغه كړى، مګر ددے سكوندۍ نه (عيسى) ابن مريم - عليه السلام- اوذ هغه مور - بى بى مريم - بچ شوى دى.

(رواه البخارى: ٢١٢/٨، فتح. ومسلم: ١٢٠/١٥، نووی).

٨ - د عبد الله بن مسعود - رضى الله عنه - نه روايت دے چه د رسول الله ﷺ په مخكښے ديو سړى ذكر اوشو چه هغه تول شپه تر سَحره پورے اوده وى - يعنى تهجد نه كوى - نبى ﷺ اوفرمائيل: د دغه سړى په غوږونو كښے شيطان متيازے كړى.

(رواه البخارى: ٢٨/٣، فتح. ومسلم: ٦٤/٦، نووی).

٩ - دابو قتاده - رضى الله عنه - نه روايت دے چه نبى ﷺ فرمائيلى دى:

نيك اوښه خوبونه دالله تعالى له طرفه دى، او ګډوډ خوبونه د شيطان له طرفه دى. نو چا چه داسے يو شے په خوب كښے اوليدلو

چه بدئے ګنړی نوکس طرفته دے درے ځله توکانړے اوتوکی او اعوذ بالله دے اووائی، نو دا خوب به ده ته ضرر نه رسوی.

(رواه البخاری : ۲۸۳، فتح. ومسلم : ۱٦/۱٥، نووی).

۱۰ – دابو سعید خدری – رضی الله عنه – نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی :

کله چه په تاسو کښے څوك ارګمے کوی نو خپله خله دے په خپل لاس سره بنده کړی ځکه چه شیطان په خله کښے داخلیږی.

(رواه مسلم : ۱۲۲/۱۸، نووی، والدارمی : ۳۲۱/۱).

په دے باب کښے احادیث ډیر زیات دی، خو دحق طلب ګار دپاره همد دومره کافی دی.

ددے ځائے نه مونږ ته واضح طور سره دجناتو حقیقت معلوم شو چه دجناتو وجود هسے وَهم نه دے بلکه دا صحیح حقیقت دے او کوم شخص چه دا وهم ګنړی هغه ضدی او متکبر اود الله تعالی د هدایت نه بغیر دخپل خواهش پسے روان دے.

(څوك چه ددے موضوع زیات وضاحت غواړی هغه دے دمؤلف کتاب – وقاية الانسان من الجن والشيطان – ته رجوع اوکړی).

* * * * * *

Maktaba Tul Ishaat.com

# دلیلونه په وجود دسِحر باندې

## * اول : دلیلونه دقرآن کریم نه :

۱ - الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ واتبعوا ما تتلوا الشياطين على ملك سليمان وما كفر سليمان ولكن الشياطين كفروا يعلمون الناس السحر وما انزل على الملكين ببابل هاروت وماروت وما يعلمان من احد حتى يقولا انما نحن فتنه فلا تكفر فيتعلمون منهما ما يفرقون به بين المرء وزوجه وما هم بضارين به من احد الا باذن الله ويتعلمون ما يضرهم ولا ينفعهم ولقد علموا لمن اشتراه ما له فى الآخرة من خلاق ولبئس ما شروا به انفسهم لو كانوا يعلمون ﴾ .

[ سوره البقره ، آیت : ۱۰۲ ] .

ترجمه : او روان شو (یهودیان) دهغه څه پسے چه لوستلو به شیطانانو (پیریانو) په (زمانه) دبادشاهئ دسلیمان (علیه السلام) کښے او کفر [illegible] کړے سلیمان (په حلال ګڼړلو د سِحر سره) لیکن شیطانانو کفر کړے وو [illegible] ښودلو به ئے خلقو ته سِحر او (روان شو) دهغه څیز پسے چه نازل کړے شوے وو په [illegible] ملائکو باندے په (ښار د) بابل کښے (چه دیو نوم) هاروت او (دبل نوم) ماروت [illegible] [illegible] به خودلو [illegible]

[illegible]

کولو د سِحر چه د عمل په جواز ئے عقیده لرے) نو زده کولو به هغوئ له دوئ دواړو نه هغه شے چه جدا والے به ئے راوستو په هغے سره په مینځ دخاوند اود ښځے د هغه کښے، او نه وو دوئ ضرر رسونکی په دغه سِحر سره هیچا ته مګر په حکم دالله سره، او زده کوی دوئ هغه څه چه ضرر رسوی دوئ ته او نفع نه رسوی دوئ ته، او خامخا په تحقیق سره پو هیدل دوئ چه خامخا هغه څوك چه اخلی (زده کړی) دے سِحر لره نشته ده لره په آخرت کښے څه برخه (دنیکئ) او خامخا ډیر بد دے هغه شے چه اخستے دے دوئ په هغه شی سره (حصه) دځانونو خپلو که چرے دوئ پو هیدلے (په بد انجام د سِحر نو نه به ئے زده کولو).

۲ - ﴿ قال موسی اتقولون للحق لما جائکم اسحر هذا ولا یفلح الساحرون ﴾.

[ سوره یونس، آیت : ۷۷].

ترجمه : اووئیل موسی (علیه السلام) آیا وائے تاسو حق (معجزے) ته کله چه راغله تاسو ته (چه دا معجزه نه ده سحر دے) آیا سِحر دے دا؟ حال دا چه ساحران کامیابی نه مومی

۳ - ﴿ فلما القوا قال موسی ما جئتم به السحر ان الله سیبطله ان الله لا یصلح عمل المفسدین، ویحق الله الحق بکلماته ولو کره المجرمون ﴾.

[ سوره یونس، آیت : ۸۱، ۸۲].

[illegible]

Maktaba Tul Ishaat.com

نـو اووئيل موسى (عليه السلام) هغه څه چه راتلل كړى دى تاسو پـه هغې سره هغه سِحر دے بيشكه چه الله تعالى زر ختموى دغه (سِحر) يقينـا چه الله تعالى نه جوړوى كار د فساد كونكو، او ثابتوى الله تعالى حق لره په كلماتو خپلو سره اګركه بد ئے ګنړى مجرمان.

٤ - ﴿ فأوجس فى نفسه خيفة موسى، قلنا لا تخف انك انت الأعلى، وألق ما فى يمينك تلقف ما صنعوا انما صنعوا كيد ساحر ولا يفلح الساحر حيث أتى ﴾.

[ سوره طه : آيت : ٦٧- ٦٩].

ترجمه : پس محسوسه كړه موسى (عليه السلام) ويره په خپل نفس كنبے، نو مونږ اووئيل موسىٰ ته : مه يريږه بيشكه چه همدا ته ئے غالب، او اوغورځوه هغه شے چه ستا په ښى لاس كنبے دے چه تير كړى هغه څيزونه چه دوئ جوړ كړى دى بيشكه هغه شے چه دوئ جوړ كړے دے هغه خو مكر دساحر دے او كاميابى نه مومى ساحر هر چرته چه راشى.

٥ - ﴿ وأوحينا الى موسى ان الق عصاك فاذا هى تلقف ما يأفكون، فوقع الحق وبطل ما كانوا يعملون، فغلبوا هنالك وانقلبوا صاغرين، والقى السحرة ساجدين، قالوا آمنا برب العالمين، رب موسى وهارون ﴾.

[ سوره الأعراف، آيت : ١١٧- ١٢٢].

ترجمه : اوحكم اوكړو مونږ موسى (عليه السلام) ته چه

اوغورځوه ته همسا خپله (نو کله چه هغه همسا اوغورځوله او بناړمار ترې جوړ شو) پس ناګهانه دغه همسا خوړے تيرول هغه څيزونه چه دوئ (په سِحر سره) جوړ کړي وو، نو ثابت شو حق او بيکاره شو هغه څه چه دوئ به کول، نو مغلوب شول دا ساحران په دغه ځائے کښے او اوګرځيدل دوئ خوار ذليل، او اوغورځول شو ساحران په داسے حال کښے چه دوئ سجده کونکی وو، اووئيل ساحرانو : موندړ ايمان راوړيدے په رب العالمين باندے چه رب دموسى او هارون (عليهما السلام) دے.

٦ - ﴿قل أعوذ برب الفلق ، من شر ما خلق، ومن شر غاسق اذا وقب، ومن شر النفاثات فى العقد، ومن شر حاسد اذا حسد﴾ .

[ سوره الفلق ] .

ترجمه : اووايه : (اے پيغمبره!) پناه غواړم په رب دصبا څيرونکی دتيارے باندے، دشر دهغه شی نه چه پيدا کړے ئے دے (دضرري څيزونو نه) اود شر دتيارے شپے نه کله چه راخوره شی (او هر شے پټ کړی) اود شر دهغه جادوګرو ښځو نه چه پوکے کوی په غوټو کښے، اود شر دحسد کونکی نه کله چه خپل حسد ښکاره کړی.

* علامه قرطبی رحمه الله د ﴿ومن شر النفاثات فى العقد﴾ په تفسير کښے فرمائی : چه پناه غواړم د شر دهغه ساحرو ښځو نه چه پوکے کوی په غوټو دتارونو کښے (هغه جادوګری ښځے کومے چه پوکے کوی په تارونو دغوټو کښے په وخت ددمونو کښے).

Maktaba Tul Ishaat.com

(تفسیر قرطبی : ۲۵۷/۲۰) .

* حافظ ابن کثیر رحمه الله ددے په تفسیر کښې فرمائی :
مجاهد، عکرمه، حسن، قتاده او ضحاك - رحمهم الله - ددے نه مراد جادو گرے ښځے اخستی دی .
(تفسیر ابن کثیر : ٤/٥٧٣) .

* اودا خبره ابن جریر طبری رحمه الله هم کړیده .
ار قاسمی رحمه الله وائی : چه مفسرینو هم دا موقف اختیار کړے دے . (تفسیر قاسمی : ۳۰۲/۱۰) .
د سادو او جادو گر متعلق نور هم ډیر آیتونه موجود او مشهور دی . ار څوك چه داسلام په باره کښې لږ معلومات هم لری نو هغه ترینه خبر دے .

## دویم : دلیلونه د سنت نبویه ﷺ نه :

۱ - عائشه - رضی الله عنها - فرمائی :
د بنی زُریق قبیلے یو سړی په نبی ﷺ جادو کړے وو چه د هغه نوم لبید بن اعصم وو، او د جادو اثر تر دے اندازے پورے وو چه نبی ﷺ ته به دیو کار په باره کښے په خیال کښے داسے راتله چه ما داکار کړے دے حال دا چه هغه کار به ئے نه وو کړے، تردے پورے چه یو ځل نبی ﷺ ما سره وو، لیکن بار بار ئے دعاګانے اوکړے بیا ئے اوفرمائیل : اے عائشے ناته پته ده چه الله جل شانه زما دعا قبوله کړه ماته دوه سړی راغلل یو سړے مے سر طرفته کیناستو او بل

مے خپو طرفته، يو بل ته وائی چه ددے سړی څه مرض دے ؟ هغه بل ورته اووئيل : په ده جادو شوے دے، ده ورته اووئيل : چا کړے دے ؟ هغه بل ورته اووئيل : لبيد بن اعصم، ده ورته اووئيل چه دا جادو په څه شی کښے دے ؟ هغه ورته اووئيل : ګومنځ او په ګومنځ شوی ويښتو کښے اود مُذکرِے کهجورے دغنچے په پرده کښے دے، ده ورته اووئيل چه دا چرته دے ؟ هغه ورته اووئيل : په ذروان کوهی کښے دے.

دے نه پس نبی ﷺ ديو څو صحابه کرامو ؓ سره هغه کوهی ته لاړو (او بيا واپس راغے) او وے فرمائيل : اے عائشه ! دهغه کوهی اوبه داسے وے لکه دنکريزو اوبه (يعنے سرے وے) او دهغے کهجورو سرونه داسے وو لکه دشيطانانو سرونه (يعنی انتهائی بد شکله وو).

عائشه - رضی الله عنها - فرمائی چه ما ورته عرض اوکړ : اے دالله رسوله ! تاسو هغه جادو دکوهی نه را اونه ويستو ؟ نبی ﷺ اوفرمائيل : الله - تعالی - زه جوړ کړم او زه نه غواړم چه خلق په شر او فتنه کښے مبتلا کړم. ددے نه پس نبی ﷺ دهغے دراويستو حکم اوکړو او بيا هغه زمکه [illegible] کړے شو

(رواه البخاری : ١٠/٢٢٣، فتح. ومسلم نووی : ١٤/١٧٤ كتاب السلام باب السحر).

[illegible] مطلب :

[illegible] لبيد [illegible] چه په [illegible] دياتو

کښې لوئے جادو کړوو په دے خبره متفق شو چه مونږ به تاته درے دیناره درکړو اوته به په نبی کریم ﷺ باندے سحر - جادو - اوکړے. دے بدبخته فورا دسحر په دغه عمل باندے شروع اوکړه او دغه سحرئے دنبی کریم ﷺ په ویښتو باندے اوکړو، وئیل کیږی چه ده دا ویښته دیوے ماشومے جینئ نه حاصل کړے وو کومه چه به دنبی کریم ﷺ کوتو ته تله راتله دهغے نه ئے دنبی کریم ﷺ څه ویښته حاصل کړل او په هغے ئے جادو اوکړو او هغه جادوئے بیا ذروان نومے کوهی کښے واچولو.

ددے حدیث شریف دټولو طرقو نه دا معلومیږی چه دا سِحر دهغه اقسامو د سحر نه وو کوم باندے چه سړے دخپلے ښځے نه بندیږی. نبی کریم ﷺ به دا خیال کولو چه دے خپلے یوے بی بی ته دنزدے کیدو طاقت لری، لیکن چه کله به ئے دنزدے کیدو اراده اوکړه نو بیا به ئے طاقت نه لرو.

دے سِحر د نبی کریم ﷺ په عقل او تصرفاتو باندے هیڅ اثر نه وو کړے، سیوا ددغه اثر نه کوم چه ذکر شو.

ددے جادو په موده کښے دعلماؤ اختلاف دے، بعضے وائی چه دا څلویښت ورځے وو، او ځینے نوره موده بیانوی. الله تعالیٰ ته معلومه ده چه دا څومره موده وو.

بیا نبی کریم ﷺ داللہ تعالی نه بار بار دعاګانے اوغوښتے، الله تعالیٰ د نبی کریم ﷺ دعاء قبوله کړه اودوه ملائک ئے نبی کریم ﷺ ته راؤلیږل چه دهغوئ په مینځ کښے هغه خبرے اترے

اوشوے کومے چه مخکښے بیان شوے. ددے نه نبی کریم ﷺ ته معلومه شوه چه جادو چا کړے دے او په څه شی کښے دے او دے وخت کښے کوم ځائے کښے دے.

په نبی کریم ﷺ باندے چه کوم جادو شوے وو یقینا چه دا انتهائی سخت جادو وو او په دے سره یهودیانو غوښتل چه نبی کریم ﷺ قتل کړی لیکن الله - جل شانه - نبی کریم ﷺ بچ کړو او هغه صرف دومره قدرے اثر اوکړو کوم چه وړاندے ذکر شو.

یوه شبهه اود هغے جواب:

مازری - رحمه الله - وائی: مبتدعین ددے حدیث نه انکار کوی او وائی چه په دے سره د نبوت په منصب کښں نقص او کم والے راځی او په نبوت کښے شك پیدا کیږی، اوکه دا اومنل شی نو په دے سره د شریعت نه اعتماد پورته کیږی، ځکه چه کیدے شی چه په دغه وخت کښے به دنبی کریم ﷺ دا خیال راغلے وی چه ماته جبرئیل راغلے دے او حال دا چه هغه به نه وو راغلے، اودا چه ده ورته وحی راوړے ده حال دا چه هغه به وحی نه وی راوړی.

★ دے فرمائی چه د دوئ دا خبره بیخی غلطه ده، ځکه چه معجزاتِ نبویه ددے خبرے خبر ورکوی چه نبی کریم ﷺ د وحی د تبلیغ په سلسله کښے بالکل معصوم او ریښتنے دے. د نبی کریم ﷺ عصمت چه دمعجزو پشان په قوی دلائلو سره یو ثابت شوے حقیقت دے نو ددے خلاف چه کومه خبره وی هغه به بے ځایه او باطله گنړل کیږی.

Maktaba Tul Ishaat.com

(زاد المسلم: ٤/٢٢١).

★ ابو الحنكي يوسفي – رحمه الله – فرمائي: په نبي ﷺ باندې چې دجادو په وجه کوم مرض راغلې وو نو دا د نبي کريم ﷺ په منصب کښې څه خلل نه پيدا کوي ځکه هغه مرض چې هغه معيوب نه وي هغه په انبياؤ – عليهم السلام – باندې واقع کيږي اود دوئ د آخرت په درجو کښې زياتوالې راولي. نو په دغه وخت کښې چې نبي ﷺ ته په خيال کښې ديو دنياوي کار کول د سِحر په وجه سره راتلل چې هغه به ئې نه وو کړې، او بيا مکمل دغه مرض دالله تعالىٰ داطلاع په وجه ختم شو، او بيا د نبي ﷺ هغه سِحر دخپل ځائې نه راويستل او دهغې دفن کول دا د نبي ﷺ په رسالت کښې څه نقص نه راولي ځکه چې دا خو عامو مرضونو پشان يو مرض دې. اودې سِحر دنبي ﷺ په عقل باندې څه اثر نه وو کړې، بلکه دا د نبي ﷺ په ظاهري جسد مبارك پورې خاص وو، لکه مثلا ليدل دنبي ﷺ په دې حيثيت سره چې د نبي کريم ﷺ په خيال کښې به کله ديو کار کول راغلل چې هغه ملاؤ شوې وو دخپلو بعضو بيبيانو سره حال دا چې هغه به ده نه وو کړې، نو داسې کارونه په حالت دمرض کښې نبوت او رسالت ته څه نقصان او ضرر نه رسوي.

دې وائي: په هغه خلقو تعجب دې چې دجادو دوچې نه دنبي کريم ﷺ دغه مرض د نبي ﷺ په رسالت کښې عيب ګڼړي، سره ددې نه چې په قرآن کريم کښې ښکاره د موسىٰ عليه السلام اود

فرعون د ساحرانو قیصه ذکر ده، چه موسیٰ علیه السلام ته به په خیال کښې دا راتله چه د ساحرانو همساګانې منډې وهي نو الله جل شانه موسی علیه السلام لره ثابت قدمي ورکړه لکه چه الله فرمائی:

﴿ قلنا لا تخف انك انت الأعلى، والق ما في يمينك تلقف ما صنعوا انما صنعوا كيد ساحر ولا يفلح الساحر حيث اتى، فالقى السحرة سجدا قالوا آمنا برب هارون وموسى ﴾.

په اهل علمو کښې هیچا هم دا نه دی وئیلی چه دموسی – علیه السلام – په خیال کښې چه دساحرانو دهمساګانو کومې منډې معلومیدې دا دموسی علیه السلام په رسالت کښې عیب دې! بلکه په انبیاؤ باندې دداسې کارونو واقع کیدل ددوئ په ایمان کښې زیاتوالې راولی، اوددې وجې نه هم چه دوئ ته الله تعالیٰ په دشمنانو باندې فتح ورکوی. خلاف عادت کارونه په معجزو سره صادروی، ساحران او کافران ذلیله کوی، او بهترین انجام دمتقیانو خلقو دپاره ګرځوی، لکه څنګه چه په تیر شوو آیتونو مبارکو کښې ظاهره ده.

(زاد المسلم: ٤/٢٢).

٢ – ابو هریره – رضی الله عنه – دنبی کریم ﷺ نه روایت کوی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی:

تاسو ځان بچ اوساتئ د هغه اووه (٧) تباه کوونکو څیزونو نه.

صحابه کرامو عرض اوکړو: اې دالله رسوله! هغه اووه تباه

Maktaba Tul Ishaat.com

کوونکي خیزونه کوم کوم دي ؟ نبي ﷺ اوفرمائیل : دالله سره شرك کول، سِحر (جادو) کول، هغه نفس قتلول دکوم قتلول چه الله حرام کړی دي مګر په حقې طریقې سره، سود خوړل، دیتیم مال خوړل، دجنګ په ورځ شاګرځول ( په جهاد کښې تختیدل) او په پاکو پاك دامنو مؤمنو ناخبره ښځو باندے د زنا تور لګول.

(بخاری : ٣٩٣/٥، ومسلم : ٨٣/٢).

په دے حدیث مبارك کښې نبي کریم ﷺ مونږ ته د سِحر نه په ځان ساتلو باندے حکم کړے دے او دائے هم بیان کړی دي چه سِحر دلویو تباه کونکو ګناهونو نه یوه ګناه ده، نودا په دے دلیل دے چه سِحریو داسے شے دے چه حقیقت لری.

٣ - ابن عباس - رضی الله عنه - نه روایت دے چه نبي کریم ﷺ فرمائیلی دي :

چاچه علم نجوم زده کړو نو ده د سِحر یوه حصه زده کړه څومره ئے چه زیاتوالے کړے وی په علم نجوم کښې دومره ئے زیاتوالے کړے دے په علمِ سحر کښې.

(ابوداود، حدیث : ٣٩٠٥، وابن ماجه :٣٧٢٦، ،فی صحیح ابن ماجه : ٣٠٥/٢، حدیث : ٣٠٠٢).

په دے حدیث کښې نبي کریم ﷺ هغه لار واضح کړیده چه هغه انسان لره دسِحر زده کولو ته رسوی، دے دپاره چه مسلمانان ترے ځان بچ اوساتی . اودا په دے خبره هم دلیل دے چه سِحریو داسے علم دے چه حقیقت لری او زده کیږی (هسے وهم نه دے).

او په دے خبره دا قول دالله جل شان، هم دلالت كوى :

﴿ فيتعلمونَ منهما ما يفرقون به بين المرء وزوجه ﴾

ترجمه : پس دوئ به زده كولو ددے دواړو ملائكو نه هغه شے چه د هغے په ذريعه سره به دوئ د خاوند او دهغه دښځے ترمينځه جدائى راوستله.

ددے نه دا واضحه شوه چه سِحر دنورو علمونو پشان يو علم دے چه ددے دپاره خپل اصول دى چه دا په هغے باندے ولاړ دے، اودغه آيت مبارك او حديث شريف ددے په بدئ كښے راغلى دى.

٤ - دعمران بن حصين - رضى الله عنه - نه روايت دے چه نبى كريم ﷺ فرمائيلى دى : هغه څوك زمونږ دډلے نه نه دے چا چه بدفالى اونيوله يا دده دپاره بل چا بدفالى اونيوله، يا چا كهانت اوكړو يا بل چا دده دپاره كهانت اوكړو، يا چا سِحر اوكړو يا بل چا دده دپاره سِحر اوكړو، او څوك چه كاهن (ترويتى) ته راغے اود هغه خبرے ئے رشتينے اوګڼړلے نو په تحقيق سره ده كفر اوكړو په هغه څه باندے كوم چه په محمد ﷺ باندے نازل شوى دى.

(مجمع الزوائد : ٢٠/٥، الترغيب للمنذرى : ٥٢/٤، شيخ البانى په تخريج الحلال والحرام كښے وئيلى دى چه دا حديث دحسن لغيره درجے ته رسيږى).

په دے حديث مبارك كښے نبى كريم ﷺ د سِحر كولو او ساحر ته د تللو نه منع فرمائيلے ده، او نبى كريم ﷺ د هغه شى نه منع فرمائى چه هغه موجود وى او حقيقت لرى.

Maktaba Tul Ishaat.com

٥ – دابو موسى اشعري – رضي الله عنه – نه روايت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلي دے :

نه به داخليږي جنت ته هغه كس چه هميشه شراب څكي او نه هغه كس چه ايمان لري په سِحر باندے (چه دا عقيده لري چه سِحر بالذات بغير داراده دالله نه تاثير كوي)، او هغه تن چه خپلولي پريكوي .

(رواه ابن حبان وقال الألباني في تخريج الحلال والحرام برقم :١٩٢ : للحديث شواهد من حديث أبي سعيد يرتقي به الى درجة الحسن) .

په دے حديث مبارك نبي كريم ﷺ ددے نه منع فرمائيلي ده چه يو سړے دا عقيده اولري چه سِحر او جادو پخپله تاثير كوي، بلكه په مؤمن مسلمان باندے دا لازم دي چه دا عقيده اولري چه هيڅ يو شے كه هغه سحر وي اوكه بل شے وي دالله تعالى داراده نه بغير هيڅ تاثير نشي كولے .

٦ – ابن مسعود – رضي الله عنه – فرمائي :

څوك چه نجومي ته يا ساحر او يا كاهن ته ورغے اود هغه نه ئے تپوس اوكړو او بيا ئے دهغه دخبرے تصديق اوكړو نو دے كافر شو په هغه څه باندے چه په محمد ﷺ باندے نازل شوے دے .

(الترغيب للمنذري : ٥٣/٤) .

* * * * * *

## دریم : اقوال دعلمائے کرامو :

۱ – امام خطابی – رحمه الله – فرمائی :

هغـه خلق چه هغوئ ته اصحاب الطبائع وئیل کیږی د سِحر نـه ئے انکار کړے دے اوددے حقیقت ئے بالکل باطل کړے دے، لیکن ددے جواب دادے چه سِحر یو ثابت شے دے او حقیقت لری اوددے په ثبوت باندے اکثر خلق دعربو اود فارس اود هندوستان اوبعض خلق دروم قائل دی اوددے په اثبات باندے متفق دی، اودا قومونه د زمکے په اوسیدونکو کښے افضل قومونه دی اوعلم او پوهه هم دوئ سره ده، او الله تعالیٰ هم فرمائی :

﴿ یعلمون الناس السحر ﴾

یعنی : دے شیطانانو به خلقو ته سِحر خودلو.

اودغـه شان الله جل شانه د سِحر نه په پناه غوښتلو سره حکم کړے دے. الله رب العزت فرمائی :

﴿ ومن شر النفاثات فی العقد ﴾ .

ترجمه : او پناه غواړم دشر دهغه ښځو نه چه پوکی کوونکی دی په غوټو کښے.

او په دے باره کښے د نبی کریم ﷺ نه هم ډیر احادیث او اخبار نقل دی چه دهغے نه هیڅ انکار نشی کیدے.

۲ – امام قرطبی – رحمه الله – فرمائی :

داهل سنت والجماعت مذهب دادے چه سِحر یو ثابت شے دے

Maktaba Tul Ishaat.com

او حقيقت لري، او عام معتزله اود شوافعو نه ابو اسحق الاسترابای مذهب دادے چه سِحر څه حقيقت نه لري او وائي چه دا صرف تخييل او وهم دے او کيدل ديو شئ دی بغير دحقيقت خپل نه اودا دلاس دصفائي اود مداريتوب يو قسم دے لکه چه الله تعالی فرمائي :

﴿ يخيل اليه من سحرهم انها تسعىٰ ﴾ .

يعني موسی – عليه السلام – ته په خيال کښے داسے راغله چه جادوگرو کومے همساگانے او پړی غورځولی دی هغه منډے وهی . او الله رب العزت داسے نه دی وئيلی چه په حقيقت کښے دغه همساگانو منډے وهلے بلکه وئيلی ئے دی چه ﴿ يخيل اليه﴾ يعني موسی – عليه السلام – ته په خيال کښے داسے راغله .

اودغه شان الله تعالیٰ فرمائيلی دی :

﴿ سحروا اعين الناس ﴾ .

ترجمه : جادوئے اوکړو په سترگو دخلقو باندے .

بيا امام قرطبي – رحمه الله – ددے په جواب کښے فرمائي : چه په دے آيتونو کښے دمعتزلو دپاره څه دليل نشته، ځکه چه مونږ ددے نه انکار نه کوو چه تخييل وغيره دے د سِحر دجملے نه نه وی، ليکن ددے نه علاوه دنورو عقلي او نقلي دليلونو نه هم دجادو موجوديدل ثابتيږی .

لکه دهغے نه يو دادے چه په دے مذکوره آيتونو کښے دسِحر اود سِحر دتعليم ذکر راغلے دے . نو که چرے دسِحر حقيقت نه وے

نو بيا به دسحر تعليم حاصلول هم ممكن نه وو، اونه به الله تعالىٰ داسے فرمائيلے چه :

﴿ يعلمون الناس السحر ﴾

(يعنے دوئ به خلقو ته سحر خودلو) بلكه دا په دے دلالت كوى چه سِحر حقيقت لرى اويو ثابت شے دے.

دغه شان دا قول دالله تعالىٰ په قيصه د ساحرانو دفرعون كښے چه : ﴿ وجاؤا بسحرعظيم ﴾

(او راتلل اوكړل دوئ په لوئے سحر باندے).

سره ددے نه چه دمفسرينو په دے اتفاق دے چه سبب د نزول دسورت الفلق جادو دلبيد بن اعصم دے كوم چه په بخارى او مسلم وغيره كښے دعائشے – رضى الله عنها – نه روايت دے چه رسول الله ﷺ باندے ديهودو د بنى زُريق قبيلے يو يهودى چه لبيد بن اعصم نومئے وو سحر كړے وو – الحديث.

او په دے حديث كښے دا هم دى چه كله دنبى كريم ﷺ نه سِحر لرے شو نو وے فرمائيل :

ان الله شفانى

يعنى الله تعالىٰ ماته شفاء راكړه.

او شِفا هغه وخت راځى كله چه علت او مرض زائله شى نو دا په دے دلالت كوى چه سِحر ثبوت او حقيقت لرى، او نور دلائل هم دسِحر په وجود او وقوع باندے موجود دى دكومو چه الله رب العزت او رسول الله ﷺ خبر وركړے دے، او اهل الحل والعقد –

Maktaba Tul Ishaat.com

مجتهدین - کومو سره چه اجماع منعقد کیږی هغوئ هم په هم دے عقیده دی. نو ددوئ ددے اتفاق په مقابله کښے خس وخشاك معتزلو له هیڅ اعتبار نشته ولے چه دوئ مخالف دی داهل حقو نه.

بیا فرمائی: سِحر په مخکنی دور کښے ډیر زیات خور وو اوخلقو ددے په باره کښے خبرے کړی، اود صحابه کرامو او تابعینو نه هم ددے په باره کښے هیڅ انکار نه دے ثابت.

(تفسیر القرطبی: ۴/۲).

۳ - امام مازری - رحمه الله - فرمائی:

سِحر یو ثابت شے دے اود نورو څیزونو پشان یو حقیقت لری اوددے دپاره اثر وی په مسحور شخص کښے، اود بعض خلقو دا دعویٰ بیخی غلطه ده چه جادو څه حقیقت نه لری بلکه صرف وهم او گمان دے، ځکه چه الله رب العزت په قرآن کریم کښے ددے خبرے ذکر کړے دے چه جادو دهغه څیزونو نه دے چه دهغے علم باقاعده طور سره خودلے کیږی اودا هغه شے دے چه سړے وربانده کافر کیږی، اود ښځے او خاوند ترمینځه جدا والے راولی، حال دا چه دا ټولے خبرے دهغه شی په باره کښے کیدے شی چه کوم شے حقیقت لری او په نبی ﷺ باندے دجادو دکیدو په باره کښے چه کوم حدیث مبارك دے په هغے کښے ذکر شوی دی چه څه څیزونه دفن کړے شوی وو او بیا هغه را ویستلے شو نو آیا دا ټول دجادو په حقیقت باندے دلالت نه کوی؟

اودا خبره د عقل په لحاظ څه بعیده نه ده چه په باطل سره بنائسته شوي کلام دخبرو په وخت کښې يا څه څیزونه په خپل مینځ کښې دملاويدو په وخت يا دڅه طاقتونو د يوځائې کيدو په وخت کښې په هغه طريقې سره کومه چه جادوګرو ته معلومه وی چه الله تعالیٰ دهغې په سبب سره يو خلاف عادت کار واقع کړی.

اودا خبره دهر چا په مشاهده کښې موجوده ده چه بعضې څيزونه دانسان دمرګ سبب جوړيږی، مثلاً زهر وغيره، او بعضې څيزونه دانسان دصحت سبب ګرځی لکه هغه داروګان چه دمرض دختمولو دپاره وی، نوداسې څيزونو دمشاهدې کولو والا سړی دا خبره هم عقلاً بعيده نه ګڼړی چه ساحر ته دې دبعضې داسې څيزونو علم وی چه هغه دانسان دمرګ سبب ګرځی او ياورته دداسې کلام علم وی چه هغه هلاکونکې ثابتيږی، يا دښځې اوخاوند په مينځ کښې جدائی راولی.

۴ – امام نووی رحمه الله فرمائی:

صحيح خبره داده چه د سِحر حقيقت شته او جمهور علماء هم په دې خبره يقين کړې دې او عام علماء هم په دې طرف دی. او قرآن کريم او احاديث مشهوره هم په دې دلالت کوی.

(فتح الباری: ۱۰/۲۲۲).

۵ – ابن قدامه رحمه الله فرمائی:

د سِحر دپاره حقيقت شته دې، بعضې سِحر داسې وی چه هغې سره قتل واقع کيږی او بعضې داسې وی چه هغې سره مرض واقع

Maktaba Tul Ishaat.com

کیږی او ځینے داسے وی چه هغے سره سړے د خپلے بی بی سره دکوروالی کولو نه بندیږی او ځینے داسے وی چه هغے سره د ښځے او خاوند ترمینځه جداوالے راځی.

بیا فرمائی: خاوند د خپلے ښځے نه بندول دا خبره خو دخلقو په مینځ کښے ډیره مشهوره ده چه کله یو سړے نکاح اوکړی نو بیا ددغه قسم جادو دوجے نه دغه سړے په دے قادر نه وی چه دخپلے ښځے سره کوروالے اوکړی، اوچه کله دده تړل خلاص شی نو بیا قدرت لری چه کوروالے اوکړی.

اودا داسے متواترے خبرے دی چه چه ددے نه انکار نشی کیدے، او په دے سلسله کښے دجادوګرو قیصے دومره زیاتے مشهورے دی چه دهغے دروغ ګنړل امکان نه لری.

(المغنی: ١٠٦/١٠).

ده په کتاب (الکافی) کښے فرمائیلی دی چه سِحر: منترونه، دمونه او غوټی دی چه دانسان په زړه او په بدن باندے تاثیر کوی، په دے کښے بعض داسے سِحر وی چه مرض پیدا کوی او بعضے وژل کوی او بعضے جدا والے راولی دښځے اود خاوند ترمینځه. الله رب العزت فرمائی:

﴿ فیتعلمون منهما ما یفرقون به بین المرء وزوجه ﴾.

یعنی: دوئ به زده کولو ددے دواړو ملائکو نه هغه شے چه هغے سره به دوئ دخاوند او دهغه دښځے ترمینځه جداوالے راوستلو.

اوبل ځائے کښې دالله رب العزت ارشاد دے :

﴿ ومن شر النفاثات فى العقد ﴾ .

ترجمه : او پناه غواړم دشر دهغه جادوګرو زنانو نه چه پوکى کوونکى دى په غوټو کښې .

که چرے د سِحر حقیقت نه وے نو الله رب العزت به د سِحر نه د پناه غوښتو حکم نه کولے .

(فتح المجيد : ٣١٤) .

٦ – علامه ابن قيم رحمه الله په بدائع الفوائد کښې فرمائيلى دى چه د سِحر په وجود او تاثير او حقيقت باندے دا قول دالله تعالىٰ دلالت کوى چه : ﴿ ومن شر النفاثات فى العقد ﴾ .

او حديث دعائشے رضى الله عنها کوم چه مخکښې تير شو .

(حاشيه فتح المجيد : ٣١٥، تعليق الأرناؤوط بدائع الفوائد : ٢٢٧/٢) .

٧ – امام ابن ابى العز الحنفى – رحمه الله – فرمائيلى دى :

علماؤ د سِحر په حقيقت او اقسامو کښې اختلاف کړے دے خو د سِحر دتاثير په باره کښې اکثرو دا وئيلى دى چه سِحر کله کله دسړى دمرګ سبب ګرځى اوکله ئے بغير ديو ظاهرى سبب نه مريض جوړوى .

(شرح العقيده الطحاويه : ٥٠٥) .

* * * * * *

Maktaba Tul Ishaat.com

# دریم فصل

## دسحر او جادو قسمونه

* دامام رازی په نزد دسحر اوجادو قسمونه
* دامام راغب په نزد دسحر او جادو قسمونه
* د سِحر اوجادو د قسمونو تحقیق او وضاحت

* * * * * *

# دریم فصل

## د سِحر او جادو قسمونه

* د سِحر او جادو قسمونه په نزد دامام رازی

ابو عبد الله الرازی وائی چه سِحر په آته قسمه دے :

* اول : سِحر دکلدانیینو او کشدانیینو، دا هغه خلق دی چه دوئ به د سبعه سیاراتو (اووه گردش کونکو) ستورو عبادت کولو او دوئ دا عقیده لرله چه دتول عالم تدبیر دا اووه ستوری کوی او خیر او شر هم دوئ راولی، دا هغه خلق وو چه دوئ ته الله تعالیٰ ابراهیم علیه السلام پیغمبر رالیږلے وو.

* دویم : سِحر دهغه خلقو چه دقوی اوهامو اود قوی، نفسونو خاوندان وی.

او بیا امام رازی استدلال په دے خبره کړے دے چه وهم دپاره هم تاثیر شته دے ځکه چه دا امکان شته چه یو انسان دے په یو تِیر (بش) باندے تلل اوکړی چه هغه تیر په زمکه پروت وی اودا سے ممکنه نه ده چه کله دغه تیر په نهر وغیره باندے پروت وی او بیا ورباندے ځوك تیر شی.

او بیا وائی : لکه څنګه چه طبیبان او ډاکټران په دے متفق دی چه سرو ځیزونو ته به هغه سړے نه ګوری چه دهغه پوزه ماتیږی

Maktaba Tul Ishaat.com

او وینه ترے راځی او په کوم سړی چه میرګی راځی هغه به دتیږے رنړا والا څیز ته او تاویدونکی څیز ته نه ګوری.

اودا تول اقدامات ددے دپاره اختیار شوی دی چه انسانی نفس فطری طور سره دوهمونو اثر قبلوی.

* دریم: امداد غوښتل په ارواحو أرضیهؤ سره چه هغه جنات دی دغه جنات په دوه قسمه دی: مؤمنان او کافران (کوم چه شیطانان دی).

بیا دے فرمائی: چه دتجربے والا خلقو ددے مشاهده کړے ده چه دغه ارواحو أرضیهؤ (جناتو) ته رسیدل په ډیر آسان عمل سره کیږی چه هغه څه لږ دمونه دی چه په هغے کښے شرکی او کفری الفاظ وی او څه لوګی دی او همدے قسم ته عمل دتسخیر وائی.

* څلورم: تخیلات نظر بندی او مداری توب دے، او ددے بنیاد دادے چه نظر کله کله خطاء کیږی او مشغول شی په یو معین شی باندے، که تا چرته یو هوښیار مداری لیدلے وی نو هغه دیو داسے شی عمل ظاهروی چه هغے سره دکتونکو خلقو ذهنونه خپل ځان طرفته متوجه کړی او چه کله خلق مکمل طور سره خپل نظرونه په هغه شی باندے ټینګ کړی نو ناګهانه او ډیر په تیزئ سره دے یو بل عمل اوکړی چه دخلقو دهغے نه هیڅ توقع نه وی نو خلق چه کله هغه اوګوری نو ډیر حیران شی، که دے چپ شی او هغه خبرے نه کوی په کومو سره چه دخلقو خیال دهغه کار ضد طرفته اړوی په کوم کښے چه دے مصروف وی، اونفسونه او

وهمونه هغه طرفته متوجه نه کړي نو کتونکي به خامخا په هغه تولو کارونو پوهه شي کوم چه دے کوي.

* پنځم : هغه عجيبه اونا آشنا ځيزونه چه دبعضے آلاتو او ځيزونو ديو ځائے کولو دوجے نه مخے ته راځي مثلا هغه شاهسوار چه په آس باندے سور وي او دهغه په لاس کښے تلئ وي هر کله چه دورځے څه ساعت تير شي نو هغه اووهي په غير ددے نه چه هغے له څوك لاس وروړي.

اودغه شان تائم پيس چه په خپل مقرر وخت باندے په خپله تلئ وهي.

امام رازي وائي : په اصل کښے دا مناسبه نه ده چه دا دے دسحر او جادو دباب نه اوشمارلے شي ځکه چه ددے دپاره معلوم او يقيني اسباب دي چه هر څوك په هغے باندے قادر شي نو هغه دا کارونه کولے شي.

زه (مصنف) وايم چه دا کارونه خو په دے زمانه کښے چه سائنس ترقي کړيده اوس ډير عادي ګرځيدلي دي.

* شپږم : په خوراکي موادو او روغنياتو کښے دبعضو دوايانو دخواصو په مدد سره دعجيبه او نا اشنا مرضونو دعلاج معلومول.

دے وائي : زه پوهيږم چه دخاصيتونو نه انکار نشي کيدے ځکه چه دمقناطيس تاثير ښکاره دے او مشاهده ئے هم کيدے شي.

Maktaba Tul Ishaat.com

* اووم : دخلقو زړونه معلق (زړوند) کول هغه داسې چه ساحر دعویٰ اوکړی چه ماته اسم اعظم یا دې او جنات مې تابع کړی دی، نو دضعیف اوکمزوری عقل اود کم تمیز والا سړې فورا دا یقین کوی چه دا حق او رښتیا دی. نو دده زړه دغې ساحر پورې اونخلی اودده په نفس کښې یو قسم رُعب او یره پیدا شی، نو کله چه ده کښې خوف او یره پیدا شی نو قوتِ حاسه ئې کمزورې شی نو په دغه وخت کښې چه بیا ساحر څه کول غواړی هغه وربانديې کوی.

* اتم : دخلقو مینځ کښې چغلی کول، او د خلقو ترمینځه نفرتونه پیدا کول اوڅه خلق ځانته نزدې کول او دهغوئ نه خپل مطلب پوره کول.

(تفسير الرازي : ٢/ ٢٤٤، بتصرف).

حافظ ابن کثیر – رحمه الله – فرمائی : چه امام رازی دا قسم ډیر زیات څیزونه په فن د سِحر کښې داخل کړی دی، ددې وجې نه چه ددې مدرکونه ډیر باریك دی او په دې باندې دپو هیدلو دپاره انتهائی باریك عقل پکار دې ځکه چه سِحر (جادو) په لغت کښې ( ما لطف وخفي سببه) یعنی هر هغه شی ته وئیل کیږی چه دهغې سبب باریك او پټ وی.

(تفسير ابن كثير : ١/ ١٤٧).

## دامام راغب په نزد د سِحر اوجادو قسمونه :

امام راغب – رحمه الله – فرمائی :

د سِحر اطلاق په ډیرو معنو باندے کیږی :

۱ – سِحر هغه شی ته وئیل کیږی چه هغه ډیر باریك او دقیق وی چه په هغے کښے ددهوکے عنصر ښکاره وی، دے وجے نه داسے وئیل کیږی چه :

(سحرت الصبی أی خادعته واستملته)

ترجمه : ما ماشوم باندے جادو اوکړو یعنی هغه مے دهوکه کړو او ځانته مے مائله کړو.

اولکه شاعران د (سحر العیون) یعنی دسترګو د سحر لفظ استعمالوی ځکه چه سترګے زړونه ځان طرفته مائله کوی.

او لکه دا قول دطبیبانو چه ( الطبیعة الساحرة).

اود همدے قبیلے نه دے دا قول دالله تعالیٰ چه :

﴿بل نحن قوم مسحورون﴾

ترجمه : مونږ داسے قوم یو چه مونږ باندے سحر کړے شوے دے.

یعنی اړولے شوی یو دپوهے اومعرفت نه.

اود همدے جملے نه دے دا حدیث : (ان من البیان لسحرا).

ترجمه : ځینے بیانونه لکه د جادو غوندے تاثیر لری.

۲ – دویم : هر هغه شے چه په دهوکے او تخیلاتو سره واقع شی لکه مداری چه دخلقو نظرونه بل طرفته اړوی اودخپل لاس په صفایئ سره کوم کار کوی.

۳ – دریم : هغه شے چه دشیطانانو په معاونت او مدد سره

Maktaba Tul Ishaat.com

حاصل شی، دے کار ته الله رب العزت په خپل دے قول مبارك کښے اشاره کړیده :

﴿ ولكن الشياطين كفروا يعلمون الناس السحر ﴾ .

ترجمه : کفر خو شیطانانو کړے دے چه خلقو ته به ئے سحر خودلو .

٤ – هغه شے چه ستورو سره په خبرو اترو سره حاصلیږی اوددوئ په گمان ددے ستورو نه دروحانیاتو دنازلولو طلب کول .

---

## د سِحر او جادو دقسمونو تحقیق او وضاحت

د سِحر او جادو کوم تقسیمونه چه امام رازی.او امام راغب او نورو علماؤ کړی دی په دے کښے د غور او تحقیق کولو نه مونږ ته دا خبره واضحه کیږی چه دوئ په سِحر او جادو کښے هغه څیزونه داخل کړی دی چه دهغے دسِحر سره هیڅ تعلق نشته، او وجه ئے داده چه دوئ د سِحر په لغوی معنیٰ باندے اعتماد کړے دے چه هغه معنیٰ (کل ما لطف وخفی سببه) ده یعنی سحر په عربئ کښے هر هغه شی ته وائی چه دهغے سبب باریك او پټ وی . ددے وجے نه دوئ دسحر په معنیٰ کښے جدید ایجادات او هغه کارونه هم داخل کړی دی کوم چه دلاس دصفایئ دوجے نه پیدا کیږی، او دغه شان دخلقو په مینځ کښے چغلی کول او دهغے په ذریعه سره خپل کار کول، اوددے پشان نور هغه کارونه شول چه باریك وی او سبب ئے پټ وی . دا ټول هغه څیزونه دی چه د سِحر او جادو سره ئے

هیڅ تعلق نشته .

او زمونږ دبحث حقیقی محور سِحر حقیقی دے، هغه سِحر چه په هغے کښے دساحر اعتماد په جناتو او شیطانانو باندے وی .

اودلته دیو بل شی حقیقت بیانول هم ضروری دی چه هغه شے امام رازی اوامام راغب مسمی کړے دے دستورو په روحانیاتو سره، اود ستورو په ذریعه ئے دسحر کولو ذکر کړے دے .

نو حقه او صحیح خبره داده چه ستوری دالله تعالی مخلوق دے اود الله د حکم تابع او مسخر دی، نه ددے دپاره روحانیات شته اونه په مخلوق کښے څه تاثیر کولے شی .

که چرے څوك اووائی چه داخو مونږ ګورو چه بعض ساحران څه نومونه یاده وی اوګمان کوی چه دا دستورو نومونه دی اویا دے ستورو ته څه اشارات کوی . اودوئ ته مخاطب کیږی (دوئ سره خبرے اترے کوی) ددے نه پس ددوئ د سِحر اوجادو عمل پوره شی اود لیدونکی په مخکښے دهغے اثر ثابت شی .

نو ددے جواب دادے چه که چرے دا خبره صحیح شی نو دا دستورو تاثیر نه دے بلکه دا دساحرانو دګمراه کولو دپاره دشیطانانو تاثیر دے، اوددے دپاره چه ساحران په فتنه کښے اوغورځیږی . لکه څنګه چه دا خبره معلومه ده چه کله به کفارو خپل دکانړو نه جوړ شوو بُتانو ته مخاطب شول او آوازونه به ئے ورته کول نو شیطانانو به دے خلقو ته جواب ورکولو، اودوئ ته به داسے معلومیده چه دا آواز د بُت دخیتے اومینځ نه را اوځی، نو

Maktaba Tul Ishaat.com

دوئ به دا گمان کولو چه دا زمونږ معبودان دی، لیکن حقیقت به داسې نه وو بلکه دا فقط دشیطانانو د طرفنه ددې کفارو دګمراه کونو یوه طریقه وه.

دګمراهئ لارې ډیرې زیاتی دی الله تعالیٰ دې زمونږ او ستاسو د اِنسی او جنی شیطانانو دشرونو نه محفوظ اوساتی. (آمین).

* * * * *

# څلورم فصل

## ساجر پیرے څنګه حاضروی ؟

دجادوګر اوشیطان ترمینځ اتفاق

اوله طریقه : د اِقسام (قسَم ورکولو)

ددے طریقے سره متعلق څو خبرے

دویمه طریقه : د ذبح یعنے حلالے

په دے طریقه باندے تبصره

دریمه طریقه : طریقه سفلیه (پریوتے طریقه)

څلورمه طریقه : دنجاست (پلیتئ اوګندګئ)

پنځمه طریقه : دتنکیس (قرآن کریم التهه لیکل)

شپږمه طریقه : د تنجیم ( ستورو نه اثر حاصلول)

اوومه طریقه : دکف (یعنی د ورغوی)

اتمه طریقه : طریقة الأثر (یعنی دمریض نه څینے آثار طلب کول)

په دے طریقه باندے تبصره

هغه علامات چه په هغے سره ساحر او جادوګر پیژندلے کیږی

Maktaba Tul Ishaat.com

# څلورم فصل

# ساحر اوجادوګر پيرے څنګه حاضروی ؟

* دساحِر او شيطان ترمينځه اتفاق :

عام طور سره چه کومه خبره دلته بيانيږی هغه داده چه دساحر او شيطان ترمينځه به اتفاق وی په دے خبره چه ساحر – جادوګر – به اول په پټه يابښکاره بعضے ښکاره شرکی او کفری کارونه اوکړی نو بيا به شيطان په خپله ددغه ساحر خدمت کوی اويا به يو بل داسے شيطان ورله مقرر کړی چه ددغه ساحر خدمت کوی.

ځکه چه غالبا کوم اتفاق چه په مينځ د ساحر اود شيطان کښے راځی نو دغه شيطان دنورو شيطانانو يا دجناتو ديوے قبيلے مشر وی، نو دغه مشر شيطان دخپلے قبيلے يو بے وقوفه شيطان ته حکم اوکړی چه ددے ساحر خدمت کوه اودده اطاعت کوه، اوکوم کارونه او واقعات چه شوی وی ده ته دهغے خبر ورکوه اويا ورته د دوه کسانو په مينځ کښے دجدااوالی او تفريق اچولو، يا ددوه کسانو په مينځ کښے دمحبت اچولو، يا ديو سړی دخپلے ښځے نه دتړلو اويا ددے پشان دنورو کارونو حکم اوکړی دکومو تفصيل چه روسته را روان دے ان شاء الله تعالیٰ.

(اوګوره ددے کتاب شپږم فصل).

بیا دا ساحر دخپلو شریرو اعمالو سرته رسولو دپاره د پیری تابع کول شروع کړی، بیا که چرے دغه شیطان ددے ساحر نافرمانی اوکړی نو ساحر بیا هغه مشر شیطان ته دتقرب حاصلولو دپاره خپل منترونه شروع کړی چه په هغے کښے ددغه مشر شیطان تعظیم وی اودده نه امداد غوښتل وی نو ددے نه پس دغه مشر شیطان دغه نافرمانه پیری ته په عذاب ورکولو او هغه ته دساحر دفرمانبردارئ کولو حکم کول شروع کړی اویا ددے مشرك ساحر دخدمت دپاره یوبل شیطان تابع کړی.

ددے وجے نه دساحر اودغه مسخر شوی (تابع شوی) جِنی (پیری) په مینځ کښے چه کوم تعلق وی نو دا د زور اود بُغض تعلق وی.

دا وجه ده چه مونږ ته دلته دا خبره ثابته ده چه دا مسخر کړے شوے پیرے ددغه ساحر – جادوګر – اهل او اولاد او مال ته ډیر ضرورنه رسوی، اوکله کله خو پخپله دے ساحر ته هم تکلیف رسوی اودا ورباندے نه پوهیږی،لکه همیشه دپاره دسر دزد اویا دخوب په وخت کښے بے خوبی او یا په شپه کښے یریدل وغیره.

بلکه دسُفلی ساحرانو – یعنی هغه ساحرانو چه راتلونکی پریوتی کارونه کوی – خوغالبا بچی هم نه کیږی ځکه چه دده ماشومان دغه پیرے دمور په رحِم کښے دخلقت دمکمل کیدو نه وړاندے وژنی. اودا خبره خو دساحرانو ترمینځه بیخی مشهوره ده

Maktaba Tul Ishaat.com

چه ځینو ساحرانو ددے دوچے نه دسحر عمل پریخے دے چه ځامن ئے اوشی.

زه خپله یوه واقع ذکر کوم چه ما دیوے مریضے زنانه علاج کولو، کله چه ما په هغے باندے قرآن کریم اولوستلو اودم مے کړو نو پیری دهغے په ژبه خبرے شروع کړے او وے وئیل چه زه دا طاقت نه لرم چه ددے زنانه نه اووځم. ما ورته اووئیل: ولے؟ هغه وئیل: ځکه زه یریږم چه هغه ساحر - جادوګر - به ما مړ کړی.

ما ورته اووئیل: داسے ځائے ته لاړ شه چه ساحر ته معلوم نه وی.

هغه وئیل: ما پسے به نور داسے پیریان راولیږی چه ما به ورته حاضر کړی.

ما ورته اووئیل: که ته مسلمان شوے اود خپلے توبے اعلان دے په رښتیا او اخلاص سره اوکړو نو ممکنه ده چه مونږ به تاته دقرآن کریم داسے آیتونه اوښایو چه تابه د کافرو جناتو دشر نه بچ ساتی اوستا حمایت اوساتنه به کوی.

پیری اووئیل: زه نه مسلمانیږم، بلکه زه به همداسے نصرانی یم.

ما ورته اووئیل: ددین په قبلولو کښے په چا باندے زرو نشته خو لیکن ضروری خبره داده چه ته ددے ښځے نه اوځه.

هغه اووئیل: زه هیڅ کله نه اوځم.

ما ورته اووئیل: چه ته نه اوځے نو مونږ دالله تعالیٰ په مدد

سره دا طاقت لرو چه اوس به په تا د قرآن کریم آیتونه اولولو تردې چه ته به اوسوځې.

بیا مې هغه سخت سخت اووهلو نو چغې ئې کړې او وې وئیل: اوځم! اوځم! دې نه پس هغه اووته. والحمد لله رب العالمین والفضل لله وحده.

## جادوګر پیرې څنګه حاضره وی؟

دلته ډیرې او قسما قسم طریقې دی چه په ټولو کښې واضح شرك یا کفر موجود دې. زه – ان شاء الله – دهغې نه آته طریقې په اختصار سره ذکر کوم او ورسره په هغې کښې چه کوم شرك یا کفر دې هغې ته هم اشاره کووم.

خو په دې طریقو کښې اهم اهم څیزونه حذف کووم او هغه نه ذکر کوم څکه چه څوك ئې غلطې استعمال نه کړی.

اودا طریقې مې په دې وجه ذکر کړی دی چه بعضې مسلمانان د قرآنی علاج او سحری علاج ترمینځه فرق نشی کولې، حال دا چه اولنې ایمانی علاج دې او دویم شیطانی علاجه دې.

بلکه مسئله خپله خطرناکی هله ظاهره وی چه بعضې ساحران دعوامو خلقو په مخ کښې چه کله خپل کفری منترونه وائی نو هغه پټ وائی، او په مینځ مینځ کښې ئې د قرآن کریم آیتونه ښکاره وائی او مریض ته ئې اوروی، دې دپاره چه دمریض ګمان راشی چه دده دا علاج قرآنی علاج دې، حال دا چه په حقیقت کښې داسې نه وی نو بیا چه دغه ساحر دې مریض ته څه

Maktaba Tul Ishaat.com

وائی او څه حکم ورته کوی نو هغه ئے منی.

ددے طریقو بیانولو نه زما مقصد خپل مسلمانان ورونه دشر او د ګمراهئ نه یرول دی، او ددے دپاره چه دمجرمانو لاره ښکاره شی.

## اوله طریقه: طریقه د اقسام - قسم ورکولو

جادوګر یو ے تورتم (تیاره) کوټے ته ننوځی او په هغے کښے اور بل کړی او په دغه اور باندے یو قسم دخپلے مطلوب موضوع موافق بخور (یو قسم خوشبویه، بدبویه لرګے) واچوی، یعنی که دا جادوګر ددوه کسانو په مینځ کښے جدائی، دشمنی او بُغض اچول غواړی نو هغه بخور په اور کښں واچوی چه هغه بدبوی کوی او که چرے ددوه کسانو ترمینځه یو ځائے والے او محبت اچول غواړی اویا د هغه سړی خلاصول غواړی کوم چه دخپلے ښځے نه بند شوے وی یا د یو جادو خلاصول غواړی نو هغه بخور په اور واچوی چه خوشبوئے کوی.

بیا ساحر په خپلو شرکی منترونو باندے شروع اوکړی کوم چه معین طلسمونه دی او مشتمل وی په قسَم ورکولو باندے جناتو ته دهغوئ په سردار باندے، اود دوئ نه د دوئ دمشر په نوم سوال کوی، دغه شان په دے کښے نور قسماقسم شرکی کارونه وی لکه د پیریانو دمشرانو تعظیم کول او هغوئ ته فریاد کول وغیره، او دا هر څه په دے شرط سره وی چه جادوګر ملعون به ناپاك وی

جنب به وی اویا به ئے پلیتے جامے اچولے وی وغیره.

اوخه وخت چه جادوګر دخپلو کفری منترونو نه فارغ شی نو دده په مخ کښې یو سورے دسپے پشان یا دمار پشان یا په یو بل شکل کښې ظاهر شی نو د ساحر چه د څه شی اراده وی د هغې حکم ورته اوکړی، اوکله کله خو هیڅ شے ورته ښکاره نشی صرف آواز قدرے واوری، اوکله هیڅ آواز هم وانه وری.

بیا د هغه مطلوب شخص چه په چا جادو کوی یوه نښه چه د هغه دبدن سره لګیدلے وی اود هغه دخوَلے بوئے په کښې وی مثلا د هغه ویښته یا د هغه دلباس یو شے وغیره هغې ته غوټے اچول شروع کړی، بیا چه څه کول غواړی نو جِنی (پیری) ته د هغې حکم اوکړی.

## ددے طریقے سره متعلق یو څو خبرے :

۱ – جِنات تورتم (تیاره) کوټه ډیره خوښه وی.

۲ – جِنات د هغه بخور په بوئے سره غذا حاصلوی چه په هغې دالله نوم نوی اخستل شوے.

۳ – په دے طریقه کښې ظاهری شرك او کفر چه کوم دے نو هغه طریقه د اِقسام (قسم ورکولو) ده په جناتو باندے او امداد غوښتل دی د دوئ نه.

٤ – جِنات نجاست خوښوی او شیطانان پلیتو خلقو ته ډیر نزدے وی.

Maktaba Tul Ishaat.com

# دويمه طريقه - طريقه د ذبحے :

ساحر يوه مرغۍ يا چارپايا يا چرګه يا کونتره وغيره په هغه اوصافو سره حاضره کړي په کومو اوصافو چه ترے جِنی (پيری) غوښتلے وی خو غالبا تور رنګ والا وی ځکه چه تور رنګ جِنات زيات خوښوی.

(په صحيح مسلم کښے دی چه : تور سپے شيطان وی. او ماته هم بعضے جناتو داسے وئيلی دی. وقايه الانسان طبع الصحابه اوګوره).

بيا ئے دالله دنوم نه بغير ذبح کړی اوکله کله ددے په وينه باندے مريض ګکړ کړی بيا ئے په يو شاړ ځائے کښے يا په يو شاړ کوهی کښے يا په يو خراب ځائے کښے اوغورځوی چه دا ځايونه غالبا دجناتو داوسيدو ځايونه وی. بيا خپل کورته راشی او هغه شرکی منترونه شروع کړی بيا چه څه غواړی دهغے حکم جِنی (پيری) ته اوکړی.

په دے طريقه کښے شرك د دوو طريقو نه ثابتيږی :

١ - ذبح او حلاله کول د جِنی (پيری) دپاره په اتفاق دمخکنو اوروستنو تولو عُلماؤ باندے حرامه ده بلکه شرك دے، ځکه چه دا ذبحه دغير الله دپاره ده اود مسلمان دپاره دداسے مذبوحے (حلالے) خوراکے جائز نه دے، پاتے لا دا چه دغير الله په نوم ذبح اوکړی.

ددې سره سره بعضې جاهلان په هره زمانه او هر ځائې کښې د خبيث کار کوي.

يحيیٰ بن يحيیٰ وائي: ما ته وهب وئيلي دي چه دوخت يو خليفه يوه چينه اوويستله اودا اراده ئې وه چه دا جاري شي نو په هغې ئې دجناتو دپاره ذبح اوکړه ددې دپاره چه جنات ددې اوبه بښکته بونه څي، اوبيا ئې دغه مذبوحه خلقو ته دخوراك دپاره ورکړه. نو دا خبره ابن شهاب زهري – رحمه الله – ته اورسيده، نو هغه اوفرمائيل:

خبردار! دې خليفه چه کومه ذبحه کړيده دا دده دپاره حلاله نه ده او طعام ئې خلقوته دهغه شي ورکړيدې چه هغه خلقو دپاره د حلاله نه ده. نبي کريم ﷺ دهغه شي دخوراك نه منع فرمائيلې ده کوم چه دجناتو دپاره ذبح کړې شي.

(آکام المرجان: ۷۸).

او په صحيح مسلم کښې دعلي بن ابي طالب – رضی الله عنه – نه روايت دې چه رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلې دې:

الله تعالیٰ دې په هغه چا باندې لعنت اوکړي چه د الله نه علاوه د بل چا په نوم باندې ذبح اوکړي.

۲ – په دې کښې هغه شرکي منترونه اوطلسمونه او الفاظ دي چه دجناتو دحاضرولو په دوران کښې استعماليږي اودا متضمن وي بښکاره شرك لره، لکه څنګه چه شيخ الاسلام ابن تيميه – رحمه الله تعالی – دخپلو کتابونو په بيشماره ځايونو کښې ددې

Maktaba Tul Ishaat.com

وضاحت ذکر کړے دے .

(راجع : الابانه فی عموم الرساله) .

* * * *

## دریمه طریقه : طریقه سُفلیه

دا طریقه د ساحرانو په مینځ کښے په طریقه سُفلیه سره مشهوره ده . دے طریقے والا دپاره یوه لویه ډله دشیطانانو وی چه دده خدمت کوی اودده حکم نافذ کوی . اوداسے جادوګر دکفر او الحاد په اعتبار سره ډیر لوئے جادوګر ګڼړل کیږی (په ده دے دالله تعالیٰ عنت وی) .

ددے طریقے خلاصه داده چه ساحر ملعون په خپلو خپو پورے قرآن کریم په داسے طریقے سره اوتړی لکه پیزار بیا بیت الخلاء ته داخل شی او خپل کفری طلسمونه او منترونه شروع کړی، بیا دبیت الخلاء نه را اوځی او یوه کوټه کښے کینی نو په دے طریقه ځانته جنات حاضر کړی اود هغه څیز حکم ورته اوکړی کوم چه غواړی نو بیا دغه جنات دده په اطاعت او حکم پوره کولو کښے منډے وهی اوشیطانان دده دپاره دا کارونه ځکه کوی چه ده په الله تعالیٰ باندے کفر کړے دے اود شیطانانو ورور ګرځیدلے دے .

(فعلیه لعنة الله رب العالمین) .

او په ساحر سُفلی کښے دا شرط دے چه دے به دټولو کبیره ګناهونو کوونکے وی علاوه د هغه ګناهونه کوم چه مونږ ذکر کړل

لکه محارمو – مور خور – سره بدکاری کول، لواطت کول، پردو ښځو سره زنا کول، دینونو ته کنځل کول دا ټول هغه کارونه دی چه شیطانان ورباندے راضی کیږی او خوشحالیږی.

## ځلورمه طریقه : طریقه د نجاست

په دے طریقه کښئے ساحر ملعون د قرآن کریم یو سورت دحیض په وینه یا په بل یو نجس شی باندے اولیکی بیا خپل طِلسمونه او منترونه اووائی نو پیرے ورته حاضر شی بیا هغه ته دهغه شی حکم اوکړی کوم چه غواړی.

په دے طریقه کښے دکفر کارونه څه پټ نه دی ځکه چه د قرآن کریم په یو سورت پورے نه بلکه په یو آیت پورے هم خندا کول کفر دے، نو ددے په نجاست باندے د لیکلو په باره کښے ستا څه خیال دے ؟ ( نعوذ بالله من الخذلان) !!

دالله تعالیٰ نه غواړو چه زمونږ زړونه په ایمان باندے مضبوط کړی او مونږ په اسلام وفات کړی او زمونږ حشر د نبی کریم ﷺ په جماعت کښے اوکړی. (آمین).

## پنځمه طریقه : طریقه دتنکیس

یعنی قرآن الټه لیکل

Maktaba Tul Ishaat.com

په دې طريقه کښې ساحر (په ده دې دالله لعنت وی) يو سورت د قرآن کريم يو يو حرف جدا جدا سرچپه (الټه) يعنی د آخر نه تر اوله پورې اوليکی بيا خپل شرکی منترونه اووائی نو يو جِنی ( پيرې) حاضر شی او دې ورته دخپل مطلوبه کار په باره کښې حکم اوکړی.

## شپږمه طريقه : طريقه دتنجيم

يعنی دستورو نه مدد غوښتل

دا طريقه په (طريقة الرصد) سره هم يادېږی چه ساحر ديو معين ستوری دراختلو په انتظار کښې وی کله چه دغه ستورې را اوخيژی نو دې ورته دخپل سحر په وئيلو سره مخاطب شی بيا يو بل طلسم اولولی چه هغه په شرکياتو اوکفرياتو سره مشتمل وی، بيا خپل حرکات شروع کړی، دده دخيال مطابق په دغه حرکتونو سره ددغه ستوری نه په ده برکات نازليږی، ليکن په حقيقت کښې دا تعظيم دغير الله اود ستورو عبادت دې اګرکه دا نجومی په دې نه پوهيږی ، نو په دغه وخت کښې شيطان دده امرته لبيك اووائی نو ساحر دا ګمان کوی چه دې ستوری ده سره امداد اوکړو، ليکن دا په دغه ستوری باندې دروغ وئيلې شويدی اودا ستورې په دې يوه خبره هم نه پوهيږی. او ساحران دا ګمان کوی چه دا سحر به بيا هغه وخت ماتيږی چه کله دا ستورې بيا را اوخيژی.

(دا خبره ساحران کوی، اوخوك چه په قرآن کريم سره علاج


کوی نو هغوئ فی الحال دالله په فضل سره دا سحر باطلولے شی).

اوبعضے داسے ستوری دی چه هغه په کال کښے یو ځل راخیژی نودوئ دهغه ستوری دراختلو انتظار کوی بیا کله چه دغه ستورے را اوخیژی نو دوئ خپل لوستل شروع کړی چه په هغے کښے دوئ ددے ستوری نه امداد غواړی چه د دوئ دپاره دا سحر خلاص کړی.

په دے طریقه کښے هم شرك په واضح طور سره موجود دے ځکه چه په دے کښے تعظیم دغیر الله کیږی او امداد دغیر الله نه غوښتل کیږی.

## اوومه طریقه : طریقه دکف یعنی ورغوی

په دے طریقه کښے ساحر یو نابالغ ماشوم راولی په دے شرط چه بے اودسه به وی بیا ددغه ماشوم دګس لاس ورغوی باندے داسے څلور ګوټه رسم جوړ کړی



اوددے نقش نه څلور واړو طرفونو ته څه طلسمونه اولیکی اوهغه به طبعا مشتمل وی په شرکیاتو باندے.

بیا د ماشوم په ورغوی کښے (تیل اوشین ګل) یا (تیل اوشنه سیاهی) کیدی، بیا نور طلسمونه په یو یو حرف سره په یوه اوګده ورقه کښے اولیکی، بیا دغه ورقه (پانړه) دماشوم په مخ کیدی اود

Maktaba Tul Ishaat.com

پاسه وربانده تهوپئ ورپه سر کړی، دے دپاره چه دغه ورقه اونه غورځیږی، بیا دا ماشوم تهول په یوه ډبله تهوته (کپړه) کښے پټ کړی په دغه وخت کښے دا ماشوم خپل ورغوی ته ګوری نو طبعا ماشوم به څه نه وینی ځکه چه تهوله تیاره تیاره وی، بیا ساحر ملعون خپل کفری منترونه شروع کړی نو ماشوم ناګهانه دا محسوسه کړی چه فضا رنړا شوه اودده په ورغوی کښے څه شکلونه حرکت کوی، نو بیا سحر ماشوم ته اووائی چه څه وینے ؟ نو ماشوم اووائی چه زه خپلے مخے ته دیو سړی شکل وینم. نو ساحر وائی چه ته دغه سړی ته اووایه چه معزِم (یعنی ځان ورته یاد کړی) تاته داسے وائی نو هغه شکل حرکت اوکړی څنګه چه ورته حکم شوے وی.

او غالبا دا طریقه دورك شوی شی دپاره استعمالیږی.

په دے طریقه کښے چه کوم کفریات اوشرکیات اوغیر مفهومه طلسمونه اومنترونه دی هغه بالکل واضح دی.

## اتمه طریقه : طریقة الأثر

په دے طریقه کښے ساحر دمریض نه دهغه څه بعضے آثار غواړی مثلا دهغه رومال یا پټکے یا قمیص یا بل یو داسے شے چه په هغے کښے دمریض د خولے بوئے وی، بیا دے رومال ته دیو طرف نه غوټه ورکړی اود څلورو ګوتو په اندازه ئے ناف کړی. بیا رومال

مضبوط اونیسی او سورت التکاثر یا بل یو سورت په اوچت آواز سره شروع کړی، بیا خپل شرکی طلسمونه پټ پټ اووائی، بیا پیری ته آواز اوکړی او ورته اوائی : که ددے مریض دمرض سبب جنات وی نو دا رومال لنډ کړئ، اوکه دنظر اثر وی نو رومال اوګد کړئ، اوکه بل مرض ئے وی اوډاکټری علاج ته ضرورت لری نو پخپل حال ئے پریدئ، نو بیا ئے ناف کړی که دګلورو ګوتو نه اوګد شوے وی نو ورته اووائی چه ته د نظره شوے ئے، اوکه لنډ شوے وی نو ورته اووائی چه په تا دجناتو اثر دے اوکه په خپل حال وی نو ورته اووائی چه په تا هیڅ اثر نشته طبیب اوډاکټر ته لاړ شه .

## په دے طریقه باندے تبصره :

۱ – مریض ته دهوکه ورکول او په اوچت آواز سره د قرآن کریم لوستل چه دمریض دا ګمان راشی چه دے دده علاج په قرآن کریم سره کوی . حال دا چه داسے نوی بلکه دده علاج اصلی راز په هغه شرکی طلسمونو (ټوټکو) کښے وی کوم چه دے پټ وائی .

۲ – دجناتو نه امداد غوښتل او هغوئ ته آواز کول دا ټول شرکی خبرے دی .

۳ – دا پته نه لګی چه دا پیرے رشتیا وائی اوکه دروغ، سره ددے نه چه جنات ډیر دروغ وائی، اومونږ په خپله د بعضے ساحرانو په دغه فعل (امتحان) کړے دے اکثر دروغ وی .

اوډیر مریضان مونږ ته راغلی دی او وئیلی ئے دی چه ساحر راته وئیلی دی چه ته د نظره شوے ئے، کله چه مونږ په هغه باندے

Maktaba Tul Ishaat.com

قرآن کریم لوستلے دے نو معلومه شوه چه په ده دجناتو اثر دے او د نظر تاثیر وربانده نشته .

اوددے پورته ذکر شوو آته طریقو نه علاوه نورے طریقے هم کیدے شی کومے چه ماته نه دی معلومے .

## هغه علامات چه هغے سره جادوگر پیژندلے شی :

کله چه ته په علاج کونکو کښے ددے علامونه یونه علامه او مومے نو بغیر دخه شك او شبهے نه داسړے ساحر دے هغه علامے دادی :

۱ – دمریض نه دمور او پلار دنوم پوښتنه کول .

۲ – دمریض یو اثر غوښتل مثلا جامے، توپئ، رومال وغیره .

۳ – کله کله په یو څو معینو صفاتو سره یو حیوان طلبوی چه هغه بغیر دنوم د الله نه ذبح کړی اود مریض درد مند ځائے ددغه مذبوحے په وینے سره ککړ کړی، اویا دغه مذبوحه په شاړ ځائے کښے اوغورځوی .

٤ – دطِلسمونو او منترونو لیکل .

٥ – دغیر مفهومه منترونو اوطلسمونو لوستل .

٦ – مریض ته داسے کاغذ ورکول چه په هغے کښے څلور کوټه شکلونه وی چه دهغے په مینځ کښے ئے حروف اوحساب لیکلے وی .

۷ – مریض ته دا حکم کول چه یوه معینه موده به د خلقو نه جدا په یوه داسے کوټه کښے اوسیږی چه هغے کوټے ته به نمر نه داخلیږی .

۸ – کله مریض ته وائی چه یوه معیّنه موده به اوبه نه استعمالوے غالبا چه خلوینبت ورځے وی .

دا علامات په دے دلالت کوی چه کوم پیرے ددے ساحر خدمت کوی نو هغه نصرانی دے .

۹ – مریض ته داسے شیزونه ورکول چه دا زمکه کښے دفن کړه .

۱۰ – مریض ته کاغذونه ورکول چه دا اوسوزوه او په دے سره لوګے اوکړه .

۱۱ – مریض دپاره تعویذونه کول چه په هغے کښے غیر مفهومه الفاظ وی .

۱۲ – کله مریض ته دهغه نوم اود کلی نوم اود کوم مشکل دپاره چه راغلے وی هغه خودل .

۱۳ – مریض دپاره په یو کاغذ کښے یا دخارو په یو پوخ شوی سپین قاف (پلیټ) کښے حروف جدا جدا لیکل او هغه ته وئیل چه دا لیکل په کښے ویلی کړه او وه ئے څکه .

که تاته معلومه شوه چه دا ساحر دے نو هغه ته دتلو نه ځان بچ کړه چه دنبی کریم ﷺ دا قول په تا باندے تطبیق نشی :

من أتی کاهنا فصدقه بما یقول، فقد کفر بما انزل علی محمد

Maktaba Tul Ishaat.com

صلی الله علیه وآله وسلم.

( دا روایت امام احمد او حاکم اوبزار نقل کړے دے اوشیخ البانی په صحیح الجامع : ٥٩٣٩، کښے دے حدیث ته صحیح وئیلی دی).

* * * * *

# پنځم فصل

## په اسلامي شریعت کښې د سِحر حکم

* په اسلامي شریعت کښې د سِحر د زده کړې حکم
* په اسلامي شریعت کښې د ساحر حکم
* د اهل کتابو د ساحر حکم
* آیا سِحر د سِحر په ذریعه ختمول جائز دي؟
* د سِحر، معجزې او کرامت تر مینځه فرق

* * * * *

Maktaba Tul Ishaat.com

# پنځم فصل
# په اسلام کښې د سِحر حکم

## * په اسلامی شریعت کښې د ساحر حکم

۱ - امام مالك رحمه الله فرمائی :

هغه جادوګر چه په خپله د جادو عمل کوی نو د دے مثال د هغه شخص دے چه د هغه په باره کښې الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ ولقد علموا لمن اشتراه ماله فی الآخره من خلاق ﴾.

[ سوره البقره : ۱۰۲ ].

ترجمه : او په تحقیق سره پو هیدل دوئ چه خامخا هغه څوك چه اخلی جادو نو نشته د ه لره په آخرت کښې هیڅ برخه.

او بیا فرمائی : زما دا رائے ده چه کله جادوګر د جادو عمل اوکړی نو دے دے قتل کړے شی.

(الموطأ : ٦٢٨، کتاب العقول : ٤٣، باب ما جاء فی الغیل والسحر : ۱۹).

۲ - ابن قدامه رحمه الله فرمائی :

د جادوګر حد قتل دے، او دا شان روایت د جناب عمر، عثمان بن عفان، عبد الله بن عمر، حفصه، جندب بن عبد الله، جندب بن کعب، قیس بن سعد - رضی الله تعالیٰ عنهم - او د عمر بن عبد العزیز - رحمه الله - نه هم نقل دے. او همدا قول د امام ابو حنیفه

اوامام مالك – رحمهما الله – هم دے.

۳ – امام قرطبی رحمه الله فرمائی :

دمسلمانان او ذمی ساحر په حکم کښے دفقهاؤ اختلاف دے، امام مالك – رحمه الله – فرمائی : يو مسلمان چه کله پخپله سِحر اوکړی په داسے کلام سره چه په هغے کښے کفر وی نو دا به قتل کیږی اودده نه به طلب دتوبے نه کیږی او نه به دده توبه قبلولے شی ځکه چه دے دا خپل کار دزنديق اوزانی پشان پټول غواړی، اوددے وجے نه هم چه الله تعالیٰ سِحر (جادو) په کفر سره مسمی کړے دے په دے قول خپل کښے :

﴿ وما يعلمان من احد حتى يقولا انما نحن فتنة فلا تكفر ﴾ .

اودا قول دامام احمد بن حنبل، ابو ثور، اسحق، امام شافعی او امام ابو حنيفه – رحمهم الله – هم دے.

(تفسير قرطبی : ۴۸/۲).

(دامام شافعیؒ دا قول خو امام قرطبی دغسے نقل کړو، خو مشهوره داده چه امام شافعیؒ فرمائی : ساحر به صرف د سحر دوجے نه نه قتل کیږی بلکه که ده په سحر سره څوك قتل کړے وی نو قصاصا به دے هم قتل کیږی، نقله عنه ابن المنذر وغيره).

۴ – ابن منذر رحمه الله فرمائی :

کله چه يو سړے اقرار اوکړی چه ده سحر په داسے الفاظو سره کړے دے چه هغے کښے کفر وی نو که توبه اونه باسی نو هغه قتل واجب دے، اوکه چرے ګواهان داسے ګواهی اوکړی چه ده په داسے

Maktaba Tul Ishaat.com

الفاظو سره سحر کړے دے چه هغے کښے کفری الفاظ وو نو همدغه حکم ئے دے، اوکه چرے دا سحر ئے په داسے الفاظو سره کړے وی چه په هغے کښے کفر نه وی نو بیا ئے قتل جائز نه دے. اوکه چرے د مسحور (جادو کړے شوی) شخص په بدن کښے ئے کوم نقصان پیدا کړے وی نو قصاص به ترے اخستے شی، که قصدا ئے دا کار کړے وی. اوکه نقصان دومره وو چه قصاص په کښے نه راتلو نو دیت به ترے اخستے شی.

۵ - حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائی :

څوک چه ساحر کافر ګڼړی هغوئ په دلیل کښے دا قول دالله تعالیٰ پیش کوی :

﴿ ولو انهم آمنوا واتقوا ..﴾ لکه دا یوروایت دے دامام احمد بن حنبل - رحمه الله - اود سلفوؒ دیوے ډلے نه نقل دے، او چا وئیلی دی چه کافر نه دے بلکه حد دده دادے چه سر ترے غوڅ کړے شی لکه څنګه چه دامام شافعی او امام احمد - رحمهما الله - نه نقل دی، دوئ فرمائی : چه مونږ ته سفیان بن عیینه - رحمه الله - خبر راکړے دے دعمرو بن دینار نه چه ده دبجاله بن عبده نه اوریدلی دی چه هغه فرمائی : عمر بن خطاب - رضی الله عنه - لیکلی وو چه ساحر سړے او ساحره ښځه قتل کړئ.

دے فرمائی : چه بیا مونږ درے ساحران قتل کړل.

دے وائی : چه دا روایت امام بخاری - رحمه الله - په خپل کتاب کښے نقل کړے دے (په حواله دتفسیر قرطبی : ٤٨/٢).

دے فرمائی : چه دأم المؤمنين حفصه - رضى الله عنها - نه ثابت دی چه په دے باندے ددے یوے وینځے جادو کړے وو نو دے دهغے په قتل کولو باندے حکم اوکړو نو هغه قتل کړے شوه.

امام احمد - رحمه الله - فرمائی : ددرے صحابه کرامو نه د ساحر د قتل کولو قول ثابت دے.

(تفسير ابن كثير : ١٤٤/١).

٦ - حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی :

دامام مالك - رحمه الله - په نزد دساحر حکم دزندیق دحکم پشان دے، دده توبه به نه قبلیږی که چرے وربانده سحر ثابت شی نو د حد په طور به قتلولے شی، اودا مذهب دامام احمد - رحمه الله - هم دے. او امام شافعی - رحمه الله - فرمائی : چه ساحر به نشی قتلولے مگر په هغه صورت کښے چه اقرار اوکړی چه ده په سحر سره څوك قتل کړے دے، نو بیا به دے هم قتل کړے شی.

(فتح البارى : ٢٣٦/١٠).

## خلاصه :

د مذکوره بحث نه دا خبره واضحه شوه چه جمهور علماء دساحر - جادوگر - په قتل کولو باندے قائل دی، سیوا دامام شافعی رحمه الله نه هغه فرمائی : چه ساحر به نه شی قتلولے مگر په هغه صورت کښے چه ده په خپل جادو سره څوك قتل کړے وی نو د قصاص په طور به دے هم قتل کړے شی.

---

Maktaba Tul Ishaat.com

## داهل کتابو د ساحر حکم

★ ابن قدامه رحمه الله فرمائی : امام ابو حنیفه رحمه الله فرمائیلی دی چه ساحر به قتلولے شی ځکه چه په دے سلسله کښے چه کوم احادیث راغلی دی هغه ټولو ساحرانو ته شامل دی چه په هغے کښے داهل کتابو ساحر هم راځی . او بل داچه سحر یو داسے جرم دے چه دهغے په وجه دمسلمان قتل لازمیږی نو دذمی قتل هم لازموی .

(المغنی : ۱۰/۱۱۵) .

★ حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی : امام مالك رحمه الله فرمائیلی دی چه داهل کتابو ساحر به نه شی قتلولے مګر په هغه صورت کښے به قتلولے شی چه ده په خپل سحر سره څوك قتل کړے وی .

(فتح الباری : ۱۰/۱۳٦) .

★ امام شافعی رحمه الله فرمائی : داهل کتابو ساحر به نشی قتلولے مګر په هغه صورت کښے به قتلولے شی چه ده په خپل سحر سره څوك قتل کړے وی .

(حواله سابقه) .

★ ابن قدامه رحمه الله فرمائی : داهل کتابو ساحر به دسحر دوجے نه نشی قتلولے بلکه په هغه صورت کښی چه ده په سحر سره څوك قتل کړے وی نو دے به هم دقصاص پطور قتلولے شی .

ځکه چه لبید بن اعصم په نبی کریم ﷺ سحر کړے وو او نبی ﷺ هغه نه دے قتل کړے نو ساحر دا هل کتابو واجب القتل نه دے . بل دا چه لکه څنګه چه اهل کتاب دشرك دوجے نه نه قتل کیږی اګرچه شرك دجادو نه لویه ګناه ده، نو دجادو په جرم به هم دا هل کتابو ساحر واجب القتل نه وی .

(المغنی : ۱۰/۱۱۵) .

* * * * *

## آیا سِحر د سِحر په ذریعه ختمول جائز دی ؟

★ ابن قدامه رحمه الله فرمائی : هر هغه څوك چه سحر په قرآن کریم سره پرانیزی یا په اذکارو سره یا په داسے کلام سره چه په هغے کښے شرعا څه قباحت نه وی نو په دے کښے څه حرج نشته، او که د سحر علاج په سحر سره اوشی نو ددے په باره کښے امام احمد بن حنبل رحمه الله توقف کړے دے .

(المغنی : ۱۰/۱۱٤) .

★ حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی : د نبی ﷺ دا قول چه :
(النشره من عمل الشیطان)

ترجمه : نشره - یعنی سِحر پرانستل - شیطانی عمل دے .

(فتح الباری : ۱۰/۲۲۳) .

په دے کښے اشاره ده اصل ددے ته، یعنی که څوك په دے سره اراده د خیر لری نو صحیح ده او که دخیر اراده ئے نه ری نو صحیح نه ده .

Maktaba Tul Ishaat.com

دے فرمائی : چه دا احتمال هم کیدے شی چه (نشره) په دوه قسمه وی.

زه وایم : همدا خبره صحیح ده ځکه چه نشره دوه قسمه ده :

★ اول قسم نشره جائز ده، او هغه خلاصول د سحر دی په قرآن کریم سره او په دعاګانو او اذکارِ مشروعهٔ سره.

★ دویم قسم نشره حرامه ده او هغه پرانستل د سحر دی په امداد غوښتلو سره د شیطانانو نه دغه شان هغوئ ته په تقرب حاصلولو او هغوئ ته په فریاد کولو اود هغوئ په خوشحالولو سره.

( شیطانانو نه دامداد حاصلولو اقسام په : وقایة الانسان کښې اوګوره).

شاید چه دنبی کریم ﷺ ددے قول : ( النشرة من عمل الشیطان) نه مقصود همدا قسم نشره وی.

اودا قسم نشره به څنګه جائز شی حال دا چه نبی کریم ﷺ په ګڼړو حدیثونو کښې ساحرانو او کاهنانو ته د ورتلو نه منع فرمائیلے ده، اودا خبره ئے بیان کړے ده چه څوك دهغوئ تصدیق اوکړی نو ده په هغه څه کفر اوکړو کوم چه په محمد صلی الله علیه وسلم باندے نازل شوے دے.

★ ابن قیم – رحمه الله – فرمائی : نشره دمسحور شخص نه سحر لرے کولو ته وائی اودا په دوه قسمه ده :

۱ – خلاصول دسحر په سحر سره، او همدا دشیطان عمل دے،

په دې قول کښې ناشر (سحر پرانستونکې) او منتشر (چانه چه سحر پرانستلې شي) دا دواړه شیطان ته په هغه څه باندې څانونه نزدې کړي څه چه شیطان خوښوي نو په دې سره دشیطان عمل دمسحور (جادو کړې شوي) شخص نه ختم شي.

۲ – دویم نشره – سحر پرانستل – په دمونو، تعوذاتو او جائزو دعاګانو سره ده، اودا قسم مباح ده.

* * * * *

## آیا سحر زده کول جائز دي؟

۱ – حافظ ابن حجر – رحمه الله – فرمائي:

دالله تعالیٰ په دې قول:

﴿انما نحن فتنة فلا تکفر﴾

کښې اشاره ده دې خبرې ته چه سحر اوجادو زده کول کفر دې.

(فتح الباری: ۱۰/۲۲۵).

۲ – ابن قدامه – رحمه الله – فرمائي:

زده کول دسحر اوخودل دسحر دواړه حرام دي اوماته په دې کښې داهل علمو هیڅ اختلاف نه دې معلوم.

بیا وائي: زمونږ ملګرو (حنابله ؤ) وئیلي دي چه ساحر دسحر په زده کولو باندې کافر کیږي برابره خبره ده چه دې دجادو دحرمت قائل وي اوکه د اباحت.

(المغني: ۱۰/۱۰٦).

۳ – ابو عبد الله رازي وئیلي دي: په سحر باندې علم اوپو هه

Maktaba Tul Ishaat.com

لرل نه قبیح دی او نه منع دی او په همدے باندے دمحققینو اتفاق دے ځکه چه علم بذاتِ خود یو شریف څیز دے، دغه شان ددے آیت کریمه دعموم په وجه هم چه: ﴿ قل هل یستوی الذین یعلمون والذین لا یعلمون ﴾

ترجمه: اووایه (اے پیغمبره!) آیا برابر دی هغه خلق چه پوهیږی او هغه خلق چه نه پوهیږی؟

بل دا چه که چرے دجادو علم حاصلول صحیح نه شی نو بیا په معجزه اوجاود کښے د فرق کولو امکان نشته، اود معجزے په معجزه کیدو باندے علم لرل واجب دی، او په کوم څیز باندے چه واجب موقوف وی نو هغه حاصلول هم واجب وی، نو ددے تقاضا داده چه دسحر علم حاصلول واجب شی، اوکوم څیز چه واجب وی نو هغه څنګه حرام او قبیح جوړیدے شی؟

٤ - حافظ ابن کثیر - رحمه الله - دامام رازی ددغه مسلك تردید کوی او فرمائی چه دامام رازی په کلام کښے دا لاندینئ خبرے قابلِ مواخذه دی:

اول دا چه: دده دا خبره چه دجادو علم حاصلول قبیح نه دی، نو که ددے نه دده مراد دا وی چه د جادو علم حاصلول عقلا قبیح نه دی، نو په دے کښے معتزله ذده مخالف دی او هغوئ ددے خبرے نه انکار کوی.

اوکه ددے نه دده مراد دا وی چه دجادو زده کول شرعا قبیح نه دی نو دا آیت کریمه چه:

﴿ واتبعوا ما تتلوا الشياطين على ملك سليمان ...﴾
په دے کښے د سحر بدی او قباحت بیان شوے دے.
او په حدیث شریف کښے دی :
من أتی عرافا اوکاهنا فقد کفر بما انزل علی محمد .
(رواه الأربعة والبزار بأسانید حسنه بلفظ (فصدقه) ورواه مسلم بلفظ : (فسأله عن شئ لم تقبل له صلاة اربعین یوما).
ترجمه : نبی کریم ﷺ فرمائی : څوك چه نجومی یاکاهن ته راغے (اودهغه تصدیق ئے اوکړو) نو په تحقیق سره هغه کافر شو په هغه څه باندے چه په محمد ﷺ باندے نازل شوے دے.
بل حدیث شریف کښے دی :
من عقد عقدة ونفث فیها فقد سحر.
ترجمه : چاچه څه غوټه واچوله اوپه هغے کښے ئے پوکے اوکړو نو په تحقیق سره هغه جادو اوکړو.
دویم : دامام رازی دا قول چه : دمحققینو په دے اتفاق دے چه جادو زده کول منع نه دی، نو ابن کثیر – رحمه الله – فرمائی : ولے به دجادو علم زده کول منع نه وی سره ددے نه چه مونږ په دے باندے آیتونه او حدیثونه ذکر کړل.
او اتفاق دمحققینو خو هله وی چه کله په دے سلسله کښے دهغوئ څه نصوص یا عبارات موجود وی، نو که چرے موجود وی نو هغه کوم کوم دی ؟
دریم : امام رازی چه دجادو علم د الله تعالیٰ ددے قول :

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿ قل هل يستوى الذين يعلمون والذين لا يعلمون ﴾

په عموم کښې داخل کړے دے نو دا هم صحيح نه دے، ځکه چه دا آيت کريمه دلالت کوی په مدح د هغه علماؤ باندے چه شرعی علوم لری.

اود امام رازی داخبره چه دجادو او معجزے په مينځ کښې دفرق کولو دپاره دجادو علم حاصلول واجب دی، دا هم ضعيف بلکه فاسده خبره ده، ځکه چه درسول الله ﷺ په ټولو معجزو کښې لويه معجزه قرآن کريم دے، هغه قرآن کريم چه الله تعالیٰ د هغه په باره کښې فرمائی:

﴿ لا يأتيه الباطل من بين يديه ولا من خلفه تنزيل من حكيم حميد ﴾.

بيا دا هم معلومه ده چه دا معجزه ده ليکن موقوف نه ده په علم د سحر باندے. ځکه چه صحابه کرامو، تابعينو، أئمهؤ او عامو مسلمانانو په سحر باندے دعلم نه لرلو باوجود هم معجزه پيژندله، اود معجزے او سحر ترمينځه فرق ئے کولے شو، دوئ نه په سحر پوهيدل اونه ئے په خپله زده کړے وو اونه ئے بل چا ته ښودلے وو، والله اعلم.

(تفسير ابن کثير: ١/١٤٥).

٥ - ابو حيانؒ په البحر المحيط کښې فرمائيلی دی: چه که دجادو علم داسے وی چه په هغے کښې تعظيم دغير الله وی لکه ستورو اوشيطانانو ته دهغه کارونو نسبت کول چه هغه کارونه

الله جل شانه کوی، نودداسې علم حاصلول په اجماع سره کفر دی. ددې زده کول او په دې باندې عمل کول حلال نه دی، او دغه شان هغه سحر چه دهغې په زده کولو سره دوینو تویول او تفرقه (جداوالې) راځي په مینځ دښځې اوخاوند او دوستانو کښې، نودا هم حلال نه دی. او هغه سحر چه په هغې کښې دا کارونه نه زده کیږی بلکه احتمال قدرې لری نو ظاهره خبره داده چه ددې سحر زده کول هم حلال نه دی اونه په دې باندې عمل کول حلال دی.

اوهغه څه چه د تخییل، فریب او مداری توب دقسمونو نه وی نو دهغې زده کول هم مناسب نه دی، ځکه چه دا د باطل دقبیلې نه دی، اوکه په دې سره ئې قصد لهو لعب اویا په خپلې چالاکۍ سره دخلقو غم غلطول وی نو دا هم مکروه دی.

زه – مصنف – وایم: همدا خبره ډیره مناسبه ده چه اعتماد وړباندې اوکړې شي.

* * * * *

Maktaba Tul Ishaat.com

# د سحر، معجزې او کرامت ترمینځه فرق

* امام مازري رحمه الله فرمائي :

د سِحر، معجزې او کرامت ترمینځه فرق دادې چه سِحر دپاره دځه اقوالو او افعالو سرته رسول پکار وی ترڅو چه ساحر په خپل مقصد کښې کامیاب شي.

اوکرامت کښې ددې شي ضرورت نه وي بلکه غالبا اتفاقي طور سره واقع کیږي.

او هرچه معجزه ده نو په هغې کښې باقاعده چیلنج وي، په همدې سره معجزه دکرامت نه فرق مومي.

(تفسیر ابن کثیر : ۱/۱٤٥).

★ حافظ ابن حجر – رحمه الله – فرمائي :

چه امام الحرمین په دې اجماع نقل کړې ده چه سحر د فاسق نه ظاهریږي اوکرامت د فاسق نه نه ظاهریږي.

همدغه شان حافظ ابن حجر رحمه الله بیا فرمائي : چه مناسبه ده چه د هغه سړي حال معلوم کړې شي دکوم نه چه خارق العادت کارونه صادریږي، که چرې دې په شریعت باندې پابند وي اود کبیره گناهونو نه ځان ساتلو اودده نه یو خارق العادت (ناشنا) کار صادر شو نو دا کرامت دې اوکه داسې نه وي نو بیا دا سحر دې.

(روائع البیان : ۱/۸٥).

تنبیه :

کله داسے اوشی چه یو سړے نه ساحر وی اونه سحر پیژنی او د شریعت پابند هم نه وی بلکه کله دبعض کبیره ګناهونو مرتکب هم وی اودے سره سره دده نه یو خارق العادت (ناشنا) کار صادر شی، اوکله کله دا مبتدعین او قبر پرست خلق وی.

نو ددے په باره کښے فیصله داده چه داد شیطان امداد دے، دے دپاره چه خلقو ته د بدعت لاره خائسته کړی اوخلق دهغے تابعداری شروع کړی او سنت پریدی، اودا ډیره مشهوره خبره ده، خاصکر کله چه دغه شخص دمبتدعینو په صوفیه طرقو اوسلسلو کښے دیوے طریقے او سلسلے مشر هم وی، نو دده دلاسه کله دغه شیطانی عمل صادریږی.

(د مبتدعینو مشهورے صوفیه طریقے اوسلسلے دادی : نقشبندیه، چشتیه، سهرودیه، قادریه).

* * * * *

Maktaba Tul Ishaat.com

# شپږم فصل

## ابطال السحر – جادو ختمول

★ اول : سحر التفریق – دجداوالی راوستلو جادو

★ دویم : سحر المحبه

★ دریم : سحر التخییل – وهم او خیال

★ څلورم : سحر الجنون – دلیونتوب جادو

★ پنځم : سحر الخمول – دسستئ جادو

★ شپږم : سحر الهواتف

★ اووم : سحر المرض

★ اتم : سحر النزیف

★ نهم : سحر تعطیل الزواج – واده نه بندولو جادو

# شپږم فصل

## ابطال السحر - جادو ختمول

مونږ به ان شاء الله په دې فصل کښې دسحر داقسامو په باره کښې خبرې اترې اوکړو چه دا څنګه تاثیر کوی په مسحور شخص کښې اودهغې علاج په قرآن اوسنت او دعاګانو او اذکارو سره، لیکن ددې نه مخکښې یوه تنبیه ضروری ده، اوهغه دا چه په دې کتاب کښې به تاسو دعلاج متعلق هغه څیزونه اوګورئ چه هغه به دنبی کریم ﷺ نه په ډاګه ثابت نه وی چه په هغې دې په خصوصی حالاتو کښې علاج اوکړې شی، لیکن هغه به دعامو قواعدو لاندې داخلیږی کوم چه په قرآن او سنت سره ثابت دی.

مثلاً تاسو به اوموموئ چه په یو څو آیتونو سره یا دمختلفو سورتونو په متفرقو آیتونو سره به علاج خودلې شوې وی، نو دا ټول دالله رب العزت ددې قول لاندې راځی چه:

﴿ وننزل من القرآن ما هو شفاء ورحمة للمؤمنين ﴾.

[ سوره الاسراء : ۸۲].

ترجمه: اونازلوو مونږ دقرآن نه هغه څه چه هغه شفاء او رحمت دې دپاره دمؤمنانو.

نو بعضې علماء کرام وائی: چه په دې آیت کریمه کښې دشفاء نه مراد معنوی شفاء ده، یعنی قرآن کریم دشك اوشرك، او فسق

Maktaba Tul Ishaat.com

اوفجور مرضونو شفاء اوعلاج دے.

او بعضے نور علماء فرمائی : چه مقصود په دے سره ظاهری او باطنی دواړه شفاء ګانے اوعلاجونه دی.

اوددے نه هم ډیر واضح او ښکاره دلیل بلکه قابل اعتماد څیز په دے باب کښے د عائشه - رضی الله عنها - حدیث دے چه:

رسول الله ﷺ په عائشه - رضی الله عنها - باندے په داسے وخت کښے داخل شو چه یوے ښځے دهغے علاج کولو اودمونه ئے پرے اچول، نو رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل :

عالجیها بکتاب الله.

ترجمه : د الله په کتاب سره ددے علاج اوکړه.

(صححه الألبانی فی السلسلة الصحیحة رقم : ۱۹۳۱).

که ته په دے حدیث شریف کښے ژور نظر اوکړے نو ته به په دے کښے دا خبره پیدا کړے چه نبی کریم ﷺ په دے قول کښے تعمیم کړے دے چه دالله جل شانه په کتاب ورله علاج اوکړه، یو معین آیت یا یو سورت ئے ورته نه دے خودلے.

نو ددے نه دا خبره معلومه شوه چه قرآن کریم ټول شِفاء دے.

او څو څو ځله مونږ ته په عملی تجربه سره دا ظاهره شویده چه قرآن کریم یوازے دسحر اومرض او حسد علاج نه دے بَلکه دبدنی اعضاؤ اواندامونو هم علاج دے.

که څوك اووائی چه کله مونږ دقرآن کریم یو خاص آیت په یو مریض باندے دد[illegible] دپاره اختیاره وو نو په دے باندے یو خاص دلیل

او یو نص پکار دے

نو مونږ په جواب کښے دا وایو چه نبی کریم ﷺ د هر دم دپاره یوه عامه قاعده ایښے ده هغه دا چه په صحیح مسلم کښے یو روایت دے چه څه خلقو اووئیل : یا رسول الله ! بیشکه مونږ به دجاهلیت په دور کښے دمونه کول، نو نبی ﷺ ورته اوفرمائیل :

تاسو ماته خپل دمونه پیش کړئ، په دمونو کښے څه باك نشته ترڅو پورے چه شرکی الفاظ په کښے نه وی.

(رواه مسلم فی کتاب السلام : ٦٤، النووی : ١٤/١٨٧).

نو ددے حدیث نه مونږ د هغه دمونو جواز اخلو کوم چه په قرآن یا سنت یا دعاګانو یا اذکارو سره وی، ترڅو چه دجاهلیت په هغه دمونو باندے چه په هغے کښے شرکی الفاظ نه وی.

* * * *

Maktaba Tul Ishaat.com

# اول : سحر التفريق
## يعنے دجدائی راوستلو جادو

الله تعالیٰ په سوره البقره كښے فرمائی :

﴿ واتبعوا ما تتلوا الشياطين على ملك سليمان وما كفر سليمان ولكن الشياطين كفروا يعلمون الناس السحر وما انزل على الملكين ببابل هاروت وماروت وما يعلمان من احد حتى يقولا انما نحن فتنة فلا تكفر فيتعلمون منهما ما يفرقون به بين المرء وزوجه وما هم بضارين به من احد الا باذن الله ويتعلمون ما يضرهم ولا ينفعهم ولقد علموا لمن اشتراه ما له فى الآخرة من خلاق ولبئس ما شروا به انفسهم لو كانوا يعلمون ﴾ .

[ سورة البقره ، آيت : ۱۰۲ ].

ترجمه : او روان شو (يهوديان) دهغه څه پسے چه لوستلو به شيطانانو (پيريانو) په (زمانه) دبادشاهئ دسليمان (عليه السلام) كښے او كفر نه وو كړے سليمان (په حلال ګنړلو د سِحر سره) ليكن شيطانانو كفر كړے وو او خودلو به ئے خلقو ته سِحر او (روان شو) دهغه څيز پسے چه نازل كړے شوے وو په دوو ملائكو باندے په (ښار د) بابل كښے (چه ديو نوم) هاروت او (دبل نوم) ماروت (دے) اونه به خودلو دوئ دواړو هيچا ته تر هغه پورے چه اوبه ئے وئيل

چه مونږ امتحان یو (دالله تعالیٰ دطرفه) نو مه کافر کیږه (په زده کولو د سِحر چه د عمل په جواز ئے عقیده لرے) نو زده کولو به هغوئ له دوئ دواړو نه هغه شے چه جدا والے به ئے راوستو په هغے سره په مینځ دخاوند اود ښځے د هغه کښے، او نه وو دوئ ضرر رسونکی په دغه سِحر سره هیچا ته مګر په حکم دالله سره، اوزده کوی دوئ هغه څه چه ضرر رسوی دوئ ته او نفع نه رسوی دوئ ته، او خامخا په تحقیق سره پو هیدل دوئ چه خامخا هغه څوك چه اخلی (زده کړی) دے سِحر لره نشته ده لره په آخرت کښے څه برخه (دنیکئ) او خامخا ډیر بد دے هغه شے چه اخستے دے دوئ په هغه شی سره (حصه) دځانونو خپلو که چرے دوئ پو هیدلے (په بد انجام د سِحر نو نه به ئے زده کولو).

دجناب جابر – رضی الله عنه – نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی: چه ابلیس خپل تخت په اوبو باندے کیدی اوبیا خپل فوجونه اولیږی، نو په دوئ کښے دتولو نه ده ته زیات نزدے په اعتبار دمرتبے سره هغه شیطان وی چه دهغه فتنه ډیره لویه وی، بیا یو شیطان راشی او اووائی چه ما دا کارونه اوکړل، نو ابلیس ورته وائی: تا هیڅ نه دی کړی، بیا بل راشی او اووائی چه ما هغه (فلانے سړے هله پریښود چه دهغه اود هغه دښځے په مینځ کښے مے جداوالے راوستو. نبی ﷺ اوفرمائیل: چه شیطان ئے ځانته رانزدے کړی او ورته اووائی چه ته ډیر ښه ئے (تا ډیر ښه کار کړے دے).

Maktaba Tul Ishaat.com

## د سِحر التفريق تعريف :

دا دسحر يو عمل دے په دے سره جداوالے راځی په مينځ دښځے او خاوند کښې او په مينځ د دوه دوستانو اودوه شريك والانو کښې .

## د سحر التفريق قسمونه :

۱ – جداوالے په مينځ دځوئے او مور کښې .

۲ – جداوالے په مينځ دځوئے اوپلار کښې .

۳ – جداوالے په مينځ د ورونو کښې .

٤ – جداوالے په مينځ د دوستانو کښې .

٥ – جداوالے په مينځ دهغه چا کښې چه په يو کارکښې شريك وی .

٦ – جداوالے په مينځ د ښځے اوخاوند کښې، اودا قسم ډير خطرناك دے .

## د سِحر التفريق علامات

۱ – ناګهانه طور سره احوال دمحبت نه بُغض طرفته بدليدل .

۲ – د دواړو ترمينځه ډير شکونه پيدا کيدل .

۳ – عذرونه او بهانے نه لټول .

٤ – داختلاف اسباب غټ ګڼړل اګرچه وړه خبره وی .

٥ – د سړی په سترګو کښې دښځے شکل بدليدل اود ښځے په سترګو کښې د سړی شکل بدليدل، چه سړی ته خپله ښځه په قبيح منظر کښې ښکاری اګرکه ډيره ښائسته وی . حقيقت دادے

چه هغه شیطان چه دسحر په وجه په دوئ باندے مقرر کړے شوے دے نو دے ددے ښځے په مخ باندے په یو قبیح (بد) شکل سره متصور کیږی او ښځه خپل خاوند په یو یرونکی او رعب اچونکی شکل کښے ګوری.

٦ – دمسحور شخص هر هغه عمل بد ګنړل چه دده جانب مقابل ئے کوی.

٧ – دمسحور شخص هغه ځائے بد ګنړل چه په هغے کښے دهغه جانب مقابل ناست وی، نو ته به خاوند ګورے چه دکور نه به بهر خوشحاله وی خو چه کله کور ته داخل شی نو سخته زړه تنګی محسوسه کړی.

حافظ ابن کثیر – رحمه الله – فرمائی: چه سبب دجداوالی په مینځ دخاوند اوښځه کښے په سحر سره دا په دے شان سره وی چه یو بل ته په بد منظر اوبد شکل کښے ښکاری اویا ددے پشان نور هغه اسباب وی چه دښځے او خاوند په مینځ کښے تقاضا دجداوالی کوی.

(تفسیر ابن کثیر: ۱/۱٤٤).

## سحر التفریق څنګه کیږی؟

سړے ساحر ته لاړ شی اود هغه نه دا اوغواړی چه دفلانی سړی او فلانئ ښځے ترمینځه جدائی راولہ، نو ساحر د هغه نه دهغے سړی نوم اود هغه د مور نوم اود هغه یوه نښه مثلا دهغه ویښته یا توپئ یا جامے وغیره اوغواړی. که دغه سړے دا کار نشی

Maktaba Tul Ishaat.com

کولے نو بیا ورله په اوبو باندے جادو اوکړی . او ورته اووائی چه دا دهغه سړی دتلو راتلو په لاره کښے واړه وه . نو کله چه دهغه سړی قدمونه په دغه اوبو باندے راشی نو دجادو اثر وربانده اوشی . ( خودا هله چه دغه شخص دصبا او بیګاه ذکرونو او نبوی دعاګانانو طاقت نه وی استعمال کړے کوم چه د سحر او جادو نه دانسان دپاره قلعه جوړیږی) اویا ورله دغه اوبه په خوراك یا څکاك کښے واچوی چه دهغے دوجے نه وربانذین دسحر اثر اوشی .

## علاج ددے سحر

ددے علاج درے مرحلے دی

### اوله مرحله : کومه چه دعلاج نه مخکښے وی

۱ - دصحیح ایمانی فضاء برابرول - اوبیا دهغه کورنه تصویرونه (فوټوان) ویستل کوم کښے چه علاج کیږی، ددے دپاره چه ملائك را داخل شی .

۲ - دمریض نه تعویذونه او بندونه لرے کول اوسوزول .

۳ - کور دهغه ځیزونو نه خالی کول کوم چه د شرع خلاف وی، لکه مثلا دنارینه ؤ دسرو زرو استعمال یا دسګریټ وغیره څکل یا بے پردګی دښځے .

٤ - مریض اود مریض کور والو ته دصحیح عقیدے درس ورکول، داسے درس چه دهغوئ دزړونو نه دغیر الله تعلق اومینه اوباسی .

٥ - دمریض دحال تشخیص کول، ددے دپاره چه دسحر پوره

علامے یا غتے علامے یقینی شی، اودا دمریض نه په بعضے سوالونو سره کیږی مثلا دا پوښتنے به ترے اوکړی :

★ آیا : ته خپله ښځه کله کله په بد او قبیح شکل او منظر کښے وینے ؟

★ آیا : ستاسو په مینځ کښے په معمولی او وړه خبره اختلاف پیدا کیږی ؟

★ آیا : ته دکور نه بهر خوشحاله ئے اوچه کور ته راشے نو زړه کښے تنګی محسوسه وے ؟

★ آیا : تاسو ښځه او خاوند کښے کوم یو تن دجماع په وخت کښے تنګی محسوسه وئ ؟

★ آیا : تاسو دواړو کښے کوم یو تن ته په خوب کښے خفګان راځی یا ګډوډ خوبونه وینئ چه په هغے سره خفګان راځی ؟

دا سوالونه ترے همداسے کوه که چرے په کښے دوه یا د دوو نه زیاتے علامے موجودے وی نو علاج ورله جاری اوساته .

٦ - دعلاج شروع کولو نه مخکښے اودس اوکړه او مریض ته هم اووایه چه اودس اوکړی .

٧ - کله چه مریضه ښځه نوعلاج ورله تر هغه وخته پورے مه شروع کوه چه ترڅو ئے خپلے جامے په ځان ښے مضبوطے کړے نه وی ځکه هسے نه چه دعلاج په دوران کښے ئے کوم ځائے ښکاره نشی .

٨ - دداسے ښځے علاج مه کوه چه د شرع نه خلاف لباس ئے

Maktaba Tul Ishaat.com

اغوستے وی مثلا لکه مخ ئے ښکاره وی، یا ئے عطر لګولی وی یا ئے ناخون پالش په نوکانو لګولے وی، چه مشابهت ئے دکافرو ښځو سره کیږی.

۹ - دیواځے ښځے علاج مه کوه چه ترڅو ورسره یو محرم نه وی.

۱۰ - دورانِ علاج کښے دے تاسره د ښځے دمحرم نه بغیر بل څوك نه وی.

۱۱ - دعلاج په شروع کولو کښے (لاحول ولا قوة الا بالله) اووایه اود الله نه امداد اوغواړه.

## دویمه مرحله: علاج

دمریض په سر به لاس کیدے اوپه غوږ کښے به ورله دا دم په ترتیل او اوچت آواز سره اووائے (دے دم ته متوجه شه ځکه چه زه به تاته مخکښے ددے حواله ډیره درکوم):

۱ - اَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطَانِ الرَّجِیْمِ مِنْ هَمْزِهٖ وَنَفْخِهٖ وَنَفْثِهٖ، بسم الله الرحمن الرحيم ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ، الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ، مَالِكِ یَوْمِ الدِّیْنِ، اِیَّاكَ نَعْبُدُ وَاِیَّاكَ نَسْتَعِیْنُ، اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِیْمَ، صِرَاطَ الَّذِیْنَ اَنْعَمْتَ عَلَیْهِمْ، غَیْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَیْهِمْ وَلَا الضَّآلِّیْنَ﴾.

[سورة الفاتحه].

۲ - بسم الله الرحمن الرحيم:

الٓمّٓ ذٰلِكَ الْكِتَابُ لَا رَیْبَ فِیْهِ، هُدًی لِّلْمُتَّقِیْنَ الَّذِیْنَ یُؤْمِنُوْنَ

بِالْغَيْبِ وَيُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ، وَالَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ وَبِالْآخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ، أُولَٰئِكَ عَلَىٰ هُدًى مِّن رَّبِّهِمْ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴾.

[ سورة البقرة : ۱ – ۵ ].

۳ – اعوذ بالله من الشيطان الرجيم :

﴿ وَاتَّبَعُوا مَا تَتْلُوا الشَّيَاطِينُ عَلَىٰ مُلْكِ سُلَيْمَانَ وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَانُ وَلَٰكِنَّ الشَّيَاطِينَ كَفَرُوا يُعَلِّمُونَ النَّاسَ السِّحْرَ وَمَا أُنزِلَ عَلَى الْمَلَكَيْنِ بِبَابِلَ هَارُوتَ وَمَارُوتَ وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنْ أَحَدٍ حَتَّىٰ يَقُولَا إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ فَيَتَعَلَّمُونَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِ بَيْنَ الْمَرْءِ وَزَوْجِهِ وَمَا هُم بِضَارِّينَ بِهِ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ وَيَتَعَلَّمُونَ مَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنفَعُهُمْ وَلَقَدْ عَلِمُوا لَمَنِ اشْتَرَاهُ مَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ وَلَبِئْسَ مَا شَرَوْا بِهِ أَنفُسَهُمْ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ ﴾.

[ سورة البقرة ، آیت : ۱۰۲ ].

٤ – اعوذ بالله من الشيطان الرجيم :

﴿ وَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ لَّا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمَٰنُ الرَّحِيمُ، إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ، وَالْفُلْكِ الَّتِي تَجْرِي فِي الْبَحْرِ بِمَا يَنفَعُ النَّاسَ وَمَا أَنزَلَ اللَّهُ مِنَ السَّمَاءِ مِن مَّاءٍ فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِن كُلِّ دَابَّةٍ وَتَصْرِيفِ الرِّيَاحِ وَالسَّحَابِ الْمُسَخَّرِ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴾.

[ سورة البقرة : ۱٦۳ – ۱٦٤ ].

۵ – اعوذ بالله من الشيطان الرجيم :

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿ اَللّٰهُ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ، لَا تَأْخُذُهٗ سِنَةٌ وَّلَا نَوْمٌ، لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ مَنْ ذَا الَّذِيْ يَشْفَعُ عِنْدَهٗ اِلَّا بِاِذْنِهٖ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيْطُوْنَ بِشَيْءٍ مِّنْ عِلْمِهٖ اِلَّا بِمَا شَاءَ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَلَا يَؤُدُهٗ حِفْظُهُمَا وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ ﴾.

[ سورة البقرة : ٢٥٥ ].

٦ – اعوذ بالله من الشيطان الرجيم :

﴿ آمَنَ الرَّسُوْلُ بِمَا اُنْزِلَ اِلَيْهِ مِنْ رَّبِّهٖ وَالْمُؤْمِنُوْنَ كُلٌّ آمَنَ بِاللّٰهِ وَمَلَائِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْ رُّسُلِهٖ وَقَالُوْا سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَاِلَيْكَ الْمَصِيْرُ، لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا، لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا اِنْ نَّسِيْنَا اَوْ اَخْطَأْنَا رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَا اِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهٗ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِنَا رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهٖ وَاعْفُ عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا اَنْتَ مَوْلَانَا فَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِيْنَ ﴾.

[ سورة آل عمران آيت : ١٨، ١٩ ].

٧ – اعوذ بالله من الشيطان الرجيم :

﴿ شَهِدَ اللّٰهُ اَنَّهٗ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ وَالْمَلَائِكَةُ وَاُولُوا الْعِلْمِ قَائِمًا بِالْقِسْطِ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ، اِنَّ الدِّيْنَ عِنْدَ اللّٰهِ الْاِسْلَامُ وَمَا اخْتَلَفَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتَابَ اِلَّا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ وَمَنْ يَّكْفُرْ بِآيَاتِ اللّٰهِ فَاِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴾.

[ سورة آل عمران : ١٨، ١٩ ].

٨ – اعوذ بالله من الشيطان الرجيم :

﴿اِنَّ رَبَّكُمُ اللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ، يُغْشِي الَّيْلَ النَّهَارَ يَطْلُبُهٗ حَثِيْثًا وَّالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُوْمَ مُسَخَّرٰتٍ بِاَمْرِهٖ، اَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْاَمْرُ تَبَارَكَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ، اُدْعُوْا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَّخُفْيَةً اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ ، وَلَا تُفْسِدُوْا فِي الْاَرْضِ بَعْدَ اِصْلَاحِهَا وَادْعُوْهُ خَوْفًا وَّطَمَعًا اِنَّ رَحْمَتَ اللّٰهِ قَرِيْبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِيْنَ﴾ ۔

[سورة الاعراف : ٥٤ – ٥٦]۔

٩ – اعوذ بالله من الشيطان الرجيم :

﴿وَاَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰى اَنْ اَلْقِ عَصَاكَ فَاِذَا هِيَ تَلْقَفُ مَا يَاْفِكُوْنَ ، فَوَقَعَ الْحَقُّ وَبَطَلَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ، فَغُلِبُوْا هُنَالِكَ وَانْقَلَبُوْا صٰغِرِيْنَ ، وَاُلْقِيَ السَّحَرَةُ سٰجِدِيْنَ، قَالُوْا اٰمَنَّا بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ، رَبِّ مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ﴾ .

[سورة الأعراف ، آيت : ١١٧ – ١١٨] .

دا آيتونه ډير ډير وايه خاصكر دا قول دالله تعالىٰ :

﴿وَاُلْقِيَ السَّحَرَةُ سٰجِدِيْنَ﴾ .

١٠ – أعوذ بالله من الشيطان الرجيم :

﴿قَالَ مُوْسٰى مَا جِئْتُمْ بِهِ السِّحْرُ اِنَّ اللّٰهَ سَيُبْطِلُهٗ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُصْلِحُ عَمَلَ الْمُفْسِدِيْنَ وَيُحِقُّ اللّٰهُ الْحَقَّ بِكَلِمٰتِهٖ وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُوْنَ﴾ .

[سورة يونس آيت : ٨١، ٨٢) .

دا آيتونه باربار وايه خاصكر دا قول دالله تعالىٰ :

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿ إِنَّ اللَّهَ سَيُبْطِلُهُ ﴾.

١١ - اعوذ بالله من الشيطان الرجيم :

﴿ إِنَّمَا صَنَعُوا كَيْدُ سَاحِرٍ وَلَا يُفْلِحُ السَّاحِرُ حَيْثُ أَتَى ﴾.

[ سورة طه آيت : ٦٩ ].

١٢ - اعوذ بالله من الشيطان الرجيم :

﴿ أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ ، فَتَعَالَى اللَّهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيمِ، وَمَنْ يَدْعُ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ لَا بُرْهَانَ لَهُ بِهِ فَإِنَّمَا حِسَابُهُ عِنْدَ رَبِّهِ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الْكَافِرُونَ، وَقُلْ رَبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ وَأَنْتَ خَيْرُ الرَّاحِمِينَ ﴾.

[ سورة المؤمنون آيت : ١١٥ ١١٨ ].

١٣ - اعوذ بالله من الشيطان الرجيم

بسم الله الرحمن الرحيم :

﴿ وَالصَّافَّاتِ صَفًّا، فَالزَّاجِرَاتِ زَجْرًا، فَالتَّالِيَاتِ ذِكْرًا، إِنَّ إِلَٰهَكُمْ لَوَاحِدٌ، رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَرَبُّ الْمَشَارِقِ، إِنَّا زَيَّنَّا السَّمَاءَ الدُّنْيَا بِزِينَةٍ الْكَوَاكِبِ ، وَحِفْظًا مِنْ كُلِّ شَيْطَانٍ مَارِدٍ، لَا يَسَّمَّعُونَ إِلَى الْمَلَإِ الْأَعْلَىٰ وَيُقْذَفُونَ مِنْ كُلِّ جَانِبٍ دُحُورًا، وَلَهُمْ عَذَابٌ وَاصِبٌ، إِلَّا مَنْ خَطِفَ الْخَطْفَةَ فَأَتْبَعَهُ شِهَابٌ ثَاقِبٌ ﴾.

[ سورة الصافات : ١، ١٠ ].

١٤ - اعوذ بالله من الشيطان الرجيم :

﴿ وَإِذْ صَرَفْنَا إِلَيْكَ نَفَرًا مِنَ الْجِنِّ يَسْتَمِعُونَ الْقُرْآنَ فَلَمَّا حَضَرُوا قَالُوا أَنْصِتُوا فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوْا إِلَىٰ قَوْمِهِمْ مُنْذِرِينَ، قَالُوا يَا

قَدْ سَمِعْنَا اِنَّا سَمِعْنَا كِتَابًا اُنْزِلَ مِنْ بَعْدِ مُوسٰى مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ يَهْدِيْ اِلَى الْحَقِّ وَاِلٰى طَرِيْقٍ مُّسْتَقِيْمٍ، يَا قَوْمَنَا أَجِيْبُوْا دَاعِيَ اللّٰهِ وَآمِنُوْا بِهٖ يَغْفِرْ لَكُمْ مِنْ ذُنُوْبِكُمْ وَيُجِرْكُمْ مِّنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ، وَمَنْ لَّا يُجِبْ دَاعِيَ اللّٰهِ فَلَيْسَ بِمُعْجِزٍ فِى الْاَرْضِ وَلَيْسَ لَهٗ مِنْ دُوْنِهٖ اَوْلِيَاءُ اُولٰئِكَ فِيْ ضَلَالٍ مُّبِيْنٍ﴾.

[ سورة الأحقاف آيت : ۲۹ – ۳۲].

۱۵ – اعوذ بالله من الشيطان الرجيم :

﴿ يَا مَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ اِنِ اسْتَطَعْتُمْ اَنْ تَنْفُذُوْا مِنْ أَقْطَارِ السَّمٰوَاتِ وَالْاَرْضِ فَانْفُذُوْا ، لَا تَنْفُذُوْنَ اِلَّا بِسُلْطَانٍ، فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴾.

[ سورة الرحمن آيت : ۳۳ – ۳٦].

۱٦ – اعوذ بالله من الشيطان الرجيم :

﴿ لَوْ اَنْزَلْنَا هٰذَا الْقُرْآنَ عَلٰى جَبَلٍ لَّرَأَيْتَهٗ خَاشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ وَتِلْكَ الْاَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ ، هُوَ اللّٰهُ الَّذِيْ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ، عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ، هُوَ اللّٰهُ الَّذِيْ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ، الْمَلِكُ الْقُدُّوْسُ السَّلَامُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيْزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ، سُبْحَانَ اللّٰهِ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ، هُوَ اللّٰهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ لَهُ الْاَسْمَاءُ الْحُسْنٰى يُسَبِّحُ لَهٗ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ﴾ .

[ سورة الحشر آيت : ۲۱ – ۲٤ ].

۱۷ – اعوذ بالله من الشيطان الرجيم ـ

Maktaba Tul Ishaat.com

بسم الله الرحمن الرحیم:

﴿ قُلْ اُوْحِیَ اِلَیَّ اَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ الْجِنِّ فَقَالُوْا اِنَّا سَمِعْنَا قُرْاٰنًا عَجَبًا، يَهْدِیْ اِلَى الرُّشْدِ فَاٰمَنَّا بِهٖ وَلَنْ نُّشْرِكَ بِرَبِّنَا اَحَدًا، وَاَنَّهُ تَعٰلٰى جَدُّ رَبِّنَا مَا اتَّخَذَ صَاحِبَةً وَّلَا وَلَدًا، وَاَنَّهُ كَانَ يَقُوْلُ سَفِيْهُنَا عَلَى اللّٰهِ شَطَطًا، وَاَنَّا ظَنَنَّا اَنْ لَّنْ تَقُوْلَ الْاِنْسُ وَالْجِنُّ عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا، وَاَنَّهُ كَانَ رِجَالٌ مِّنَ الْاِنْسِ يَعُوْذُوْنَ بِرِجَالٍ مِّنَ الْجِنِّ فَزَادُوْهُمْ رَهَقًا، وَاَنَّهُمْ ظَنُّوْا كَمَا ظَنَنْتُمْ اَنْ لَّنْ يَّبْعَثَ اللّٰهُ اَحَدًا، وَاَنَّا لَمَسْنَا السَّمَآءَ فَوَجَدْنٰهَا مُلِئَتْ حَرَسًا شَدِيْدًا وَّشُهُبًا، وَاَنَّا كُنَّا نَقْعُدُ مِنْهَا مَقَاعِدَ لِلسَّمْعِ فَمَنْ يَّسْتَمِعِ الْاٰنَ يَجِدْ لَهٗ شِهَابًا رَّصَدًا ﴾ .

[ سورة الجن آیت: ۱ – ۹ ].

۱۸ – اعوذ بالله من الشيطان الرجیم۔

بسم الله الرحمن الرحیم:

﴿ قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ اَللّٰهُ الصَّمَدُ، لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُوْلَدْ وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ ﴾

[ سورة الاخلاص ]۔

۱۹ – اعوذ بالله من الشيطان الرجیم ۔

بسم الله الرحمن الرحیم:

﴿ قُلْ أَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ، مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ، وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ اِذَا وَقَبَ، وَمِنْ شَرِّ النَّفّٰثٰتِ فِی الْعُقَدِ، وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ اِذَا حَسَدَ ﴾ .

[ سورة الفلق ].

۲۰ – اعوذ بالله من الشيطان الرجیم۔

بسم الله الرحمن الرحيم :

﴿ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ، مَلِكِ النَّاسِ، إِلٰهِ النَّاسِ، مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ، الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ، مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ ﴾ .

[ سورة الناس ] .

هركله چه دا دم دمريض په غوږ کښې په ترتيل اوپه اوچت آواز سره اووئيلے شي نو ددے راتلونکو درے حالاتو نه به مريض په يو حالت کښې شي :

## اول حالت :

يا به په مريض باندے چپه (غوټه) راشي اوده په ژبه به هغه پيرے چه په ده باندے دسحر په وجه مسلط شوے وی خبرے شروع کړی، نو په دے وخت کښې به ته ده سره هغه معامله اوکړے کومه معامله چه دعام پيريانو واله مريض سره کيږی، اوددے طريقه ما په تفصيل سره په کتاب (وقاية الانسان) کښې ليکلے ده، دکتاب داوګدوالی دوجے نه مونږ هغه په تفصيل سره نشو ذکر کولے، البته دومره وئيلے شو چه دا لاندينی تپوسونه ترے اوکړئ :

★ ستا څه نوم دے ؟

★ ستا دين څه دے ؟

نو دے وخت کښې به ته هغه سره دهغه ددين مطابق معامله اوکړے، نو که هغه غير مسلم وونو داسلام دعوت ورله ورکړه، اوکه مسلمان وونو دا خبره ورته ظاهره کړه چه دا ته چه کوے کار

کوے نو دا داسلام مخالف کار دے او جائز نه دے.

★ دسحر اوجادو دځائے تپوس ترے اوکړه چه جادو کوم ځائے کښے دے؟

که ځائے اوښائی نو فورا ځوك اوليږه اوهغه جادو را اوباسه.

اودا خبره ياد ساته چه پيريان اکثر دروغ وائی ترڅو چه درته پوره خبره ښکاره شوی نه وی نو په خبره ئے يقين مه کوه.

★ دا تپوس ترے اوکړه چه ته يوائے دجادو په وجه په دے مقرر شوے ئے اوکه بل ځوك هم درسره شته؟

که بل ځوك ورسره وی نو دده نه مطالبه اوکړه چه هغه خپل ملګری هم راوله، که هغوئ ئے هم راوستل نو هغوئ هم په هغه طريقه پوهه کړه کومه چه مونږ په (وقاية الانسان) کتاب کښے ذکر کړيده.

(وقاية الانسان من الجن والشيطان فصل ثانی).

★ کله کله پيرے اووائی: چه فلانے سړے جادوګر ته تلے وو اود هغه نه ئے دا مطالبه کړے وه چه په دے مريض باندے جادو اوکړه. نو دده دے خبرے تصديق مه کوه، ځکه چه د دوئ مقصد صرف دخلقو په مينځ کښے دشمنی پيدا کول وی، اوددے وجے نه هم چه دده ګواهی شرعا مردود او ناقابل قبول ده، ځکه چه دا فاسق فاجر دے اود جادوګرو خدمتګار دے.

الله جل شانه فرمائی:

﴿ يا أيها الذين آمنوا ان جاءكم فاسق بنبأ فتبينوا أن تصيبوا

قوما بجهالة فتصبحوا على ما فعلتم نادمين ﴾.

[ سوره الحجرات آيت : ٦].

ترجمه : (اے ایمان والو ! که چرے تاسو ته یو فاسق شخص یو خبر راوړی نو د هغے تحقیق اوکړئ، هسے نه چه تاسو به یو قوم ته په ناپوهئ سره رسیدل اوکړئ نو بیا به په خپلو کړو باندے پښیمانه یئ).

که چرے پیرے هغه ځائے اوښائی کوم کښے چه جادو وی او تا دهغه ځائے نه هغه شے حاصل کړے وی په کوم باندے چه جادوګر جادو کړے وی نو ته په یو لوخی کښے اوبه واچوه او هغه خپلے خلے ته رانزدے کړه، په داسے شان سره چه ستا دخلے تاؤ لوخی کښے غورځیږی اودا آیتونه وریاندے اولوله :

﴿ وأوحينا الى موسى ان الق عصاك فاذا هي تلقف ما يأفكون ، فوقع الحق وبطل ما كانوا يعملون، فغلبوا هنالك وانقلبوا صاغرين ، والقى السحرة ساجدين، قالوا آمنا برب العالمين، رب موسى وهارون ﴾.

[ سورة الأعراف ، آيت : ۱۱۷ – ۱۲۲].

﴿ قال موسى ما جئتم به السحر ان الله سيبطله ان الله لا يصلح عمل المفسدين ويحق الله الحق بكلماته ولو كره المجرمون ﴾.

[ سورة يونس آيت : ۸۱، ۸۲].

﴿ انما صنعوا كيد ساحر ولايفلح الساحر حيث أتى ﴾.

Maktaba Tul Ishaat.com

[ سوره طه آیت : ٦٩].

بیا دغه جادو که په هر شی کښې وی که په کاغذ کښې وی یا په خوشبوی کښې وی یا په بل شی کښې وی هغه په دے اوبو کښې ویلی کړه او بیا ددے نه پس ئے دعامو خلقو دلارو نه جدا چرته لرے ئے توئے کړه.

اوکه پیری اووئیل چه مریض جادو څکلے دے نو بیا ته دمریض نه تپوس اوکړه چه آیا ته په معده کښې شدید درد محسوسه وے ؟

که چرے مریض اووئیل : آو، نو پوهه شه چه پیری رشتیا وئیلی دی.

اوکه چرے ډیر درد نه وی نو بیا پیرے دروغژن دے.

که چرے تاته معلومه شوه چه د پیری خبره رشتیا ده نو اتفاق ورسره اوکړه اوپیری ته اووایه چه ددے مریض نه اوځه او لاړ شه چه بیا واپس رانه شے، نو ان شاء الله چه ته به دغه جادو ختم کړے.

بیا ته اوبه را اوغواړه او په هغے دا آیتونه تلاوت کړه کوم چه دا مخکښې ذکر شو او دسورت بقرے (۱۰۲) نمبر آیت به هم ور زیات کړے (په دے وخت کښې دا آیتونه لوستل زمونږ خپل اجتهاد دے دا توقیفی نه دے).

بیا دے دا اوبه مریض اوڅکی او څو ورځے به وربانديے غسل هم اوکړی.

اوکه پیری اووئیل چه مریض په سحر باندے دپاسه تیر شوے دے یا دده په جامو وغیره باندے سحر شوے دے نو بیا ته په دغه

مخکښې ذکر شوې آيتونو باندې اوبه دَم کړه او مريض دې ځو ورځې څکي او هم دې ورباندې دغسل خانې نه بهر غسل کوی اوبيا دې دغه مستعملې اوبه په لاره کښې تويځ کوی يا په بل يو ځائې کښې چه دغسل خانې نه لرې وی .

دا کار دې ددرد دختميدلو پورې جاری اوساتی .

بيا به جِنی ( پيری) ته حکم اوکړی چه ددې مريض نه لوځه او وعده به ترې واخلی چه بيا رانشي . (هغه وعده په وقاية الانسان کتاب صفحه : ۸۶ کښې موجوده ده، يا په بله شرعی طريقه سره ترې وعده واخله) .

بيا به مريض يوه هفته پس راشی اوته به ورباندې دغه دم دوباره واچوې .

که چرې هيڅ شئے محسوس نه کړو نو الحمد لله جادو ختم شوې دې .

اوکه په مريض باندې غوټه ( چپه) راغله نو پيرى چه د نه راتلو کومه وعده کړې وه په هغې کښې دروغجن دې اونه دې وتلې .

نو بيا ته دده نه دمريض نه دنه وتلو دسبب تپوس اوکړه اود نرمئ معامله ورسره اوکړه، که خبره ئې اومنله نو داالله ثناء وئيل پکار دی، اوکه وې نه منله نو بيا دوهلو اود قرآن کريم دتلاوت نه کار واخله تردې چه پيرې اووځی .

اوکه ددم په دوران کښې ورباندې چپه (غوټه) رانغله، ليکن دسر درد ئې محسوس کړو اويا ورپيدو نويو کيسټ ورله ورکړه چه

Maktaba Tul Ishaat.com

په هغې کښې آية الکرسی مکرره ثبت (ريکارډ) شوی وی چه ديوې مياشت پورې ئې يوه ګينټې دپاره دګوشکونو (هيډ فون) په ذريعه په ورځ کښې درې ځله آوری، بيا دې يوه مياشت پس راشی او بيا ورباندې هغه دم اولوله، اميد دې چه - ان شاء الله - جوړ شوې به وی.

اوکه جوړ شوې نه وو نو په يو کيسټ کښې ورله سوره الصافات، سورت يس، سوره الدخان، سوره الجن ثبت (ريکارډ) کړه او ورله ئې ورکړه چه په همدغه مخکنئ طريقه ئې ددرې هفتو دپاره اوری ان شاء الله جوړ به شی اوکه جوړ نشو نو دکيسټ داوريدو موده ورته زياته کړه.

★ دويم حالت:

که په مريض ددم په دوران کښې غوټه (چپه) رانغله ليکن که د سر چکر دبدن ريږدل او سر کښې ئې سخت درد محسوس کړو نو په دې وخت کښې نه بيا مريض په هغه مخکښې ذکر شوی دم باندې درې درې ځله بار بار دم کړه که چپه (غوټه) ورباندې راغله نو داولنی حالت والا پشان علاج ورله اوکړه.

اوکه چپه ورباندې راغله اود سر درد اود بدن ريږدلو کښې ئې کمې راغې نو بيا ئې په دغه دم څو ورځې دم کړه - ان شاء الله - شفاء به ورته نصيب شی.

اوکه مريض جوړ نشو نو دا لاندينئ ذکر شوې طريقه ورسره اوکړه:

★ يو کيسټ کښې ورته مکمل يو ځل سوره الصافات او آيت الکرسي بار بار ثبت (ريکارډ) کړه. او مريض دې هره ورځ کښې دا درې ځله آوري.

★ مريض دې دجمعې دمونځ پابندي کوي.

★ دسحر مونځ نه پس دې هره ورځ سل ځله د يوې مياشتې پورې دا کلمات لولي:

(لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ).

او مريض دې دا خبره ياد لري چه تقريبا اولنو لس پنځلسو ورځو پورې به دده په دردونو کښې زيات والے راځي او بيا به په مزه مزه کميږي اود مياشتې تر ختميدو پورې به ئې ټول دردونه ختم شي.

اودا هم کيدے شي چه ټوله مياشت دده په دردونو کښې زيات والے راځي او هيڅ ښه والے به نه کوي، که داسې اوشي نو بيا ئې داولني حالت په ذکر شوو آيتونو باندې څو ځله دم کړه نو ان شاء الله چپه (غوټه) به ورباندې راشي اودده په ژبه به پيرې خبرې شروع کړي نو بيا ورسره هغه عمل اوکړه کوم چه مونږ په اول حالت کښې ذکر کړو.

★ دريم حالت:

چه مريض ددم په دوران کښې هيڅ هم محسوس نه کړي که داسې اوشي نو بيا ترې دوباره دبيمارئ دعلامو پوښتنه اوکړه، که

Maktaba Tul Ishaat.com

چرے دجادو اکثر او غتے علامے پکښے پوره موجود نه وی نو بیا دا نه جادو دے او نه مرض دے. البته د ډیر تاکید دپاره وربانده دے ځله هغه مخکښے ذکر شوے دم واچوه.

او که دجادو اکثر او غتے علامے په کښے موجود وے او تا وربانده بار بار دم هم واچولو، لیکن ددے باوجود ئے بیا هم څه محسوس نه کړل - او داسے ډیر کم وی - نو دا تعلیمات ورته ورکړه:

★ یوه کیسټ کښے ورته سوره یس، سوره الدخان، سوره الجن ثبت (ریکارډ) کړه او ورته اووایه چه ورځ کښے ئے درے ځله اوره.

★ هره ورځ سل ځله استغفار وئیل اویا ددے نه زیات.

★ هره ورځ سل ځله (لَا حَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ) وئیل او یا ددے نه زیات.

دا ټول هر څه د یوے میاشتے دپاره دی، بیا یوه میاشت پس هغه مخکنے ذکر شوے دم وربانده واچوه او هغه طریقه ورسره اوکړه کومه چه مخکښے دواړو حالتونو کښے ذکر شوه.

## دریمه مرحله: د علاج نه روسته:

کله چه الله جل شانه ستا په لاس او ستا په ذریعه بانده مریض ته شِفاء ورکړه او عافیت ئے محسوس کړو نو دالله حمد او ثناء اووایه چه تاته ئے ددے توفیق درکړو، الله جل شانه ته عاجزی نوره هم زیاته کړه چه نور زیات توفیق هم درکړی. دانه چه تا کښے تکبر راشی ځکه چه الله تعالیٰ فرمائی:

﴿ واذ تأذن ربكم لئن شكرتم لأزيدنكم ولئن كفرتم ان عذابي لشديد ﴾ .

[ سوره ابراهيم آيت : ۷ ]

ترجمه : اوكله چه خبر دركړو تاسو ته رب ستاسو په دے چه قسم دے كه چرے تاسو شكر اوكړلو (په دركړو نعمتونو زما باندے) نو خامخا زيات به دركړم تاسو ته (نعمتونه) اوقسم دے كه ناشكرى مو اوكړه (دنعمتونو زما) نو بيشكه عذاب زما خامخا ډير سخت دے .

ستا ددمولو نه پس ددے خبرے امكان شته چه په دے مريض باندے بيا جادو اوشى، ځكه كله چه دغه خلقو ته دا معلومه شى چه مريض چرته دعلاج دپاره كوم معالج ته تلے دے نو دوئ دجادوګر نه بيا دجادو كولو مطالبه كوى، ددے دوجے نه مريض له پكار دى چه دعلاج كولو په وخت كښے دے ځوك نه خبروى اود دے لاندينو كارونو پابندى دے اوكړى .

۱ – په جَمعے سره دمونځ ادا كولو پابندى .

۲ – دسندرو او موسيقئ داوريدلو نه ځان ساتل .

۳ – داوده كيدو نه مخكښے اودس كول .

٤ – د هر كار كولو په وخت كښے بسم الله وئيل .

د سَحر مونځ نه پس :

(لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ) روزانه سل ځله لوستل .

Maktaba Tul Ishaat.com

۵ – روزانه د قرآن کریم تلاوت په پابندئ سره کول. که په خپله ئے نشی کولے نو دبل چانه دے آوری.

٦ – دنیکانو خلقو سره ناسته پاسته کول.

۷ – د سَحر اومابنام چه کوم اذکار دی دهغے پابندی کول.

* * * * *

# د سِحر التفریق د علاج عملی نمونے

## اوله نمونه

یوه ښځه وه چه دخپل خاوند نه ئے سخت نفرت پیدا شوے وو اوډیر سخت به ئے بدی شه. اود سِحر علامے په کښے ښکاره او واضحے وے اود خاوند دکور نه ئے زړه بدی شوے وه او تنګیدله به، بلکه دخاوند نه به هم تنګه وه. اوخاوند به ورته په یو خطرناك او یرونکی شکل کښے ښکاره کیدو، لکه چه دا یو وحشی اوشلونکے ځناور دے او انسان نه دے.

دغه سړی خپله ښځه یو قرآنی علاج کولو والا ته بوتله، کله چه هغه په دے باندے قرآن کریم اولوستلو نو یو جِنی (پیری) دهغے په ژبه باندے خبرے شروع کړے او وے وئیل چه زه دجادو په ذریعه په دے ښځه باندے مسلط شوے یم چه ددے ښځے اوخاوند په مینځ کښے جدائی راولم.

هغه علاج کونکی ډیر اوواهه خو لیکن بیا هم هغه وتلو ته تیار نه وو. تردے چه هغه خاوند ئے راته اووئیل : چه ما یوه میاشت پورے خپله ښځه دے معالج ته دعلاج دپاره راوستله، خو بالآخر دے

پیرې ددې خاوند نه دا مطالبه اوکړه چه دې ښځې ته طلاق ورکړي اګرکه یو طلاق وي.

خاوند دغه مطالبه اومنله طلاق ئې ورکړو اوبیائې ورته رجوع اوکړه. صرف همدغه یوه هفته دا ښځه روغه وه، دې نه پس بیا ښځه مریضه شوه، بیا دغه سړي دغه خپله ښځه ماته دعلاج دپاره راوستله.

ما چه کله وربانډې قرآن کریم اولوستلو نو په ښځه باندې چپه (غوټه) راغله اوزما اود پیرې په مینځ کښې بیا دا لاندینۍ خبرې شوې دي چه زه ئې په اختصار سره ذکر کوم:

ما پیرې ته اووئیل: ستا څه نوم دې؟

پیرې اووئیل: شقوان.

ما ورته اووئیل: دین دې کوم یو دې؟

هغه اووئیل: نصراني.

ما ورته اووئیل: چه ته په دې ښځه باندې ولې راځې؟

هغه اووئیل: چه ددې دپاره وربانډې راځم چه ددې ښځې او خاوند ترمینځه جدائي راولم.

ما ورته اووئیل: چه زه یوه خبره تاته کول غواړم. که چرې دې قبوله کړه نو (الحمد لله) اوکه نه نو تاله اختیار دې.

پیرې اووئیل: هسې ځان مه ستړې کوه زه په هیڅ شان سره ددې ښځې نه نه اوځم. ددې خاوند دا فلاني فلاني شخص له بوتلې

دد

ما ورته اووئیل : زه له تانه دا نه غواړم چه ته ددې نه اوځې.
هغه اووئیل : نو بیا ستا څه اراده ده ؟
ما ورته اووئیل : زما اراده داده چه تاته اسلام پیش کړم نو که قبول دې کړو الحمد للّه، اوکه نه نو ددین په منلو کښې په چا باندې زور نشته. بیا مې ورته اسلام پیش کړو، نو ډیرې جګړې اود اوګدې مناقشې نه پس ئې اسلام قبول کړو. الحمد لله.
ما ورته اووئیل : چه آیا حقیقي ایمان دې راوړو اوکه نه مونږ ته دهوکه راکوې ؟
هغه اووئیل : ستا هیڅ طاقت نشته چه ما په څه شی باندې مجبور کړې، لیکن ما د زړه نه ایمان راوړې دې خو لیکن ....
ما ورته اووئیل : ولې ؟
هغه اووئیل : چه زه خپلې مخې ته اوس یوه ډله د نصرانیانو پیریانو وینم چه ماته د قتل دهمکی راکوی.
ما ورته اووئیل : چه دا خو آسان کار دې که مونږ په دې پوهه شو چه تا واقعي ایمان راوړې دې نو مونږ به تاله داسې قوی اسلحه درکړو چه دنصرانیانو پیریانو نه به هیڅ یو تن هم تاته نشی نزدې کیدې.
هغه اووئیل : همدا اوس ئې راکړه.
ما ورته اووئیل : چه ترڅو دا مجلس نه وی ختم شوې تر هغې ئې نه درکوم.
هغه اووئیل : ددې نه پس نور څه غواړې ؟

ما ورته اووئيل : كه واقعي تا اسلام راوړے وي نو دكفر نه توبه ستا ترهغه وخته پورے نا مكمله ده چه تر څو ته ظلم پرے نه گدے اوددے ښځے نه اونه وځے .

هغه اووئيل : چه آو، بالكل زه مسلمان شوم خو ليكن دجادوگر نه به څنگه خلاصيږم ؟

ما ورته اووئيل : چه دا خو آسان كار دے خو چه ته زمونږ دا خبره اومنے.

هغه اووئيل : آو، زه ستاسو خبره منم .

ما ورته اووئيل : جادو چرته دے ؟

هغه اووئيل : چه دښځے دكور په صحن (ميدان) كښې دے، البته زه يقيني طور سره دا نشم وئيلے چه دصحن په كومه حصه كښې دے، ځكه چه دهغے دحفاظت دپاره يو پيرے مقرر شوے دے چه هر كله دهغے جادو ځائے معلوم كړے شي نو هغه ئے دهغه ځائے نه بل ځائے ته منتقل كړي .

ما ورته اووئيل : ته دڅو كالو نه ددے جادوگر سره كار كوے؟

هغه اووئيل : دلسو يا شلو كالونه (زما په دے كښې شك دے چه څوئے اووئيل) اوددے نه مخكښې زه په درے نورو ښځو كښې هم داخل شوے وم .

بيا ئے ماته دهغے درے واړو ښځو قيصے هم اوكړے .

هركله چه ما ته دهغه صدق او رښتيا معلوم شو نو بيا مے ورته اووئيل چه ما تاسره كومه وعده كړے وه هغه اسلحه اوس

Maktaba Tul Ishaat.com

واخله.

هغه اووئیل : کومه ده؟

ما ورته اووئیل : هغه اسلحه آیة الکرسی ده، کله هم چه تاسره نزدے څوك جِنی (پیرے) وی نو دا اولوله نو هغه به ستا دخوانه تختی.

ما ورته اووئیل : آیا آیت الکرسی دے زده ده؟

هغه اووئیل : آو، ددے بنځے د ډیرو لوستلو دوجے نه مے زده شوے ده.

هغه اووئیل : چه د جادوګر نه به څنګه خلاصیږم؟

ما ورته اووئیل : چه اوس ددے بنځے نه اوځه اومکے مکرمے ته لاړ شه اوپه حرم شریف کښے کوم ځائے کښے چه مؤمنان جِنات وی هغوئ سره اوسیږه.

هغه اووئیل : آیا الله تعالیٰ به ما ددے ټولو ګناهونو باوجود قبول کړی؟ ما خو ددے نه مخکښے نورے ډیرے بنځے تنګے کړی دی.

ما ورته اووئیل : آو، الله جل شانه فرمائی :

﴿ قل یا عبادی الذین اسرفوا علی انفسهم لا تقنطوا من رحمة الله ان الله یغفر الذنوب جمیعا انه هو الغفور الرحیم ﴾.

[ سوره الزمر آیت : ۵۳].

ترجمه : اووایه (اے پیغمبره!) – چه الله فرمائی – : اے بندګانو (مؤمنانو) زما هغه کسانو چه اسراف مو کړے دے په

ځانونو خپلو! مه نا امیده کیږئ د ... د الله نه (ځکه چه بیشکه الله تعالیٰ ښښنه کوی دټولو ګناهونو (اګرکه ډیر هم وی بغیر دشرك نه) بیشکه چه همدا الله بخونکے مهربانه دے.

پیری چه دا واوریدو نو په ژړا شو، بیا ئے اووئیل: چه کله زه لاړ شم نو ددے ښځے نه زما له طرفه معافی اوغواړئ چه ماته بخښنه اوکړی. بیا ئے دنه راتلو وعده اوکړه.

بیا مے ددغه ښځے خاوند له اوبه د قرآن کریم په آیتونو باندے دم کړے او ورته مے اووئیل چه دا اوبه دکور په میدان کښے چنړکاؤ کړه بیا څه موده پس دښځے خاوند ماته خبر راکړو چه هغه بی بی اوس الحمد لله ښه ده. دا یقینا دالله په فضل سره اوشو په دے کښے زما هیڅ کمال نه وو.

❊ ❊ ❊ ❊

## دویمه نمونه

ماته یو سړے راغے او وے وئیل چه کله نه ما واده کړے دے دهغے وخت نه زما او زما د ښځے ترمینځه شدید اختلاف پیدا شوے دے بلکه زه ئے ډیر زیات بدی شم زما یوه خبره هم نه برداشت کوی اودا خوښه ګڼړی چه د مانه جدا وی اوترڅو چه زه په کور کښے نه یم تر هغے پورے ښه راحت محسوسه وی اوچه کله زه کورته راشم نو ته به وائے چه بدن ئے دغصے نه اور اخلی.

ما دهغه ښځه دم کړه ددم په دوران کښے هغے په لاسونو او خپو کښے سست والے او په سینه کښے ئے تنګی او په سر کښے ئے

Maktaba Tul Ishaat.com

درد محسوس کړو، لیکن غوټه (چپه) وربانديے رانغله.

ما ورله يو څو سورتونه په کیسټ کښې ثبت (ریکارډ) شوي ورکړل او ورته مے اووئيل چه دا تر پنځه څلويښت ورځو پورے هره ورځ آوره، او بيا ماته راشه.

بيا څه موده پس ئے خاوند ماته راغے او وے وئيل: چه يو عجيب واقعه اوشوه.

ما ورته اووئيل: خير خو دے څه شوي دي؟

هغه اووئيل: چه کله مونږ دواړو تاته د راتلو پخه اراده اوکړه نو په ښځه مے غوټه (چپه) راغله او يو پيري د هغے په ژبه خبرے شروع کړے او وے وئيل: چه زه به تاسو ته ټول حال اووايم خو په دے شرط چه ما به هغه شيخ ته نه بوځئ.

بيا ئے اووئيل: زه دجادو په ذريعه سره دے ښځه کښې داخل شوے يم. اوکه تاسو زما په خبره يقين نه کوئ نو دغه تکيه راوړئ کله چه هغه تکيه پرانستے شوه نو په هغے کښې څو کاغذونه موجود وو چه په هغے باندے دجادو الفاظ ليکل شوي وو، بيا هغه اووئيل چه دا کاغذونه اوسوزوئ نو په دے چه کوم جادو شوے دے هغه به بے اثره شي په دے شرط چه زه به ددے ښځے مخے ته راځم اولاس به ورسره ملاووم. خاوند ورله اجازت ورکړو فورا ښځه را پاڅيده او خپل دواړه لاسونه ئے اوګده کړل لکه څوك چه چا سره مصافحه کوي (لاس ملاووي).

کله چه ئے ماته دا قيصه اوکړه نو ما ورته اووئيل چه تا غلطي

کړې ده چه د مصافحې اجازت دې ورکړې دې، ځکه چه داسې کار کول حرام دی، ځکه رسول الله ﷺ دغیر محرم سره د ښځې دلاس ملاوولو نه منع فرمائیلې ده.

یوه هفته پس هغه ښځه بیا مریضه شوه او ماته ئې راوسته، ما لا: اعوذ بالله نه وه وئیلې چه په ښځه باندې بیا غوته راغله اود پیری سره زما دا لاندینۍ خبرې اترې اوشوې.

ما ورته اووئیل: اې دروغجنه دوباره ولې راغلې ئې؟

هغه اووئیل: هر څه درته وایم لیکن په دې شرط چه وهۍ به مې نه!

ما ورته اووئیل: اووایه!

هغه اووئیل: واقعی ما دروغ وئیلي وو په هغه تکیه کښې کاغذونه ما ایښي وو، دې دپاره چه زما خبره تاسو اومنۍ زه ددې نه نه یم وتلې.

ما ورته اووئیل: تا دوئ سره دهوکه اوکړه؟

هغه اووئیل: زه څه اوکړم زه خو ددې بدن پورې دجادو په وجه تړل شوې یم.

ما ورته اووئیل: آیا ته مسلمان ئې؟

هغه اووئیل: آو!

ما ورته اووئیل: د مسلمان دپاره خو دا جائز نه دی چه د جادوګر سره کار اوکړي اود هغه خدمت اوکړي. ځکه چه دا کار حرام دې اود لویو ګناهونو نه یوه ګناه ده، آیا ته جنت غواړې که نه

هغه اووئیل : آو ! غوارم ئے .

ما ورته اووئیل : نو اوس جادوگر پریده اود مؤمنانو جناتو خواته لاړ شه اود الله تعالیٰ عبادت کوه ځکه چه دجادوگر لاره په دنیا کښے د بدبختئ ده او په آخرت کښے جهنم دے .

هغه اووئیل : دابه څنګه اوشی، هغه خو په ما باندے مسلط دے .

ما ورته اووئیل : چه هغه په تا باندے ستا دګناهونو دوجے نه مسلط دے لیکن که تا په رشتیا سره توبه اوویستله او الله جل شانه ته اوګرځیدلے نو هغه هیڅ کله په تا باندے قابو نشی موندلے، ځکه الله فرمائی :

﴿ ولن یجعل الله للکافرین علی المؤمنین سبیلا ﴾ .

ترجمه : او هرګز به اونه ګرځوی الله تعالیٰ کافرانو لره په مؤمنانو باندے لار (دغلبے) .

هغه اووئیل : چه زما توبه ده، اوددے ښځے دپریښودلو پخه وعده کوم چه بیا به وربانده نه راځم .

دغه شان الله - جل شانه - هغے ښځے ته شفا ورکړه .

په دے باندے زه دالله تعالیٰ ډیر شکر ګذاریم .

څه موده پس دهغے خاوند ماته راغے او وے وئیل چه هغه اوس الحمد لله ښه ده .

## دریمه نمونه

دیوے ښځے خاوند ماته راغے او وے وئیل چه ښځه مے دمانه

ډیر نفرت کوی او ماسره اوسیدل نه غواړی، سره ددې نه چه زه ورسره ډیر محبت کوم. اوداکار بغیر دڅه اسبابو نه یکدم ناګهانه راپیښ شوې دې. ما دهغې دخاوند په مخکښې په هغې ښځې باندې قرآن کریم اولوستلو نو غوږه (چپه) ورباندې راغله او په هغې کښې چه کوم پیرې وو زما او دهغه ترمینځه بیا دا خبرې اترې اوشوې.

ما ورته اووئیل: آیا ته مسلمان ئې ؟

هغه اووئیل: آو، زه مسلمان یم.

ما ورته اووئیل: ته په دې ښځه باندې ولې راځې ؟

هغه اووئیل: زه دجادو په ذریعه په دې کښې داخل شوې یم کوم جادو چه فلانئ ښځې په دې باندې کړې دې اود خوشبوئ په شیشه (بوتل) کښې دې. اوزه په دې کښې دداخلیدو دپاره د ډیرې مودې نه دې پسې لګیدلې ووم، یوه ورځ یو غل د دوئ دکور په چهت باندې ختلې وو، نو دا اوویریده نو زه په دغه وخت کښې په دې کښې داخل شوم.

دلته ددې خبرې وضاحت ضروری دې چه جادوګر کله په چا باندې جادو کول سراړی نو یو پیرې هغه طرفته اولیږی نو دغه پیرې فورا په هغه شخص کښې نه داخلیږی بلکه هغه دخپلو داخلیدلو دپاره یوه مناسبه موقعه ګوری، او هغه مناسب موقعې دادی:

۱ — سخته ویره ترهه.

Maktaba Tul Ishaat.com

۲ – سخته غصه.

۳ – سخت غفلت.

٤ – شهوت پرستئ کښې مشغولیت.

کله چه په کوم شخص باندې جادو کول مقصود وی نوپه هغه چه کله ددې څلورو حالاتونه یو حالت راشی نو پیری ته دداخلیدلو موقعه ملاؤ شی.

مګر دا چه څوك په اودس کښې وی اود الله – جل شانه – ذکر دده په ژبه جاری وی نو په هغه کښې نشی داخلیدې.

اوماته پخپله څو پیریانو وئیلی دی چه کله پیرې انسان کښې داخلیږی اوپه دغه وخت کښې دې ذکر کوی نو پیرې سوزی، دې وجې نه دپیری دپاره دغه لمحه په ژوندګئ کښې مشکل ترینه لمحه وی.

پیری اووئیل: چه دا ښځه ډیره ښه اوساده ده.

ما ورته اووئیل: اوس دالله فرمانبرداری اوکړه اوددې ښځې نه اوځه او چه بیا رانشې.

هغه اووئیل: په دې شرط به اوځم چه ددې خاوند هغه بلې ښځې له طلاق ورکړی.

ما ورته اووئیل: چه ستا شرط غیر مقبول دې که اوځې نوصحیح ده اوکه نه اوځې نو مونږ به دې اوسوزه وو.

پیری اووئیل: اوځم.

بیا پیرې دښځې نه لاړو – الحمد لله – زه دالله شکر ادا کوم.

ددے نه پس ما دهغے خاوند ته اووئیل چه د پیری دا خبره چه په دے باندے فلانئ ښځے جادو کړے دے دا غلطه ده، ځکه چه دپیریانو مقصد صرف داوی چه دخلقو ترمینځه نفرت اودشمنی پیدا کړی نولهذا ددے په خبره یقین مه کوئ.

## څلورمه نمونه

یو شخص چه په قرآن کریم باندے به ئے دخلقو علاج کولو وائی چه ماته یو تن خپله ښځه راوستله او وے وئیل چه دا ښځه مے ما سره سخت بغض لری اوزه چه دے سره کور کښے یم نو دا ډیره خوشحاله وی. کله چه ما دهغے ښځے نه تپوس نه اوکړل نو ماته معلومه شوه چه په دې باندے سحر التفریق شوے دے.

کله چه ما په هغے باندے قرآن کریم اولوستلو نویو پیری دهغے په ژبه ما سره خبرے شروع کړے اوزما اود هغه ترمینځه دا مکالمه (خبرے اترے) اوشوے چه زه ئے اوس په اختصار سره ذکرکوم.

ما ورته اووئیل: ستا څه نوم دے؟

هغه اووئیل: زه تاته خپل نوم نه ښائم.

ما ورته اووئیل: دین دے کوم یو دے؟

هغه اووئیل: اسلام.

ما ورته اووئیل: آیا دمسلمان دپاره دا جائز دی چه یوه مسلمانه ښځه په عذاب کښے مبتلا کړی؟

هغه اووئیل: زه ددے سره محبت لرم عذاب نه ورکوم، لیکن

Maktaba Tul Ishaat.com

زه غوارم چه دا دخپل خاوند نه جدا کړم.
ما ورته اووئیل : آیا ته ددوئ ترمینځه جدا والے غواړے ؟
هغه اووئیل : آو !
ما ورته اووئیل : چه دا خو ستا دپاره جائز نه دی. دالله خبره اومنه اوددے نه اوځه.
هغه اووئیل : نا . . . نا . . . زه دے سره محبت لرم.
ما ورته اووئیل : دا خو تانه نفرت کری.
هغه اووئیل : نا . . . دا هم ما سره محبت کوی.
ما ورته اووئیل : ته دروغ وائے دا تانه نفرت کوی، دا خو دے دپاره ماته راغلی ده چه زه تا ددے دبدن نه اوباسم.
هغه اووئیل : زه هیڅکله ددے نه نه اوځم.
ما ورته اووئیل : اوس به دے د قرآن کریم په ذریعه دالله – جل شانه – په طاقت اوقوت سره اوسوزوم.
بیا مے ورباندے د قرآن کریم آیتونه اولوستل نو چغے ئے کړے.
ما ورته اووئیل : اوځے ؟
هغه اووئیل : آو! اوځم خو په یو شرط سره.
ما ورته اووئیل : څه شرط دے ؟
هغه اووئیل : ددے نه به اوځم او په تاکښے به داخل شم.
ما ورته اووئیل : هیڅ پروا نه کوی که ستا طاقت وی ما کښے داخل شه خو ددے نه فورا اوځه، لږ انتظار ئے اوکړو او بیا په ژړا

ما ورته اووئیل : ولے ژاړے ؟

هغه اووئیل : نن هیڅ یو جِنی (پیرے) دا طاقت نه لری چه تا کښے داخل شی .

ما ورته اووئیل : ولے ؟

هغه اووئیل : ځکه چه تا نن سَحر سل ځله :

( لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ) وئیلے دے .

ما ورته اووئیل : چه رسول اللّٰه ﷺ رشتیا فرمائیلی دی :

چا چه دا کلمات په ورځ کښے سل ځله اووئیل نو هغه ته به د لسو غلامانو آزادولو ثواب ملاؤ شی ، اوده دپاره به سل نیکئ اولیکلے شی اوسل گناهونه به ئے معاف شی، او تر ماښامه پورے به دشیطان نه په حفاظت کښے وی .

(رواه البخاری : ۳۳۸/۶، فتح، ومسلم :۱۷/۱۷، نووی) .

پیری اووئیل : زه اوس اوځم، اود بیا نه راتلو پخه وعده ئے اوکړه .

او ثناء صفت او مهربانی ټول په ټوله صرف الله تعالیٰ لره ده .

* * * *

Maktaba Tul Ishaat.com

# دويم : سحر المحبه
# يعنے دمينے پيدا كولو جادو

نبى كريم ﷺ فرمائيلى دى :

ان الرقى والتمائم والتولة شرك.

(رواه احمد : ۳۸۱/۱) وابوداود (۳۸۸۳) وابن ماجه (۳۵۳۰) والحاكم (٤١٨/٤) واورده الألبانى فى الصحيحة برقم (۳۳۱).

ترجمه : يقينا دمونه، تعويذونه اود خاوند په زړۀ كښے دمحبت اچولو والا شے شرك دے.

دتِوله معنى حافظ ابن اثير رحمه الله داسے كوى : تِوله په كسرے دتاء او فتحے دواؤ سره، هغه شى ته وئيل كيږى چه هغه سړى ته ښځه محبوبه كوى جادو وى اوكه ددے نه علاوه بل شے وى.

ديته شرك ځكه وئيلے شويدے چه دخلقو دا عقيده ده چه دا بذاتِ خود پخپله دالله داراده نه بغير تاثير كوى.

(النهاية : ۲۰۰/۱).

دلته زه يو تنبيه ضرورى ګڼړم هغه دا چه په دے حديث شريف كښے چه كوم دم ته شرك وئيلے شوے دے ددے نه هغه دم مراد دے چه په هغے كښے دجناتو اوشيطانانو وغيره ؤ نه مدد غوښتلے كيږى. پاتے شو په قرآنى كريم اويا په شرعى اذكارو سره دم نو هغه په اجماع دټولو فقهاؤ سره جائز دے. او په صحيح مسلم كښے امام مسلم رحمه الله دنبى كريم ﷺ يو حديث مبارك رانقل

کړي دي چه نبي کريم ﷺ فرمائی :

لا بأس بالرقى مالم يكن فيه شرك۔

(مسلم كتاب السلام : ٦٤، النووى : ١٨٧/١٤)۔

ترجمه : هيڅ باك نشته په دم کښې ترڅو چه په هغې کښې شرك نه وى ۔

## دسِحر المحبة علامات

١ – دحد نه زياته مينه او محبت ۔

٢ – دكثرت جماع شديد خواهش ۔

٣ – دخپلې ښځې دليدلو شديد شوق ۔

٤ – دښځې ړنده تابعدارى كول ۔

## سِحر المحبة څنګه كيږى ؟

دښځې اوخاوند ترمينځه اكثر اختلافات پيداكيږى ليكن هغه ډير زر ختميږى هم۔ اود فطرت مطابق زندګى روانه وى تيريږى، مګر بعض ښځې بې صبرى كوى او ډير زر دجادوګرو په طرف روانې شي اود هغه نه مطالبه اوكړى چه ددې په خاوند باندې جادو اوكړى ، ددې دپاره چه هغه ددې سره محبت شروع كړى ۔ اودا كار ددې ښځې په جهالت او په دين باندې دنه پوهيدلو او كم عقلئ باندې دلالت كوى ځكه چه دا كار حرام او ناجائز دې۔

نودا چه كله ساحر ته لاړه شى نو ساحر ددې نه دخاوند هغه كپړې (جامې) يا رومال يا ټوپئ وغيره اوغواړى چه په هغې كښې دهغه دخولې بوئې وى يعني چه نومې يا وينځل شوې نه وى بلكه

Maktaba Tul Ishaat.com

چه مستعملے وي، بیا دا جادوګر هغے کپړے نه څه تارونه راواخلی او په هغے څه دمونه واچوی او غوټی ورله ورکړی، بیا ورته اووائی چه دا په یو شاړ ځائے کښے دفن کړه او یا ورله دخوراك یا څښاك په شی باندے دم اوکړی چه په هغے کښے دحیض دوینے یا دبل نجاست ملاوټ (ګډون) وی بیا ورته اووائی چه دا اوس دخپل خاوند دخوراك یا څښاك په څیزونو یا په خوشبوئے کښے واچوه۔

## د سِحر المحبة التهه اثرات

۱ – کله کله خاوند ددے سحر په سبب بیمار شی۔ اوماته هغه سرے هم معلوم دے چه ددے په وجه درے کاله مریض وو۔

۲ – کله کله ددے منفی اثر دا هم کیدے شی چه دخاوند دخپلے ښځے سره دمحبت په ځائے نفرت پیدا شی اودا دساحرانو په اصولو باندے دنه پو هیدلو نتیجه وی۔

۳ – کله دا هم اوشی چه ښځه په خپل خاوند باندے ډبل جادو اوکړی چه دهغے په وجه دده ټولے ښځے بدے شی او نفرت ترے کوی۔ اوصرف خپلے ښځے سره محبت کوی چه دهغے په وجه بیا دده خپله مور، خپله خور، خپلے ترورپانے او ټولے خپلوانے ښځے بدے شی۔

٤ – کله کله دسحر مزدوج (ډبل جادو) دا منفی اثر هم کیږی چه خاوند بیا ددنیا ټولے ښځے تردے چه خپله ښځه ئے هم بدے شی او دهغے نه ئے نفرت پیدا شی۔ اوماته داسے سړے هم معلوم دے چه هغه ددغه قسم جادو نه پس خپلے ښځے ته طلاق ورکړے دے۔ بیا

هغه ښځه جادوګر له تلې ده چه واپس دې هغه سِحر المحبه ختم کړي، لیکن ناګهانه دا خبره شوه چه هغه ساحر مړ شوې دې.
(من حفر لاخیه حفرة وقع فیها)
یعنی: څوك چه خپل رور ته کوهے کنی نو پخپله به په کښې غورځیږي.

## د سِحر المحبة اسباب

۱ – دخاوند او ښځے ترمینځه داختلافاتو خوریدل.
۲ – که خاوند مالدار وی نو د هغه دمال طمع اولالچ کول.
۳ – دښځے داخبره محسوسول چه خاوند به مے په ما باندے بل واده اوکړی. اګرچه شرعا په دویم واده کښے هیڅ قباحت نشته، لیکن ددے زمانے ښځے خصوصا هغه ښځے چه دذرائع ابلاغ د پروپیګنډے نه متاثره وی هغوئ دا ګمان کوی چه که چرے ددے خاوند بل واده اوکړی نو دهغے مطلب دادے چه دے داولنئ ښځے سره محبت نه لری. دښځے دا سوچ انتهائی سنګینه غلطی ده ځکه چه خاوند ددویم واده سره سره دخپلے اولنئ ښځے سره هم محبت کوی. دا سے ډیر اسباب شته چه دے دیته مجبور کړی چه دویم دریم څلورم واده اوکړی. مثلا دډیر اولاد خواهش، دحیض اونفاس په وخت کښے دجماع نه نه صبریدل یا دخاوند تعلقاتو مضبوطولو خواهش وغیره.

## حلال سحر

دا یو نصیحت دے چه زه ئے مسلمانے ښځے ته وړاندے کوم او

هغه دا چه ښځه په خپل خاوند باندے په جائزه طريقه سره حلال سحر كولے شى هغه په داسے طريقے سره چه دخاوند دپاره هر وخت خپل ځان ښائسته ساتى، چه دخاوند نظر ددے په بدن كښے په يو قبيح شى اونه لګى۔

خائسته خوشبو استعمالول، هر وخت په خندا او ښائسته الفاظو سره دخپل خاوند استقبال كول۔ خاوند ته ديو ښى ملګرى ثبوت وركول، دخاوند دمال حفاظت كول، دهغه دبچو په ښه طريقے سره پالنه كول، دخاوند اطاعت دهغه وخته پورے كول چه تر څو په كښے دالله تعالىٰ نافرمانى نه وى۔

ليكن كه مونږ په خپله اوسنئ معاشره نظر واچوو نو مونږ په دے كارونو كښے څه عجيبه تناقض او تضاد مومو۔ نن صبا چه ښځه كله يو محفل ته ځى يا يو واده ته يا دخپلو ملګرو (زنانو) ملاقات دپاره ځى نو ښه ډول سنګار كوى،خپل ټول زيورات واچوى، خوشبوئے استعمال كړى۔ ته به وائے لكه چه دا دږومبئ شپے ناوے ده۔

او چه كله واپس كور ته راشي نو خپل ميك اپ (ډول سنګار) ټول خراب كړى۔ ټول زيورات لرے كړى اودبل پروګرام اومحفل دپاره يا ديو بل ملاقات دپاره ئے اوساتى۔ اوخاوند غريب چه دا جامے اوزيورات ئے ددے دپاره په پيسو اخستى دى دهغے دخوند اخستو نه محروم پاتے وى او هميشه خپله ښځه په زړو كپړو كښے ګورى چه دهغے نه دپخلى، اود اوګے پيازو بوئے خيژى۔

حال دا چه که ښځه لګۍ شان دعقل نه کار واخلی نو پوهه به شی چه ددې خاوند ددې دزینت او ښائست کتلو زیات حقدار دې۔ کله چه ستا خاوند دکور نه اوځی نو ته په جلتئ سره دکور کارونه خلاص کړه بیا اولامبه او ځان ښه ښائسته کړه اوډ خپل خاوند دراتلو انتظار کوه، نو چه کله ستا خاوند دکار نه راشی او تا په دغه ښائسته شکل کښې اووینی اوطعام هم تیار وی اوکور هم صفا شوې وی نو تاسره به ئې محبت نور هم زیات شی او تانه علاوه به ئې نور په هیچا نظر نه پریوځی په الله قسم چه دا جائز سِحر او جادو دې۔ او هره ښځه دا جادو په خپل خاوند باندې کولې شی خاصکر په هغه وخت کښې چه په دې ښائست سره ستا نیت دالله اطاعت وی او خپل خاوند دحرام او بد نظرئ نه بچ کول وی ځکه دمور سړی طعام ته اشتهاء نه کیږی، لیکن سړې هغه شی ته پسخیږی او هغه شی ته ئې اشتها کیږی چه دې دهغې نه محروم شوې وی۔ اې زنانه! پوهه شه چه دا ډیرې قیمتی خبرې دی۔

## د سِحر المحبة علاج

۱ – په مریض دې هغه دم اولوستلې شی کوم چه مونږ مخکښې په سحر التفریق کښې ذکر کړو، بغیر دسورت بقرې د آیت (۱۰۲) نه، او دهغې په ځائې دې دسورت التغابن (۱٤، ۱۵، ۱٦) نمبر آیتونه اولوستلې شی او هغه دادی:

﴿ یَـآ اَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡآ اِنَّ مِنۡ اَزۡوَاجِکُمۡ وَاَوۡلَادِکُمۡ عَدُوًّا لَّکُمۡ

Maktaba Tul Ishaat.com

فَاحْذَرُوهُمْ وَإِنْ تَعْفُوا وَتَصْفَحُوا وَتَغْفِرُوا فَإِنَّ اللّٰهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ، إِنَّمَا أَمْوَالُكُمْ وَأَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ وَّاللّٰهُ عِنْدَهُ أَجْرٌ عَظِيمٌ، فَاتَّقُوا اللّٰهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ وَاسْمَعُوا وَأَطِيعُوا وَأَنْفِقُوا خَيْرًا لِأَنْفُسِكُمْ وَمَنْ يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴾

اکثر په دې قسم سِحر باندې اخته شوی خلقو باندې چپه (غوټه) نه راځي بلکه په اندامونو کښې يو قسم نشه او سستي محسوسه وي يا د سردرد يا په معده کښې سخت درد يا زړه تنګي محسوسه وي، خاصکر په هغه وخت کښې چه سحرئې کله ځکلې وي اوکله کله التې هم کوي، که چرې دمعدې دردئې محسوس کړو، يائې التېو ته زړه اوشو نو بيا ورته په دې آيتونو باندې اوبه دم کړه چه وې ځکي.

که چرې زيړ يا سور خيزئې التې کړو نو الحمد لله سحر ختم شو اوکه داسې نه وو نو بيا دې دغه اوبه درې هفتې يا ددې نه زياته موده اوڅکي چه سِحرئې ختم شي.

هغه آيتونه دادي:

* ﴿ قَالَ مُوسٰى مَا جِئْتُمْ بِهِ السِّحْرُ إِنَّ اللّٰهَ سَيُبْطِلُهُ إِنَّ اللّٰهَ لَا يُصْلِحُ عَمَلَ الْمُفْسِدِينَ وَيُحِقُّ اللّٰهُ الْحَقَّ بِكَلِمَاتِهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُونَ ﴾.

[ سورة يونس آيت: ۸۱، ۸۲].

* ﴿ وَأَوْحَيْنَا إِلَى مُوسٰى أَنْ أَلْقِ عَصَاكَ فَإِذَا هِيَ تَلْقَفُ مَا يَأْفِكُونَ، فَوَقَعَ الْحَقُّ وَبَطَلَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ، فَغُلِبُوا هُنَالِكَ

وَانْقَلَبُوْا صَاغِرِيْنَ، وَأُلْقِيَ السَّحَرَةُ سَاجِدِيْنَ، قَالُوْا آمَنَّا بِرَبِّ الْعَالَمِيْنَ، رَبِّ مُوْسٰى وَهَارُوْنَ ﴾.

[ سورة الأعراف ، آيت : ۱۱۷ - ۱۱۸]

* ﴿ اِنَّمَا صَنَعُوْا كَيْدُ سَاحِرٍ وَّلَا يُفْلِحُ السَّاحِرُ حَيْثُ اَتٰى ﴾۔

* آية الكرسي۔

دا آيتونه دے په اوبو باندے اولوستے شي خودا هر څه چه كوي نو د ښځے نه دے پټ كوي ځكه چه كه هغه وړباندے پو هه شي نو دوباره وړباندے بيا جادو كوي ۔

## د سِحر المحبّة دعلاج يوه عملي نمونه

يو سړے راته راغے او وے وئيل چه ما دخپلے ښځے سره طبعي ژوند كولو ليكن د يو څو مياشتو راسے راباندے نا اشنا حالت راغلے دے۔ هغه دا چه زه دخپلے ښځے نه بغير يوه لحظه هم صبر نشم كولے۔ تردے چه په خپل كار كښے يم نو هم مے ذهن په خپله ښځه كښے مصروف وي اوچه دكار نه كور ته راشم او كور ته ننوځم نو په ډير تلوار سره اول ديته ګورم۔ اوچه كله ميلمنو سره ناست يم نو يوه شيبه روسته ميلمانه پريدم اود خپلے ښځے كتو دپاره كور ته راشم اود طبعي عادت نه وړباندے ډير غيرت راځي او دهغے سره په صحبت كښے زيات والے كوم، اوداسے ده لكه چه هغه ما ځان پسے راكاږي چه باورچي خانے ته ننوځي نو شاته وړپسے زه هم ورننوځم اوكه دخوب كمرے ته ننوځي نو شاته وړپسے زه هم ورننوځم، اوكه كور جارو كوي نو شاته وړپسے زه روان يم، كه دڅه شي طلب رانه

Maktaba Tul Ishaat.com

اوکړی نو په ډیر تلوار سره هغه سرته رسوم۔ نه پوهیږم چه څه راباندے شویدی۔

نو ما ورته دقرآن آیتونه په اوبو اولوستل او ورته مے اووئیل چه ددرے هفتو پورے دا څکه او هم وریاندے لامبه ، او بیا ددے مودے نه پس ماته راشه خو چه ښځه دے خبره نه شی ۔ هم داسے ئے اوکړل او چه کله خپلے معینے مودے نه پس راغے نو راته ئے اووئیل چه مرض مے کم شوے دے خو بالکل ښه شوے نه دے ۔ نو ما ورته علاج بیا تکرار کړو۔

والحمد لله ولا حول ولا قوة الا بالله ۔

* * * * *

## دريم : سِحر التخييل (وهم اوخيال)

الله تعالى فرمائي :

﴿ قالوا يا موسى اما ان تلقي واما ان نكون نحن الملقين، قال القوا فلما القوا سحروا اعين الناس واسترهبوهم وجاؤا بسحر عظيم، وأوحينا الى موسى ان الق عصاك فاذا هي تلقف ما يأفكون ، فوقع الحق وبطل ما كانوا يعملون، فغلبوا هنالك وانقلبوا صاغرين ، والقى السحرة ساجدين، قالوا آمنا برب العالمين، رب موسى وهارون ﴾ .

[ سورة الأعراف ، آيت : ۱۱۷ – ۱۲۲ ] .

ترجمه : جادوګرو اووئيل : اے موسى ! آيا ته غورځوے (همسا خپله) اويا داچه شو مونږ (رومبے) غورځونكى (ديږو او همساګانو) ، اووئيل موسى ( عليه السلام) اوغورځوئ تاسو، نو هركله ئے چه اوغورځول نو جادوئے اوكړو په ستركو دخلقو باندے او خلق ئے اويرول او راتګ ئے اوكړو په لوئے جادو باندے.اوحكم اوكړو مونږ موسى (عليه السلام) ته چه اوغورځوه ته همسا خپله (نوكله چه هغه همسا اوغورځوله او ښامار ترے جوړ شو) پس ناګهانه دغه همسا خوړے تيرول هغه څيزونه چه دوئ (په سِحر سره) جوړ كړى وو، نو ثابت شو حق او بيكاره شو هغه څه چه دوئ به كول، نو مغلوب شول دا ساحران په دغه ځائے كښے او اوګرځيدل دوئ خوار ذليل، او اوغورځول شو ساحران په داسے حال

Maktaba Tul Ishaat.com

کبنیے چه دوئ سجده کونکی وو، اووئیل ساحرانو : مونږ ایمان راوړیدیے په رب العالمین باندیے چه رب دموسی او هارون (علیهما السلام) دیے.

او الله تعالی فرمائی :

﴿ قالوا یا موسی اما ان تلقی واما ان نکون اول من القی،قال : بل القوا فاذا حبالهم وعصیهم یخیل الیه من سحرهم انها تسعیٰ﴾

(سورت طه آیت : ٦٥، ٦٦).

ترجمه : اووئیل جادوګرو : اےِ موسی ! یا به ته غورځویے او یا به شو مونږ اول دهغه چا چه غورځوی (همسا خپله) اووئیل موسی ( علیه السلام) اوغورځوئ تاسیے (نو اوغورځول ساحرانو اسباب دسِحر خپل) پس ناګهانه (دغه وخت) هغه پړی ددوئ اوهمساګانے ددوئ ، په خیال کبنیے راوستل کیدل دۀ ته دوجے دجادو ددوئ نه چه ګنیے دا منډیے وهی.

## د سِحر التخییل علامات

۱ – انسان ته ثابت (ولاړ) شیے متحرك اومتحرك شیے ثابت ښکاری.

۲ – وړوکے شیے ورته غټ او غټ شیے ورته وړوکے ښکاری.

۳ – څیزونه ورته بغیر دخپل حقیقت نه ښکاری لکه خلقو ته چه دساحرانو هغه رسئ اوهمساګانے حرکت کونکی ماران ښکاره کیدل.

## سِحر التخییل څنګه کیږی ؟

جادوګر یو داسې شی راوړی چه ټول خلق ئې پیژنی، بیا خپل شرکی دمونه او کفری منترونه اولولی اود شیطانانو نه امداد اوغواړی چه دهغې په نتیجه کښې هغه شې بیا خلقو ته دخیال حقیقت نه بغیر په بل شکل کښې ښکاری. لکه یو کس اته اووئیل چه یوه هګئ دخلقو په مینځ کښې کیدی او بیا وړاندې خپل دمونه اووائی، نو هغه هګئ په ډیره تیزئ سره تاویدونکې خلقو ته ښکاری.

او یو بل تن راته اُووئیل چه دوه کانړی دخلقو په مخکښې کیدی او دخپلو دمونه وئیلو نه پس هغه دواړه کانړی په خپل مینځ کښې دګډانو پشان جنګیږی.

داکارونه چه جادوګر کوی نو یائې مطلب ددې نه دخلقو نه مالونه اخستل وی، او یا ئې خلقو ته خپل ځان غټ سړې ښودل وی، اوکله کله جادوګر دا جادو په نورو سحرونو کښې داخلوی. لکه دجدا والی په سحر کښې چه ښائسته ښځه سړی ته بدرنګه ښکاری، او یا دمحبت سحر چه بدرنګه ښځه سړی ته ښائسته ښکاری. خودا سحر دنورو اقسامو دسحر نه مختلف دې چه دې ته مداری توب وائی، اودا دلاسو په صفایئ باندې بناء وی.

### د سِحر التخییل ختمول

هر هغه شې چه شیطان شړی نو هغه شې دا سحر هم ختموی :

مثلاً لکه :

Maktaba Tul Ishaat.com

★ اذان

★ آیت الکرسی لوستل۔

★ هغه شرعی اذکار چه شیطان شړی۔

★ بسم الله وئیل۔

دا ټول په دے شرط چه انسان اودس اولری۔ که داکار اوکړے شو او بیا هم دهغه چلونه باطل نشو نو بیا دا سحر نه دے بلکه مداری توب او چالاکی ده۔

## د سِحر التخییل ختمولو یوه عملی نمونه

### یو جادوګر مصحف تاووی

په یو کلی کښے یو ساحر وو چه قرآن کریم به ئے راوړلو اود سورت (یس) نه به ئے په یو تار سره اوتړلو اوهغه تار به ئے بیا یو چابی پورے اوتړلو، بیا به ئے دا چابی اوچته کړه او قرآن کریم به ئے زوړند اونیولو او خپلے منترے به ئے وربانډے اووئیلے، بیا به ئے قرآن کریم ته اووئیل چه خی طرفته تاؤ شه نو قرآن کریم به خی طرفته په ډیره تیزئ سره تاؤ شو، بیا به ئے ورته اووئیل چه ګس طرفته تاؤ شه نو ګس طرفته به په ډیره تیزئ سره تاؤ شو سره ددے چه دده لاس به بالکل نه خوزیدلو۔

خلقو دا کار ډیر ځلے اولیدلو نزدے وه چه خلق په فتنه کښے واچوی، ځکه چه ده دا کار د قرآن کریم سره کولو۔ اود خلقو خود عقیده وه چه قرآن کریم ته شطان نشی نزدے کیدے۔

په دغه وخت کښے زه دتعلیم په ثانوی دوره کښے ووم۔ کله چه

زه خبر شوم نو یو ملګرے مے دځان سره کړو او ورغلو نو دخلقو په مینځ کښے مے ورته چیلنج ورکړو چه ته خپل کار بیا اوکړه. خلق ډیر حیران شو ځکه چه هغوئ خو دا کار ډیر ځلے لیدلے وو چه ... دقرآن کریم سره داسے کوی.

هغه ساحر فورا قرآن کریم راوړو اود سورت (یس) نه ئے په ... تار سره اوتړلو او هغه تار ئے بیا یوے چابی سره اوتړلو او ... اوچت کړو. په دغه وخت کښے ما خپل ملګری ته آواز اوکړو او ورته مے اووئیل چه دغه بل طرفته کینه او آیت الکرسی بار بار لوله. اوزه دهغه مخامخ بل طرفته په حلقه کښے کیناستم او آیت الکرسی مے دځان سره پټه لوستل شروع کړه، او خلق ناست وو کتل ئے، کله چه جادوګر خپل منترونه خلاص کړل نو قرآن کریم ته ئے اووئیل چه خی طرفته تاؤ شه، نو قرآن کریم هیڅ حرکت اونه کړو، نو هغه بیا دوباره خپل منترونه اووئیل او قرآن کریم ته مخاطب شو او وے وئیل چه ګس طرفته تاؤ شه، خو قرآن کریم هیڅ حرکت اونه کړو.

دغه شان هغه الله رب العزت دخلقو په مخ کښے رسوا کړو او رُعب او دبدبه ئے ختمه شوه.

الله جل شانه فرمائی: ﴿ولینصرن الله من ینصره﴾

(ترجمه: او یقینا خامخا الله دهغه چا مدد کوی چه ... دهغه (ددین) مدد کوی.

[سورت الحج آیت: ۴۰].

Maktaba Tul Ishaat.com

# خلورم : سِحر الجنون - ليونتوب

خارجه بن صلت - رضى الله عنه - فرمائى چه دده تهٔ نبى كريم ﷺ ته حاضر شو او اسلام ئے قبول كړو، بيا چه كله واپس شو نو په لاره كښے په يو كلى باندے تيريدو چه هلته خلقو يو ليونے په زنځيرونو باندے تړلے وو، دهغه دكور خلقو اووئيل چه مونږ آوريدلى دى چه ستاسو نبى په خير سره راتلل كړيدى، آيا تاسو ددے ليونى څه علاج كولے شئ؟

دے وائى چه ما په هغه باندے سورت الفاتحه اولوستله، نو هغه جوړ شو. نو هغوئ ماته سل چيلئ دانعام پطور راكړے. نو نبى كريم ﷺ اوفرمائيل : آيا تا ددے نه علاوه بل څه لوستلى دى ؟ ما ورته عرض اوكړو : نه !

نبى كريم ﷺ اووئيل : دا واخله (قبول ئے كړه) ځكه چه قسم دے چه خلق په باطلو دموتو باندے دخلقو مالونه خورى، او يقينا چه تا خو په حق دم باندے خوراك اوكړو (مال دے پرے واغستلو).

او په يو بل روايت كښے دى چه : هغه ئے درے ورځو پورے صبا بيگاه په سورت الفاتحه باندے دم كړو، هر وارے به ئے چه پرے سورت فاتحه اولوستله نو لاړے به ئے پرے تف كړے.

(رواه ابوداود فى الطب رقم : ١٩، وصححه النووى فى الاذكار : ٨٧، وصححه الألبانى فى صحيح ابى داود : ٧٣٧/٢).

د سحر الجنون نښے نښانے

۱ – پریشان حالي اواوتر کيدل او سخت نسيان ـ
۲ – په خبرو کښې ګډوډ والے ـ
۳ – دسترګو کږکيدل ـ
٤ – په يو ځائے نه ايساريدل ـ
٥ – يو خاص کارجاري نه ساتل ـ
٦ – دخپل ظاهري شکل وصورت هيڅ خيال نه ساتل ـ
۷ – اود سحر الجنون په سخت حالت کښې په يو طرف باندے روانيدل اودا معلومه نه وي چه کوم طرفته ځي ـ
۸ – او اکثر په شاړو ځايونو کښې اوده کيدل ـ

## سِحر الجنون څنګه کيږي ؟

جادوګر چه دسحر الجنون دپاره کوم پيري ته دمسحور شخص په بدن کښې دداخليدو ذمه واري سپارلي وي ، نو دغه پيرے ددغه شخص بدن ته داخل شي اود ټولو نه اول دهغه په دماغو کښې خپل مرکز جوړ کړي، او بيا ددماغو په هغه حصو باندے دباؤ اچول شروع کړي کومے حصے چه دسوچ او فکر اوياداشت دپاره مخصوصے وي۔ ددے نه پس بيا دسحر الجنون نښے نښانے ښکاره کيدل شروع شي ـ

## د سِحر الجنون علاج

۱ – په چا باندے چه سِحر الجنون شوے وي نو هغه په قرآني آيتونو باندے دم کړه دکوم دم ذکر چه مخکښې تير شوے دے ـ
۲ – که چرے په دئے دوران کښې په مريض باندے ټوټه (چيپله)

Maktaba Tul Ishaat.com

راغله نو هغه معامله ورسره اوکړه دکومے بیان چه مخکښے اوشو، اولکه څنګه چه ما ددے وضاحت په خپل کتاب (وقاية الانسان من الجن والشيطان ص : ۷۹ - ۹۳) دعلاج المس په بیان کښے کړیدے۔

۳ - اوکه چرے په دے دوران کښے په ده باندے غوټه رانغله نو دغه دم وربانديے درے ځله یا ددرے ځلونه زیات تکرار کړه ۔ اوکه بیا هم وربانديے غوټه رانغله نو دا سورتونه ورله په یو کیسټ کښے ثبت (ریکارډ) کړه او ورته اووایه چه هره ورځ ئے دوه یا درے ځله پوره یوے میاشتے پورے آوره۔

هغه سورتونه دادی :

اول ددم هغه آیتونه کوم چه مخکښے په دے کتاب کښے ذکر شول ( دا دم صرف په دے آیتونو پورے منحصر نه دے که نور مناسب آیتونه یاسورتونه ورسره اضافه کړے شی نو هیڅ باك نه لری ) ۔

بیا سورت البقره - سورت هود - سورت الحجر - سورت الصافات - سورت ق - سورت الرحمٰن - سورت الملك - سورت الجن - سورت الأعلىٰ - سورت الزلزال - سورت الهمزه - سورت الكافرون - سورت الفلق - سورت الناس ۔

ددے سورتونود آوریدو په وخت کښے به مریض سخته تنګی محسوسه وی ۔ او اکثر به وربانديے په دے موده کښے چپه (غوټه) هم راځی او پیرے به دهغه په ژبه باندے خبرے کوی ۔

او په ابتدائی پنځلس ورځو کښې به ډېر تکلیف اودرد محسوسه وی، بیا به رو رو تکلیف کمیدل شروع شی، اود میاشتې تر آخره پورې به خپل طبعی حالت ته راشی۔ په دغه وخت کښې دې یو ځل بیا هم دم کړې شی، که چرې دجادو څه اثر باقی وی چه هغه هم ختم شی۔

٤ – دعلاج په دوران کښې به مریض دَ آرام ګولئ نه خوری، ولې چه دائې خرابوی۔

٥ – په دې دوران کښې که مریض دبجلئ رنړا ته کینی نو څه باك نه کوی، ځکه چه په دې سره پیری ته نور هم ضرر رسیږی او زر به ورته شفا نصیب شی۔

٦ – دسِحر الجنون دعلاج موده یوه میاشت هم کیدې شی اودرې میاشتې هم کیدې شی اوددې نه زیات هم۔

٧ – دعلاج د مودې په دوران کښې به مریض د هر قسم صغیره اوکبیره ګناهونو نه ځان بچ ساتی مثلاً دسندرواوریدو نه، دسګرټ څکلو نه اود مونځ په ادا کولو کښې دسستئ کولو نه۔ اوکه مریض ښځه وی نو د بې پردګئ وغیره نه۔

٨ – که مریض په معده کښې درد محسوس کړو نو دا ددې خبرې دلیل دې چه جادو په ده باندې څکل شوې یا خوړل شوې دې۔ نو په دې وخت کښې به ته مریض له په هغه مخکښې ذکر شوی دم باندې اوبه دم کړې، اومریض ته به ئې ورکړې چه دعلاج په دوران کښې دې دا څکی، ددې دپاره چه دده په خیټه کښې چه

Maktaba Tul Ishaat.com

کوم سِحر موجود دے چه هغه ختم شی او یائے کانګے (التہیٔ) کړی

## دسِحر الجنون دعلاج نمونے

### اوله نمونه :

ماته یو څو کسان راغلل چه دهغوئ سره یو ځوان هم وو چه هغه ئے په زنځیرونو تړلے وو کله ئے چه زه اولیدم نو خپله خپه ئے په زمکه اووهله او زنځیرئے پرانستلو، نو هغه سره چه کوم خلق وو هغوئ اونیولو او په زمکه ئے اوغورځولو ـ ما وربانده دم اچول شروع کړلو لیکن ددم په دوران کښے هغه زما په مخ بانده بار بار توکانړے راتوکړے ـ آخیره کښے بیا ما هغوئ ته دتلاوت یو کیسټ ورکړو او ورته مے اووئیل چه دا کیسټ ده ته پنځه ځلویښت ورځے واوروئ او بیائے ماته راولئ ـ

دغه مودے تیریدلو نه پس هغه خپله ماته راغے اودماغی طور سره بالکل صحیح شوے وو ـ اومانه ئے دخپلے بی شعورئ په وجه زما په مخ بانده دتوکانړو دتوکلو دغلطئ معذرت اوغوښتلو ، ما دوباره په هغه بانده دم واچولو لیکن هیڅ شے ظاهر نشو دغه شان هغه روغ جوړ واپس لاړو ـ

الحمد لله، لا حول ولا قوة الا بالله ـ

بیائے مانه تپوس اوکړو چه آیا ما بانده ددے جوړیدو په وجه څه ضروری معینه صدقه یا څه روژے شته ؟

ما ورته اووئیل : ضروری او لازمی طور سره خو دربانده څه

نشتـه ، البته که دشکرئیے په طور ته دخپل کلی په فقیرانو باندے څه صدقه کوے یا څه نفلی روژے نیسی نو دا خو ډیره ښه خبره ده.

دویمه نمونه:

مـاتـه یوداسے ځوان راغے چه لیونے شوے وو (په عقل باندے ئے څه شوی وو) او په خپلو تصرفاتو به ئے شك پیدا کیدو، ما چه کله پـه هـغـه بـانـدے دغـه دم واچـولـو نو معلومه شوه چه په ده باندے سـحـر الـجـنـون شـوے دے اوخاص پـه دغـه وخت کښے دده واده هم رانـزدے وو، نـو مـا هغه ته څو کیستیے د آوریدو دپاره ورکړے چه په هغے کښے دالـلـه جل شانه دکتاب آیتونه وو او په نورو آیتونو مے ورلـه اوبـه دم کـړے، اومـا ورتـه اووئیل چه یوه میاشت پس بیا ماته راشه۔

تـقـریـبـا شـل ورځے پس دهغه یو رشته دار راغے اوماته ئے زیرے راکـړو چـه هغه ځوان اوس بالکل روغ شوے دے او عقل ئے په ځائے شـوے دے او واده ئے هـم کـړے دے۔ پـه دے باندے ما دالله جل شانه شکر اداء کړو۔

الحمد لله ، لا حول ولا قوة الا بالله ۔

* * * * *

Maktaba Tul Ishaat.com

# پنځم : سِحر الخمول (سستی)

## د سِحر الخمول علامات

١ – تنهائی او يوائځے والے خوښول ـ
٢ – پوره طور سره عليحدګی او يو طرفته کيدل ـ
٣ – مکمله خاموشی ـ
٤ – پريشان حالی ـ
٥ – هميشه د سر درد ـ
٦ – محفلونه نه خوښول ـ
٧ – هميشه سستی ـ

## سِحر الخمول څنګه کيږی ؟

جادوګر يو پيرے هغه کس طرفته اوليږی چه په چا باندے جادو کول غواړی، او هغه پيری ته حکم اوکړی چه دده په دماغو کښے مرکز جوړ کړه، اودده دپاره دخلوت او عليحدګئ اسباب پيدا کړه ـ نو پيرے دخپل پوره قوت په اندازه کوشش شروع کړی، نو ددے نه پس په دغه مسحور شخص باندے د سِحر الخمول علامے دهغه مکلف پيری دقوت او ضعف په اندازه راښکاره شی ـ

## د سِحر الخمول علاج

١ – په ده باندے به هغه مخکښے ذکر شوے دم واچوے ـ
٢ – که غوته وربانديے راغله او پيری دده په ژبه خبرے شروع

کړے نو دسوال او جواب هغه معامله ورسره اوکړه کومه چه مونږ مخکښې واضحه کړه۔

۳ – که غوته وربانديے رانغلـه نو بيا ورلـه ددې لاندينو سورتونو درے کيسټے ثبت (ريکارډ) کړه :

الـفاتـحـه – البقره – آل عمران – يس – الصافات – الدخان – الـذاريات – الـحـشـر – الـمعارج – الغاشيه – الزلزله – القارعه – الاخلاص – الفلق – الناس ۔

مـريـض تـه اووايـه چـه هره ورځ يو کيسټ سَحر يو مازيګر يو داوده کيـدو نـه مـخـکښے تر پنځه څلويښت ورځو پورے آوره، اودا موده تر شپيتو ورځو پورے هم اوږديدے شي۔

٤ – ددے مـودے دختـميـدلـو پـورے به ان شاء الله مريض جوړ شوے وي ۔

٥ – مـريـض بـه پـه دے دوران کښے دآرام ګولو استعمالولو نه ځان ساتي ۔

٦ – کـه مـريـض پـه خپـله معده کښے درد محسوس کړونو دا آيتونه په اوبو باندے اولوله او مريض دے په دغه موده کښے په دے بانـدے هـر درے ورځـے پـس غـسـل کوي ۔ په دے شرط چه په دغه اوبو کښے به زياتوالے نه کوي (نورے اوبه به په کښے نه اچوي) او په اوربه ئے هم نه ګرموي او په صفا ځائے کښے به غسل کوي ۔

* * * * *

Maktaba Tul Ishaat.com

## شپږم : سِحر الهواتف : (چغې سورې)

### دسحر الهواتف علامات :

۱ : ویرونکی خوبونه لیدل۔

۲ : په خوب کښې داسې لیدل لکه څوك چه ورته آوازونه کوی۔

۳ : په ویښه باندې څه آوازونه آوریدل او څوك ورته په نظر نه راتلل۔

٤ : دخپلو دوستانو او ملګرو په باره کښې ډیر شکونه او شبهات پیدا کیدل۔

٥ : په خوب کښې داسې لیدل لکه چه داوچت ځائې نه راغورځیږی۔

٦ : په خوب کښې داسې حیوانات لیدل چه ده پسې روسته رامنډې وهی اودې زغلوی۔

### سِحر الهواتف څنګه کیږی؟

جادوګر یو پیرې اولیږی او په دې ئې مکلف کړی چه فلانې سړې دخوب اود بیدارئ په حالت کښې مشغول ساته، نو دا پیرې ده ته په خوب کښې دشلونکو درنده ګانو حیواناتو په شکل ځان ښکاره کوی او په ویښه ورته آوازونه کوی۔

کله ورته دداسې خلقو په آوازونو سره چغې وهی چه دې ئې پیژنی، اوکله په داسې آوازونو سره چه دې ئې نه پیژنی۔

نو ددے وجے نه بیا دے دخپلو تزدے اولرے رشته دارانو متعلق په شکونو او شبهاتو کښے مبتلا شی ـ ددے نه روسته بیا دسحر الهواتف علامے دجادو دقوت او ضعف مطابق ظاهریدل شروع شی ـ

که جادو په زور دارے طریقے سره شوے وی نو سړے لیونتوب ته هم رسولے شی ـ

اوکه زور دارے طریقے سره نه وی شوے نو صرف د وسوسو ترحده پورے وی ـ

## د سِحر الهواتف علاج

١ – په مریض دے د سِحر هغه دم اولوستلے شی دکوم ذکر چه مخکښے تیر شوے دے ـ

٢ – که غوته وربانده راغله نو هغه معامله دے ورسره اوکړے شی کومه چه مخکښے ذکر شویده ـ

٣ – که غوته وربانده رانغله نو لاندینی تعلیمات دے ورکړے شی :

★ داوده کیدو نه مخکښے اودس کول ـ

(بخاری : ١/٣٧٥، فتح، ومسلم :١٧/٣٢، نووی)ـ

او آیت الکرسی لوستل ـ

(رواه البخاری معلقا فی مواضع من صحیحه منها : ٤/٤٨٧)ـ

★ داوده کیدو په وخت په خپلو دواړو ورغوو باندے سورت

Maktaba Tul Ishaat.com

الفلق او سورت الناس چُف کول او هغه په ټول بدن باندې درې ځله راښکل.

(رواه البخاری : ١٢/١١، فتح).

★ د سحر په وخت سورت الصافات اود اوده کیدو په وخت سورت الدخان لوستل. یا دا دواړه آوریدل.

★ په هره دریمه ورځ سورت البقره تلاوت کول یا آوریدل.

★ داوده کیدو په وخت دسورت بقرې آخری دوه آیتونه لوستل.

(رواه البخاری : ٣١٨/٧، فتح ومسلم : ٩٢٠/٢، نووی).

★ داوده کیدو په وخت دا دعاء لوستل :

[ بِسْمِ اللّٰهِ وَضَعْتُ جَنْبِیْ. اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِیْ ذَنْبِیْ وَأَخْسِئْ شَیْطَانِیْ وَفُكَّ رِهَانِیْ، وَاجْعَلْنِیْ فِی النَّدِیِّ الأَعْلٰی ].

(رواه ابوداود کتاب الأدب باب ما یقال عند النوم : ٥٠٥٤).

★ په یو کیسټ کښې ورله [ سورت حم السجده، سورت فتح، سورت جن ] ریکارډ کړه او مریض ته ئې ورکړه چه هره ورځ ئې درې ځله آوری.

په دې ټولو تعلیماتو به تر یوې میاشتې پورې عمل کوی، ان شاء الله شفا به ورته حاصله شی.

* * * * *

# اووم : سِحر المرض

## د سِحر المرض علامات :

۱ – په یو اندام کښې دائمی درد ـ

۲ – غوټې اوچپې راتلل ( عصبی تشنجات) ـ

۳ – دجسم په اندامونو کښې یو اندام بې حرکته کیدل ـ

٤ – دټول بدن بې حرکته کیدل ـ

٥ – په حواسِ خمسه ؤ (پنځو حواسو) کښې دیو یې حاسې بیکاره کیدل ـ

★ دلته زه یوه تنبیه ضروری ګنړم، هغه دا چه دا مذکوره علامات دجسمانی مرضونو دعلاماتو سره مشابه دی، نو دجادو اود جسمانی مرض فرق به هله کیږی چه ته دم اولولې ـ نو که دمریض په بدن کښې ددم په آوریدو سره څه تبدیلی راغله مثلا : سر ګرځیدل، یا دسر درد، یا دلاسونو اوخپو رپیدل، یا په بدن کښې بل څه بدلون راتلل، نو بیا دا یقینی طور سره دجادو اثر دې ـ اوکه داسې نه وو نو بیا دا یو جسمانی مرض دې چه بیا دهغې علاج دپاره ډاکټر ته تلل پکار دی ـ

## سِحر المرض څنګه کیږی ؟

داخبره هر چاته معلومه ده چه دماغ دټول بدن حکمرانی کوی په دې شان سره چه دانسان په دماغو کښې دهرې یوې حاسې دپاره خپل مرکز وی چه دهغې نه ده ته تعلیمات ملاویږی، دمثال

Maktaba Tul Ishaat.com

په طور که ته خپله گوته اور ته نزدے کوے نو فورا دغه گوته په دماغو کښے خپل مرکز ته اشاره ورکوی بیا ددغه مرکز نه دیته حکم راځی چه فورا داور نه لرے شه ځکه چه دا نزدے والے خطرناك ثابتیږی، نو دغه گوته دخپل حکمران دحکم مطابق فورا داور نه لرے کیږی۔ اودا ټول هر څه په یو سیکنډ کښے دننه دننه مکمل کیږی۔

هذا خلق الله فارونی ماذا خلق الذين من دونه ۔ [ سورت لقمان، آیت : ۱۱]۔

( دا هغه څه دی چه الله جل شانه پیدا کړی دی، پس ماته را اوښائے چه دالله نه بغیر هغه (دروغو جنو) معبودانو څه شے پیدا کړے دے ؟

جادوگر چه کله په یو انسان باندے سحر المرض اوکړی، نو هغه مکلف کړے شوے پیرے دانسان په دماغو کښے په هغه ځائے کښے مرکز اونیسی کوم چه دغوږونو داحساس مرکز وی یا دسترگو وی یا دلاسونو وی یا دخپو وی، دهغے نه پس بیا دانسان دغه اندام باندے ددے درے حالاتو نه یو حالت راشی :

۱ - یا خو دغه پیرے چه دانسان ددغے اندام اود احساس دمرکز په مینځ کښے چه کوم اشارات او ارتباط وی هغه (دالله تعالیٰ په قدرت سره ) بند کړی چه دهغے په وجه دغه اندام بیکاره شی نو یا دغه مریض ړوند شی یا کوڼ شی، یائے یو اندام شل شی

معاملے په باره کښې تاته راغلے يم چه زه ئے په دهشت او يره کښې اچولے يم۔

وئيل : ماته يو سړی خپل ځوئے راوستو چه ګوزن (فالج) وهلے وو او شل شوے وو اود حرکت کولو طاقت ئے نه لرلو۔ ما چه کله دهغه معائنه اوکړه نو ماته دا معلومه شوه چه دده دملا په هډوکو کښې داسے بيماری ده چه دهغے علاج دډاکټرانو سره نشته چه نه په عملياتو (آپريشن) سره کيږی اونه په بل شی سره۔

څو هفتے پس هغه سړے دوباره بيا ماته راغے نو ما دهغه نه دهغه دځوئے په باره کښې تپوس اوکړو چه هغه اوس څنګه دے ؟

هغه اووئيل : چه هغه خو اوس الحمد لله کيناستے شی اود ديوال سره خوا خوا کښې تلے هم شی۔ ما ترينه تپوس اوکړو چه دچا نه دے ورله علاج اوکړو ؟

هغه اووئيل : د وحيد نه (کوم چه ددے کتاب مؤلف دے)

ډاکټر اووئيل : زه ددے دپاره تاته راغلے يم چه زه معلومه کړم چه تا ددے مريض علاج څنګه کړے دے ؟

ما ورته اووئيل : ما ورباندے دالله دکتاب آيتونه لوستلی دی الله پاك ورته شفا نصيب کړه۔

او بيا مے ورله دحبه السوداء (کلونجی، يا تورے دانے) تيل دم کړل او ورته مے اووئيل چه په دے تيلو سره دغه شل شوی اندامونه غوړوه۔ چه دهغے نه پس الحمد لله، الله تعالیٰ ورته شفا نصيب کړه۔

Maktaba Tul Ishaat.com

الحمد لله رب العالمین، ولا حول ولا قوة الا بالله ـ

# د سِحر المرض علاج

۱ ـ په مریض باندې به هغه مخکښې ذکر شوې دم درې ځله واچوی ـ که چرې وربانډې غوټه راغله نو دپیری سره به دمخکښې بیان شوې طریقې مطابق عمل اوکړی ـ

۲ ـ که غوټه یا چپه وربانډې رانغله لیکن څه معمولي شان تغیرات ئې محسوس کړل نو بیا ورله دا لاندینی تعلیمات ورکړه :

★ په یو کیسټ کښې دا لاندینی سورتونه ریکارډ کړه او مریض ته ئې ورکړه چه هره ورځ ئې درې ځله آوری ـ

هغه سورتونه دادی :

سورت الفاتحه، سورت الدخان، سورت الجن، او قِصار سورتونه او معوذات ـ

★ دحبه السوداء (کلونجی یا تورې دانې) په تیلو به دا لاندینې دم واچوی او مریض ته به اووائی چه په دې سره هر سَحر او مابنام خپل تندې اود خپل بدن متاثره حصې غوړوه هغه دم دادې :

۱ ـ سورت الفاتحه ـ

۲ ـ المعوذات ـ

۳ ـ ﴿ وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاءٌ وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ﴾ ـ

٤ ـ ﴿ بِسْمِ اللهِ اَرْقِيْكَ وَاللهُ يَشْفِيْكَ مِنْ كُلِّ دَاءٍ يُؤْذِيْكَ ، وَمِنْ كُلِّ نَفْسٍ اَوْعَيْنٍ حَاسِدٍ اَللهُ يُشْفِيْكَ ـ

٥ ـ اَللّٰهُمَّ رَبَّ النَّاسِ ، اَذْهِبِ الْبَأْسَ ، اِشْفِ اَنْتَ الشَّافِيْ ، لَا

شِفَاءَ اِلَّا شِفَاؤُكَ شِفَاءً لَا يُغَادِرُ سَقَمًا ۔

مریض ته به دا تعلیمات شپیته ورځې (دوه میاشتې) جاري اوساتې که مرض بنه شو خو صحیح ده او که بنه نشو نو دوباره وربانديے بیا دم واچوه او تیل هم ورله دم کړه، بیا ورله همدغه تعلیمات دمریض دښه والي په اندازه دبلے مودے پورے ورکړه ۔

## د سِحر المرض دعلاج نمونے

### اوله نمونه :

ماته یوه ځوانه جینۍ دهغے پلار او ورور راوسته چه هغه بالکل چپ چاپ وه او خبرے ئے نشوه کولے بلکه تردے چه دخوراک دپاره ئے هم خوله نشوه بیرته کولے مگر داچه په زوره به ئے ورله خوله کهلاؤ کړه او جوس یا پئ به ئے وربانديے اوڅکل ۔ هغوئ اووئیل چه دا د پنځه دیرشو ورځو نه همداسے ده ۔ کله چه ما وربانديے دم واچولو نو خبرے ئے شروع کړے ۔ الحمد لله !

### دویمه نمونه :

یوے زنانه اووئیل : چه په خپه مے سخت درد دے ۔ ما ورته اووئیل : شاید چه روماتیزم بیماري به وی (دا یو جسماني بیماري ده) لیکن هغه به ډیره په مشکل سره تلله ۔ ما چه کله وربانديے دم اچول شروع کړل نو سورت الفاتحه ئے لانه وه آوریدلے چه غوټه وربانديے راغله او په ژړه ئے پیری خبرے شروع کړے او وے وئیل چه ما ورته خپه نیولے ده ۔ ما ورته حکم اوکړو چه اوځه نو اووته او ښځه ښه شوه او په خپل طبعي مزل روانه شوه ۔ الحمد لله وحده ۔

Maktaba Tul Ishaat.com

### دریمه نمونه :

یو سړے ماته راغے چه د هغه مخ – زما په خیال – خی طرفته کوږ شوے وو ـ ما چه کله وریاندے دم واچولو نو په ژبه ئے پیری خبرے شروع کړے او وے وئیل : چه ده ماته ضرر رارسولے دے ـ ما هغه پیرے قانع کړو که تاته دده له طرفه کوم ضرر رسیدلے وی نو ده ته نه ئے لیدلے اودا کار په تا باندے حرام دے چه ته مسلمان ته تکلیف رسوے، امر بالمعروف او نهی عن المنکر مے ورته اوکړه، نو زما خبره ئے اومنله او د هغه سړی نه اووته بیا سړے پاڅیده او خله ئے صحیح شوے وه ـ الحمد لله وحده !

### څلورمه نمونه :

ماته دیوے جینئ پلار راغے او وے وئیل چه زما لور ته یو مصیبت رسیدلے دے اودوه میاشتو نه بیهوشه ده او اوس هم په دغه حال ده لیکن دومره ده چه اوس آوریدل کولے شی خو خبرے نشی کولے، نه خوراك کولے شی اونه ئے دبدن کومه حصه خوزیدلے شی ـ اود ابهَا (سعودی عرب په ښار کښے په عسیر نو مے هسپتال کښے اوده پرته ده ـ او یو ډاکټر راته اووئیل چه ددے ټول معائنات (ټیسټونه) صحیح دی، او هغوئ هم نه پو هیږی چه په دے څه شوی دی ؟

سبوا ددے نه چه دوئ دساه اخستو دپاره دهغے په مرئ کښے یو سوړے کړے دے اود پوزے دلارے نه ئے ورته دخوراك دپاره یو پائپ داخل کړے دی ددے دپاره چه دژوندکی باقی ورځے په دغه حال

سره په دے کټ کښے تيرے کړى۔

کـه چـرے ددوئ دپاره دشيـخ سعيـد بـن مسـفر القحطانى – حفظه الله – سفارش نه وو، نو زه ددوئ سره دعلاج دپاره پخپله نه تلم، ځکه چه دا زما عادت نه دے چه زه مريض له لاړ شم ۔

ما ورته اووئيـل چه اوس خو ددغه سفارش په وجه دتلو نه بغير بـلـه لار نشتـه خوتاسو زما دپاره دعام ملاقات دوخت نه علاوه بل وخت كښے دداخليدلو اود مذكوره علاج دپاره خصوصى اجازت نامه راواخلئ ۔

زه چه كله لاړم نو واقعى هغه جينئ هم په هغه حالت پرته وه كـوم حـالـت چـه ئے راته پلار بيان كړے وو۔ الله تعالىٰ ته پته ده چه هغـه څـومـره كـمـزورى وه، صـرف سرئے معمولى خوزولے شو او آوريـدل اوليدل ئے هم كولے شو، نو ما دهغے نه دجادو دتهولو علامو پوښتنه اوكړه، خو هغے به دتپوس جواب دسر په خوزولو راكولو ۔ ما ته هم هيڅ معلومات اونشو چه په دے څه شوى دى ۔

پـه دے وخت كښے دماښام دمونځ وخت راغے چه مانځه ته لاړو نـو مـا پـه مانځه كښے هم دهغے دپاره ډيره دعاء اوكړه، بيا چه راغلو نو ما وربانديے (سورت الفلق) او :

(اَللّٰهُمَّ رَبَّ النَّاسِ، أَذْهِبِ الْبَأْسَ، اِشْفِ أَنْتَ الشَّافِيْ، لَا شِفَاءَ اِلَّا شِفَاؤُكَ، شِفَاءً لَا يُغَادِرُ سَقَمًا ) ۔

اولوستل ۔ نو دالله په فضل سره جينئ خبرے اوكړے ، پلار او ورور ئے دډيرے خوشحالئ نه په ژړا شول، پلار ئے زما دسر ښكلولو

Maktaba Tul Ishaat.com

دپاره راپاخیده، خو ما پو هه کړو او ورته مے اووئیل چه دیو شخص متعلق دا عقیده لرل نه دی پکار چه دا شفاء ورکولے شی، ځکه چه شفاء ورکولو والا صرف الله تعالیٰ دے، او ستا دلور دپاره ئے دځپل یو بنده په لاس باندے په همدے وخت کښے شفاء لیکلے وه ۔ هغه جینئ دالله شکر اداء کړو او خبرے ئے اوکړے او ووے وئیل : زه غواړم چه اوس د هسپتال نه اووځم ۔

بیا څه موده پس ئے ورور راغے او ماته ئے زیرے راکړو چه هغه اوس بالکل صحیح شویده او ماته ئے دیوے ولیمے دعوت راکړو خو ما صرف په دے وجه انکار اوکړو چه هسے نه ؟! دهغے بدل او اجرت نه وی ۔

## پنځمه نمونه :

ماته یو ځوان راغے چه مریض وو ما چه کله وربانده دغه مخکښے ذکر شوے دم واچولو نو دهغ په ژبه یو پیری خبرے شروع کړے او وے وئیل چه زه دسِحر په وجه په ده مقرر شوے یم، بیا ئے مونږ ته هغه ساحر را اوخودلو او وے وئیل : چه سِحر دکور په میدان کښے دے ۔ ما دهغے دراویستلو حکم اوکړو، نو دهغه دکور والو هغه ځائے اوکنستلو نو واقعی هلته دکاغذونو څه ټوټے ملاؤ شوے چه په هغے کښے حروف لیکل شوی وو ۔

بیا ئے هغه کاغذونه په اوبو کښے ویلی کړل او سحرئے باطل او بیکاره شو ۔ الحمد لله ۔

* * * * *

# ۸ – اتم : سِحر النزيف (استحاض)

## سِحر النزيف څنګه کيږي ؟

دا قسم جادو صرف په ښځو باندے کيږي، ددے طريقه داده چه جادوګر يو پيرے په هغه ښځه باندے مسلط کړي په کومه چه جادو کول غواړي او هغه په دے مکلف کړي چه دا ښځه داستحاض په بيمارئ کښے مبتلا کړه ـ دغه پيرے په دغه ښځه کښے داخل شي او دهغے په رګونو کښے دوينے سره دهغے په بدن کښے چليږي، لکه څنګه چه نبي ﷺ فرمائي :

الشيطان يجري من ابن آدم مجرى الدم ـ

ترجمه : شيطان دانسان په رګونو کښے دوينے پشان زغلي ـ

(رواه البخاري : ٤/٢٨٢، فتح، ومسلم : ١٤/١٠٠ ، نووي)ـ

په وينه کښے چه دچليدو او ګرځيدو په وخت کښے چه کله دے د رحم رګونو ته اورسيږي نو هغه په پونده باندے اووهي چه دهغے په وجه ددغے رګ نه وينه جاري شي ـ

حمنه بنت جحش – رضى الله عنها – چه کله دنبي ﷺ نه د استحاض متعلق پوښتنه اوکړه نو نبي ﷺ اوفرمائيل :

انما هي ركضة من ركضات الشيطان ـ

يعني استحاض دا صرف دشيطان دپوندے دوهلو دوجے نه وي

(رواه الترمذي وقال : حسن صحيح : ١٢٩)ـ

او په بل روايت کښے دي چه :

Maktaba Tul Ishaat.com

انما هو عرق وليست بالحيضة ۔
يعنى دا يو رګ نه بهيدونکے وينه ده او حيض نه دے ۔
(احمد، نسائى بسند جيد)۔

ددے درے واړو روايتونو نه دا معلومه شوه چه استحاض د ښځے په رحِم کښے د موجوده رګونو نه يو رګ دے چه دشيطان دپوندے وهلو په وجه دهغے نه وينه راځى ۔

## سِحر النزيف – استحاض – څه شے دے ؟

ديته فقهاء استحاض وائى او ډاکټران او طبيبان ورته نزيف وائى ۔

ابن الأثير رحمه الله وائى : چه استحاض دادے چه دحيض دورځو نه پس هم دښځے نه وينه راځى۔
(النهايه : ١/ ٤٦٩)۔

استحاض دڅو ورځو پورے جارى وى کله وينه کمه وى اوکله ډيره ۔

## د سِحر النزيف علاج

هغه دم کوم چه مخکښے ذکر شوے دے په اوبو به ئے اولولے بيا بد دغه اوبه په مريض درے ورځے اوڅکے او غسل به ورباندے هم اوکړى ۔ ان شاء الله تعالىٰ وينه به ئے بنده شى ۔

## د سِحر النزيف دعلاج نمونے :

يوه ښځه ماته راغله چه دهغے نه ډيره زياته وينه تله ما په هغے باندے دم واچولو اود قرآن کريم دتلاوت يو څو کيسټ مے

داوریدلو دپاره ورکړل، څو ورځے پس دهغے وینه بالکل بنده شوه او جوړه شوه ۔ والحمد لله ۔

دقرآني آيتونو دليکلو او څکلو په باره کښے دجواز فتوی شيخ الاسلام امام ابن تيميه – رحمه الله – هم ورکړيده۔ هغه فرمائي :

يجوز ان يكتب للمصاب وغيره من المرضىٰ شئ من كتاب الله وذكره بالمداد المباح ويغسل ويسقىٰ منه كما نص على ذلك احمد وغيره ۔

پاتے شو دمستحاضے ښځے مونځ او روژه وغيره عبادتونه نو دهغے تعلق دفقه دکتابونو سره دے (چه ما دهغے تفصيل په : الاكليل شرح منار السبيل ) کتاب کښے ذکر کړے دے ۔

* * * * * *

Maktaba Tul Ishaat.com

# نهم : سحر تعطیل الزواج
# (واده نه بندولو جادو)

## واده نه بندولو جادو څنګ کیږي ؟

یو کینه ګر انسان جادوګر خبیث ته لاړ شي او دهغه نه مطالبه اوکړي چه د فلانی سړي په لور باندے جادو اوکړه، چه واده ئے اُونه شي نو جادوګر خبیث دهغه نه دهغه جینۍ نوم او دهغے دمور نوم اوغواړي او بیا ترے د جینۍ څه کپړے وغیره اوغواړي دهغے نه پس بیا په هغے جادو اوکړي ۔ بیا په دغه سلسله کښے یو یا دیو نه زیات پیریان په دغه جینۍ مقرر کړي، بیا دغه پیریان دخپلے وظیفے سرته رسولو دپاره دغه جینۍ پسے شي، تردے چه په هغه څلورو حالاتو کښے ورته په یو حالت کښے موقعه پیدا شي کوم چه مونږ مخکښے ذکر کړي دي چه هغه :

۱ – سخته ویره
۲ – سخت غفلت
۳ – شهوت پرستۍ کښے مشغولیت
٤ – سخته غصه ده ۔

نو ورته داخل شي او بیا دغه ښځه دے حده پورے پریشانه کړي چه څوك هم دنکاح پیغام وراولیږي نو انکار ترے کوي ۔

اوکه دداخلیدو امکان او موقعه ورته برابره نشي نو دبهر نه پیرے دا کوشش کوي چه هر سړے ددے په مخکښے بدشکله اوبد

صورتـه ثـابت کـړی اودغـه جینـئ دخلقو پـه ذهنونو کښې دبد صورتـه ښځې پطور ثابته کړی ـ ګویا چه دا ښځه بغیر دڅه سبب نـه دهـر سـړی سره دواده کولو نه انکار کوی ـ ابتداء کښې موافقت اوکړی خو ځو ورځې پس بیا انکار اوکړی ـ

اوکـه څـوك سـړے دے سره واده کـولو تـه تیار وی نو شیطان دهغه په زړه کښې مسلسل وسوسے اچوی اوبدګمانه کوی ئے ـ

اوداسے هم کیږی چه ددے ښځے کور ته څوك هم دے سره دواده کـولـو په نیت داخل شی نو دغه خلق سخته تنګی محسوسه وی اودغـه کـور ورته سم جیل ښکاری چه دهغے نه پس بیا دوباره دغه کورته دداخلیدو سوچ هم نشی کولے ـ

## ددے سِحر علامات

۱ – دائمی سر درد چه دډاکټرانو په دوایانو هم نه ښه کیږی ـ

۲ – پـه سینـه کښې تـنګی محسوسول خاصکر دمازیګر نه پس تر نیمے شپے پورے

۳ – څـوك چـه رشتـه کـول غـواړی هغه په قبیح شکل کښې کتل ـ

٤ – زیاته پریشان حالی ـ

۵ – په خوب کښې زیات خفګان اوبریدل ـ

٦ – کله کله په معده کښې شدید درد ـ

۷ – دملا په لاندینو هډوکو کښې درد ـ

## واده نه بندولو جادو علاج

Maktaba Tul Ishaat.com

۱ – په مریضه باندې هغه دم واچوه کوم چه مخکښې ذکر شویدې. که غوتېه پرې راغله او پیرې ددې په ژبه باندې خبرې اوکړی نو هغه معامله ورسره اوکړه کومه چه مخکښې ذکر شوه.

۲ – که غوتېه ورباندې رانغله لیکن په بدن کښې ئې څه تبدیلی محسوسه کړه نو دالاندینی تعلیمات ورته ورکړه:

★ دشرعی حجاب اغوستلو اود پردې پابندی کول.

★ دمونځونو په خپل وخت کښې دکولو پابندی.

★ سندرې اوموسیقی نه آوریدل.

★ داوده کیدو نه مخکښې په دواړو لاسونو معوذتین (آخری دوه سورتونه) چُف کول او بیا تول بدن باندې درې ځله راخکل.

★ دیوې کهېنتې والا کیسټ کښې آیت الکرسی مکرر ثبت (ریکارډ) کول او هره ورځ کښې یو ځل آوریدل.

★ په هغه مخکښې ذکر شوی دم باندې اوبه دم کول اوپه هغې باندې هره دریمه ورځ غسل کول اوڅکل.

★ دسهار دمونځ نه پس سل (۱۰۰) ځله:

• لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ.

لوستل.

به دې تعلیماتو باندې به دیوې میاشتې پورې عمل کوی. بیا د یوې میاشتې نه پس به یا خو – ان شاء الله – د سِحر اوجادو ټولې علامې ختمې شوې وی او مریض به جوړ شوې وی او جادو به ئې

ختم شوي وي.

اويا به دده په تکليف اودردونو کښې اضافه شوي وي او علامې به ئې سختې شوي وي. که داسې وه چه تکليف ئې زيات شوي وو نو هغه دم وربانـدې بيا واچوه – ان شاء الله – غوټه به وربانـدې راشي او پيرې به دمريض په ژبه خبرې شروع کړي نو بيا ورسره هغه عمل اوکړه کوم چه مونږ مخکښې ذکر کړې دې.

## ددې سِحر دعلاج عملي نمونه:

## زنانه واده ته غاړه کيدي خو صبا له بيا انکاري وي

يـو ځوان ماته راغې او وې وئيل چه مونږ سره يوه جينۍ ده چه څه عجيبه شان حالت ئې دې. کله چه څوك راشي اودواده مطالبه اوکړي نو بنه په خوشحالۍ سره ئې قبول کړي، ليکن کله چه اوده شي او سَحر راپاځي نو بيا ئې حالت بدل وي اودخپل واده نه انکار شروع کړي. بغير دڅه اسبابو نه اوداسې څو څو ځله شوي دي. زمونږ وربانـدې شك دې نو ستاسو ددې په باره کښې څه رائې ده؟

ما چه کله وربانـدې دم واچولو نو غوټه وربانـدې راغله او پيرۍ خبرې شروع کړې.

ما ورته اووئيل: ته څوك ئې؟

هغې اووئيل: زه فلانۍ يم (ماته اوس دهغې نوم نه دې ياد).

ما اووئيل: څه دپاره په دې جينۍ کښې داخله شوې ئې؟

هغې اووئيل: ځکه چه زما دې سره محبت دې.

ما ورتـه اووئيـل: دا تاسره محبت نـه کوي. ليکن صحيح

Maktaba Tul Ishaat.com

صحیح اووایه چه ته څه غواړې ؟

هغې اووئیل : زه نه غواړم چه دا چاسره واده اوکړی ۔

ما ورته اووئیل : تا اوسه پورې دې سره څه سلوك کړې دې ؟

هغې اووئیل : کله چه چا دیته دنکاح پیغام راوړې دې نو ما هغه ته په خوب کښې دهمکی ورکړې ده او ورته مې وئیلی دی چه که تا دې سره نکاح اوکړه نو زه به درسره داسې داسې اوکړم ۔

ما ورته اووئیل : ستا دین کوم یو دې ؟

هغې اووئیل : زه مسلمانه یم ۔

ما ورته اووئیل : دا خو شرعا ناجائز دی چه ته یو مسلمانې ته داسې تکلیف رسوې ۔ نبی ﷺ فرمائی :

لا ضرر ولا ضرار ۔

یعنی : په اسلام کښې نه خپل ځان ته ضرر رسول شته او نه بل ته ضرر رسول شته ۔ (رواه ابن ماجه : ۲۳٤۰، وصححه الألبانی فی الصحیحه : ۲٥۰، والارواء : ۸۹٦)۔

پیرئ چه زما دا خبرې واوریدې نو قانع شوه اولاړه اووته، اوجینئ جوړه شوه ۔

الحمد لله ۔

* * * * *

# دجادو متعلق ضروری معلومات

۱ - ممکنه ده چه دجادو او پیریانی علامات یو بل سره مشابه شی۔

۲ - په چا چه جادو شوے وی که ده همیشه په خپله معده کښے درد محسوسولو نو دادے خبرے دلیل دے چه ده سِحر خوړلے یا څکلے دے۔

۳ - قرآنی علاج په دوه شرطونو سره فائده مند ثابتیږی :

★ یو دا چه معالج (علاج کونکے) دالله د حکمونو تابع وی۔

★ دویم دا چه دقرآنی علاج په تاثیر باندے دمریض مکمل یقین وی۔

٤ - دجادو په اکثرو قسمونو کښے دا لاندینۍ علامه موجوده وی : چه هغه دسینے تنګی محسوسول دی اوخاصکر دشپے په وخت کښے۔

٥ - دجادو دځائے پته په دوه کارونو سره لګی :

★ اول دا چه هغه پیرے کوم چه په دغه سِحر مقرر شوے دے په خپله اووائی چه جادو فلانی ځائے کښے دے۔ خوته به دده په خبره تر هغه وخته پورے یقین نه کوے چه ترڅو ته هغه ځائے اونه لټوے۔ که رښتیا جادو هلته موجود وو نو پیرے صادق دے اوکه نه وو نو دروغجن دے، ځکه چه په پیریانو کښے دروغ ډیر زیات دی۔

★ دویم دا چه مریض یا معالج دوه رکعته مونځ ښه په اخلاص

Maktaba Tul Ishaat.com

، اطمینان، خشوع او اوعاجزئ سره دښې په آخری حصه کښې اوکړی اود الله نه دے دعاء اوغواړی چه یا الله مونږ ته د سِحر ځائے را اوښایه !

نو یا خو به ئے په خوب کښې اووینی اویا به ئے په یو ځائے باندے غالب گمان راشی، چه دلته سِحر پروت دے ۔ نوکه چرے تاته د سِحر دځائے په باره کښې پته اولگیده نو دالله جل شانه شکریه اداء کړه ۔

٦ – دحبة السوداء (کلونجی، یاتورے دانے ) په تیلو باندے هغه مخکښې ذکر شوے دَم واچوه اومریض ته اووایه چه په دے باندے خپل درمند ځائے غوړوه۔

اود حبة السوداء دا تیل چه دَم کړے شی نو د هر قسم سِحر دپاره فائده مند دی ۔

په صحیحینو – یعنی بخاری اومسلم – کښې زمونږ دنبی کریم ﷺ نه دا ارشاد مبارك نقل شوے دے چه هغویٔ فرمائیلی دی :

الحبة السوداء شفاء من کل داء الا السام ۔

(بخاری : ٥٦٨٧، ومسلم : ۲۲۱۵)۔

ترجمه : په حبه السوداء کښې د مرگ نه علاوه د هرے بیماریٔ علاج دے ۔

اود مسلم په یو روایت کښې دی :

ما من داء الا فی الحبة السوداء منه شفاء الا السام ۔

ترجمه: دمرګ نه علاوه بله هیڅ بیماری داسې نشته چه په حبه السوداء کښې دهغې علاج نه وی۔

## یو مریضې جینئ ته دالله

## دطرفنه دجادو ځائې ښودل کیدل

ماته یوه مریضه جینئ راغله، او کله چه ما په هغې باندې دم واچولو نو زه پوهه شوم چه په دې باندې قوی او مضبوط سِحر شوې دې۔ هغې به په خوب او په ویخه باندې شکلونه وغیره لیدل۔ ما ورته اووئیل: تاسو دا علاج استعمال کړئ – ان شاء الله – چه سِحر به بیکاره او ختم شی۔

نو دهغې کور والو ماته اووئیل چه څه داسې طریقه شته چه په هغې سره د سِحر ځائې معلوم شی؟

ما ورته اووئیل: آو!

هغوئ اووئیل: هغه څنګه؟

ما ورته اووئیل: هغه دا چه دشپې په آخری حصه کښې کله چه اللـه جل شانه ددنیا آسمان ته دخپل شان مطابق راکوزیږی دعاء او زاری کول چه دا دقبلیدو وخت دې۔

نو په دغه وخت کښې دعاء اوکړئ چه اللـه مونږ ته دجادو متعلق خبر راکړی۔

دغه مریضه جینئ دشپې پاڅیده مونځ ئې اوکړو اود الله نه ئې په دغه سلسله کښې دعاء اوکړه۔ بیا الله رب العزت ورته په خوب کښې اوخودل چه یو سړی دلاس نه نیولې ده اود کور یو طرفته ئې

Maktaba Tul Ishaat.com

بو تله اوکوم ځائے کښے چه جادو ښخ شوے وو هغه ئے ورته اوخودلو - کله چه سَحر شو نو هلته لاړه او هغه ځائے کښے ئے جادو اوموندلو، نو هغه ئے را اوویستلو نو دهغے نه هغه جادو ختم شو او هغه جینئ ته الله تعالیٰ شفاء ورکړه -

والحمد لله رب العالمين -

★★★★

عن ابی هريرة - رضی الله عنه - قال : قال رسول الله ﷺ : ینزل ربنا تبارك وتعالیٰ الی السماء الدنيا - حين يبقیٰ ثلث الليل الآخر، فيقول : من يدعونی فاستجيب له من يسالنی فأعطيه، من يستغفرنی فاغفر له -

وفی رواية .... انا الملك انا الملك من ذا الذی يدعونی فاستجيب له، من ذا الذی يسالنی فاعطيه، من ذا الذی يستغفرنی فاغفر له فلا يزال كذلك حتی يضيئ الفجر - رواه مسلم رقم : ۷۵۸ -

ترجمه : ابو هريره - رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلے دے :

زمونږ رب تبارك وتعالیٰ هره شپه دے آسمان ددنيا ته راکوزيږی کله چه دشپے دريمه آخری حصه پاتے شي، نو دا فرمائی : څوك شته چه مانه دعاء اوغواړی چه زه ورله دعاء قبوله کړم ؟ څوك شته چه مانه څه اوغواړی او زه ئے ورته ورکړم ؟ څوك شته چه مانه بخښنه اوغواړی چه ورته ئے اوکړم ؟

او په يو روايت كښې داسې دي :

زه بادشاه يم ! زه بادشاه يم ! څوك دے چه مانه دعاء اوغواړي چه زه ئے قبوله كړم ؟ څوك شته چه مانه څه سوال اوكړي چه زه ئے وركړم ؟ څوك شته چه مانه بخښنه اوغواړي چه زه ورته بخښنه اوكړم ؟ دا كار دصبا راختو پورے كيږي ـ

* * * * * *

Maktaba Tul Ishaat.com

# اووم فصل

# دخپلې ښځې نه دتړل شوی شخص علاج

★ دخپلې ښځې نه دتړلو او بندولو معنی

★ تړل څنګه پیدا کیږی ؟

★ دسړی دتړلو علاج

★ دزنانه دتړلو علاج

★ دزنانه نه دتړلو اود جنسی کمزورئ ترمینځه فرق

★ د شنډوالی د ځینې قسمونو علاج

★ دسرعت انزال علاج

★ دواده هلك اوجینئ دپاره دملاویدو نه مخکښې

احتیاطی تدابیر

★ دتړلو - بندیدلو - دعلاج ـــی ـمونـه

# اووم فصل

# د خپلې ښځې نه د تړل شوي شخص علاج

## دتړلو پيژندنه :

تړل - چه عربئ ژبه کښ ورته ربط وائي - ديته وئيلې شي چه يو روغ اوجوړ تندرست سړے خپلې بي بي سره دجماع کولو نه عاجز شي ـ اوکله چه مونږ ددے خبرے معلوموموَل غواړو چه تړل څنګه کيږي نو ددے دپاره اول دآله تناسل دانتشار کيفيت پيژندل پکار دي ـ

## دنارينه دکوروالي فلسفه

دا معلومه خبره ده چه دنارينه آله تناسل (خاص اندام) دربړ پشان دغوښے يوه ټوټه ده چه کله په کښے وينه اوچليږي نو انتشار په کښے پيدا شي او سخت شي او چه کله وينه بيرته واپس شي نو خکته شي او نرم شي ـ

## دنارينه د آله تناسل دانتشار درے مرحلې :

۱ - کله چه نارينه سره دجماع رغبت پيدا شي نو دهغه خصيتين (هګۍ) په فعاليت شروع اوکړي چه په هغې کښے يو قسم مواد دي چه د (هرموناتو) په نامه ياديږي، هغه په وينه کښے يو ځائے کوي، بيا دغه مواد دوينے په ذريعے سره دسر ځرمنے ته ورسيږي چه په بدن کښے يو برقي قوت پيدا شي ـ

۲ - دويم دا چه نارينه سره چه کله دجماع رغبت پيدا شي نو دا

Maktaba Tul Ishaat.com

په دماغو کښې خپل مخصوص مرکز سره ارتباط اونیسي ـ

۳ – دریم کله چه دماغو ته دجماع رغبت اورسیږي نو هغه تناسلي اعصابو ته کوم چه دملا په تیر کښې واقع دي هغې ته حکم اوکړي چه خپلې هغه لارې خلاصې کړه کومې چه بندې دي، بیا ډیر په تیزئ سره دغه وینه آله تناسل ته روانه شي نو په آله تناسل کښې انتشار (راپاسیدل) پیدا شي ـ

## د سړي د کوروالي نه بندول څنګه کیږي ؟

پیرې دانسان ددماغو په هغه ځائې کښې مرکز اونیسي کوم ځائې نه چه عضو تناسل ته شهواني تعلیمات ملاویږي، بیا چه کله انسان خپلې بي بي ته دنزدې کیدو اراده اولري نو پیرې د هغه ددماغو هغه مرکز کوم چه عضو تناسل کښې شهواني جذبات راپورته کوي بیکاره کړي نو هغه اشارات چه عضو تناسل ته ملاویږي هغه بند شي چه دهغې په وجه انسان بیا دخپلې ښځې سره دجماع کولو قابلیت نه لري ـ ددې وجې نه چه دغه انسان چه کله دخپلې ښځې سره ملاعبت – لوبې ټوقې – یا مباشرت کوي نو آله تناسل ئې په طبعي حالت کښې وي، خو چه کله خپلې ښځې سره کوروالي کولو ته تیار شي نو په عینِ موقعه کښې عاجز او نامرد شي او بیا دا طاقت نه لري چه کوروالې اوکړي ـ

او کله کله داسې وي چه دیو سړي دوه ښځې وي خو دیوې نه تړل شوې – بند شوې – وي او د بلې نه نه وي بند شوې ـ دا ددې وجې نه چه هغه پیرې او شیطان چه په ده باندې دجادو او سِحر به

وجه مقرر شوے دے هغه خپل فعالیت صرف هغه وخت کښے کوی کله چه دے هغه ښځے ته نزدے شی چه دکومے نه دے بند شوے دے۔

## دښځے تړل

دا خبره دیادولو وړ ده چه لکه څنګه چه سړے تړل کیږی نو دغه شان ښځه هم تړل کیږی چه دښځے تړل بیا په پنځه قسمه دی۔

### ۱ - ربط المنع :

یعنی ښځه داکوشش کوی چه خپل خاوند ځان سره دجماع کولو نه منع کړی، دا په دے طریقه چه ښځه خپل ورنونه - پتونان - یو بل سره داسے جوخت یو ځائے کړی چه خاوند بیا دجماع کولو طاقت نلری ۔ اودا کار د ښځے نه په غیر ارادی طور سره صادریږی ، تردے چه دیو ځوان سړی ښځه په دے قِسم مصیبت اخته شوے وه نو هغه به رتله او بدے ردے به ئے ورته وئیلے، نو هغے به ورته وئیلے چه دا کار زما دارادے نه بهر دے بلکه هغے ورته اووئیل چه دجماع کولو نه مخکښے ته زما په خپو کښے داوسپنے هتکړئ واچوه چه زما خپے یو بل سره جوختے او پیوسته نشی، هغه سړی همدغه کار اوکړو، لیکن بیا هم کامیاب نشو ۔ بیا ورته خپلے ښځے اووئیل چه کله ستا دنزدیکت اراده وی نو ماله دنشے دوائی راکړه، ددے کار کولو نه پس عمل کامیاب شو، لیکن دیو طرف نه (صرف خاوند ته نفع ملاؤ شوه)۔

Maktaba Tul Ishaat.com

## ۲ – ربط التبلد :

پیرے دښځے په دماغو کښے ځانله داحساس په مرکز کښے ځائے اونیسی، کله چه خاوند دجماع اراده اوکړی نو پیرے د ښځے هغه احساس ختم کړی دکوم په وجه چه لذت اوخوند حاصلیږی، نو ښځه هیڅ لذت محسوس نه کړی، بلکه په دغه دوران کښے ښځه دنیمے بیهوشئ په حالت کښے وی اوخاوند چه په ښځه څومره کوشش اوکړی خو هغه په هیڅ حرکت کښے نه راځی او هغه مائعه ماده چه دجماع نه مخکښے په هغے سره غدے دښځے په اندام مخصوصه کښے لوندوالے راولی هغه نه موجودیږی چه دهغے په وجه بیا په صحیح کامیابئ سره دغه جنسی عمل پوره نشی۔

## ۳ – ربط النزیف :

د سِحر النزیف بیان مونږ د سِحر په اتم قسم کښے کړے دے چه دا څنګه وجود ته راځی، لیکن دا قسم سِحر – ربط النزیف – د سِحر النزیف نه صرف په یو کار سره جدا دے او هغه دا چه ربط النزیف خاص وی په اوقاتو دجماع پورے۔ پاتے شو سِحر النزیف نو دهغے دجماع سره څه تعلق نه وی بلکه هغه ډیرے ورځے جاری وی

او ربط النزیف دیته وئیل کیږی چه کله سړے دجماع کولو اراده اوکړی نو دښځے نه په عین همدغه وخت کښے سخته وینه جاری شی یعنی استحاضه شی چه بیا سړے قدرت نلری چه جماع اوکړی۔ (او داستحاضه په باره کښے د نبی کریم ﷺ ارشاد

دے چه دا دشیطان دلتو نه یو لته ده، ترمذی : ۱۲۸) ۔

تردے چه ماته یو فوجی سړی اووئیل چه کله مونږ ته کور له دتلو اجازت (چهتی) ملاؤ شی نو زه چه کله کور ته څنګه اورسیږم نو دکور والا نه مے وینه جاری شی، او دغه حالت دچهتئ ترختمیدو پورے جاری وی او یادهغے نه هم زیات وی یا کم وی، او چه کله واپس خپل کار دپاره فوج ته راشم نو بیا هیڅ وینه نه وی، بلکه زه چه څنګه دکور نه اوځم نو فورا بیا وینه بنده شوے وی ۔ اودا کار همیشه داسے کیږی ۔

## ٤ – ربط الانسداد :

دا هغه ترلو ته وئیل کیږی چه کله یو سړے دخپلے بی بی سره دجماع اراده اوکړی نو دده مخے ته دغوښے یو بند پیدا شی چه دهغے په وجه بیا دے دجماع کولو طاقت نه لری ۔

## ٥ – ربط التغویر :

دا هغے ترلو ته وئیلے کیږی چه یو سړے دیوے باکرے جینئ سره (یعنی هغه جینئ سره چه څوك ورسره ملاؤ شوے نه وی، پیغله وی) نکاح اوکړی، اوکله چه دنزدیکت اراده اوکړی نو ده ته داسے معلومیږی لکه چه دا ثیبه وی (ثیبه هغه ښځه چه بکارت پرده ئے شلیدلے وی) چه ددے په وجه خاوند بیا په شکوکو او شبهاتو کښے مبتلا شی، لیکن کله چه دهغے علاج اوشی او سِحر ئے ختم شی نو دبکارت هغه پرده بیا په خپل حال شی ۔

## د جماع نه د بندوالی علاج

Maktaba Tul Ishaat.com

ددے دپارہ څو طریقے دی :

★ اوله طریقه :

اول بـه وربانـدے هغـه دم اولـولے کـوم چـه مخکښے په شپږم فـصـل کښے ذکر شوے دے۔ کله چه پیری دده په ژبه خبرے اوکړے نـو د سِـحـر دځائے پوښتنه به ترے اوکړی چه سِحر اوجادو کوم ځائے کښے پـروت دے، کـه دسِحر ځائے ئے اوخودلو نو دهغه ځائے نه ئے را اوباسـه اوختم ئے کړه، او بیا پیری ته حکم اوکړه چه ددے مریض نه اوځـه، نـو کـه پیرے اووته نو جادو باطل اوبیکاره شو، اوکه ددمولو نـه پس پیـری دده په ژبه خبرے اوکړے نو بیا ورسره لاندینۍ طریقه استعمال کړه :

★ دویمه طریقه :

دا لانـدینی آیتونه بار بار په اوبو باندے اولوله او بیا دے مریض څو ورځے دغه اوبه اوڅکی او هم دے وربانـدے غسـل اوکړی، ان شاء الله جادو او سِحر به ئے باطل او ختم شی ۔ هغه آیتونه دادی :

﴿ قَالَ مُوْسٰی مَا جِئْتُمْ بِـهِ السِّحْرُ اِنَّ اللّٰـهَ سَیُبْطِلُهٗ اِنَّ اللّٰـهَ لَایُصْلِحُ عَمَلَ الْمُفْسِدِیْنَ، وَیُحِقُّ اللّٰهُ الْحَقَّ بِكَلِمَاتِهٖ وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُوْنَ ﴾

[ سورت یونس، آیت : ۸۱، ۸۲ ]۔

﴿ وَاَوْحَیْنَـآ اِلٰـی مُوْسٰـی اَنْ اَلْقِ عَصَاكَ فَاِذَا هِیَ تَلْقَفُ مَا یَاْفِكُوْنَ، فَوَقَعَ الْحَقُّ وَبَطَلَ مَاكَانُوْا یَعْمَلُوْنَ، فَغُلِبُوْا هُنَالِكَ وَانْقَلَبُوْا صَاغِرِیْنَ ، وَاُلْقِیَ السَّحَرَةُ سَاجِدِیْنَ، قَالُوْا آمَنَّا بِرَبِّ

﴿الْعَالَمِيْنَ، رَبِّ مُوْسٰى وَ هَارُوْنَ﴾ ۔

[ سورۃ الأعراف، آیت : ۱۱۷، ۱۲۲] ۔

﴿اِنَّمَا صَنَعُوْا كَيْدُ سَاحِرٍ وَّلَا يُفْلِحُ السَّاحِرُ حَيْثُ أَتٰى﴾ ۔

[ سورت طه، آیت : ٦٩] ۔

### ★ دریمه طریقه :

دبیرے اووه شنے پاڼړے ددوه ګټو په مینځ کښے اوټکوه اود اوبو په یو ډك لوخی کښے ئے واچوه، بیا دغه لوخے خپلے خولے ته رانزدے کړه اودغه پاڼړے په اوبو کښے خکته پورته اړوه راړوه او آیت الکرسی او معوّذات – آخری درے سورتونه -- وربانده وایه، بیا مریض ته اووایه چه دا اوبه څو ورځے اوڅکه اوهم وربانده غسل اوکړه ۔ خو خیال به کوے چه نورے اوبه ورسره ګډے نه کړے اونه ئے په اور باندے ګرمے کړے، که ګرمول ئے غواړے نو په نمر دے ګرمی کړی، اوبل دا چه په ناپاکه ځائے کښے به ئے نه توئے کوی۔ نو په دے طریقے سره به ان شاء الله تړل خلاص شی، سِحر اوجادو به ئے ختم شی ۔ اوداهم کیدے شی چه په اول ځل غسل کولو سره ئے جادو ختم شی ۔

### ★ څلورمه طریقه :

دمریض په غوږ کښے به هغه مخکښے ذکر شوے دم اولولی او بیا به دا آیت هم ورسره کم نه کم سل ځله اولولی :

﴿وَقَدِمْنَآ اِلٰى مَا عَمِلُوْا مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنَاهُ هَبَاءً مَّنْثُوْرًا﴾

تردے چه دمریض په لاسونو اوخپو کښے سستی اویو قِسم

Maktaba Tul Ishaat.com

نشه پیدا شی ـ دا دَم وریاندے څو ورځے واچوه ان شاء الله سِحر اوجادو به ختم شی ـ

★ پنځمه طریقه :

حافظ ابن حجر – رحمه الله – په فتح الباری کښے فرمائی :

عبد الرزاق په خپل سند سره دامام شعبی – رحمه الله – نه نقل کوی چه دے فرمائی : هیڅ باك نشته په نشره عربیه کښے ـ اونشره عربیه دیته وائی چه دغه مریض دیو ے ازغی دارے وُنے لاندے بوتلے شی او بیا دهغه خی او کس طرفنه څه پاڼے را اوشوکولے شی او بیا اوټکولے شی او په اوبو کښے واچولے شی بیا په دغه اوبو قرأت (دَم) اوکړے شی او په دغه اوبو باندے مریض بیا غسل اوکړی، آهـ.

زه (مؤلف) وایم چه په دغه اوبو دے معوذات او آیه الکرسی اولوستلے شی ـ

★ شپږمه طریقه :

د سپرلی په موسم کښے دے دغه مریض شخص دباغونو، بیابانونو اوځنګلونو ګلان دخپل طاقت مطابق راجمع کړی او بیا دے په یو پاك لوخی کښے واچوی، بیا دے وریاندے دپاسه خوږے اوبه (چه دسمندر :مکینے اوبه نه وی) واچوی بیا دے په اور باندے دغه ګلونه په دنه اوبو کښے لږ شان اوخوټکوی، بیا دے لږ انتظار اوکړی چه اوبه یخے شی، بیا دے وریاندے معوذات او آیت الکرسی اولوستلے شی او بیا دے په خپل بدن واړوی نو دالله په اذن به جوړ

به شی۔

(فتح الباری: ۱۰/۲۳٤)۔

## اوومه طریقه:

داوبو په یو لوښی باندې چه اوبه په کښې وی معوذات اودا راتلونکې دعاګانې اولولی:

(اَللّٰهُمَّ رَبَّ النَّاس، اَذْهِبِ الْبَأْسَ، وَاشْفِ اَنْتَ الشَّافِیْ لَا شِفَاءَ اِلَّاشِفَاؤُكَ، شِفَاءً لَا یُغَادِرُ سَقَمًا)۔ (بِسْمِ اللّٰهِ اَرْقِیْكَ وَاللّٰهُ یَشْفِیْكَ مِنْ کُلِّ دَاءٍ یُؤْذِیْكَ، وَمِنْ کُلِّ نَفْسٍ اَوْعَیْنٍ حَاسِدٍ اَللّٰهُ یَشْفِیْكَ)۔ (اَعُوْذُ بِکَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ)۔ (بِسْمِ اللّٰهِ الَّذِیْ لَا یَضُرُّ مَعَ اسْمِهٖ شَیْءٌ فِی الْاَرْضِ وَلَا فِی السَّمَاءِ وَهُوَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ)

دا دعاګانې دې په اوبو باندې اولوستلې شی او هغه دې مریض اوڅکی او په دې دې ځو ورځې غسل هم اوکړی، نو دالله تعالیٰ په حکم سره به سِحر جادو ختم شی او تړل به خلاص شی۔

## ★ اتمه طریقه:

په یو پاك لوښی کښې به په پاکه سیاهی باندې دا آیتونه اولیکی:

﴿قَالَ مُوْسٰی مَا جِئْتُمْ بِهِ السِّحْرُ، اِنَّ اللّٰهَ سَیُبْطِلُهٗ اِنَّ اللّٰهَ لَا یُصْلِحُ عَمَلَ الْمُفْسِدِیْنَ، وَیُحِقُّ اللّٰهُ الْحَقَّ بِکَلِمَاتِهٖ وَلَوْ کَرِهَ الْمُجْرِمُوْنَ﴾۔

(سورت یونس، آیت: ۸۱، ۸۲)۔

بیا به ئې دحبة السوداء – کلونجی یا تورې دانې – په تیلو سره

Maktaba Tul Ishaat.com

دغه آیتونه په همدغه لوخي کښې وران (مِتاؤ) کړي او بیا به مریض درې ورځې دغه اوڅکي او هم به وریاندې خپله سینه اوتندې درې ورځې مالش کړي، ان شاء الله سِحر اوجادو به ئې ختم شي.

دا خبره د یادولو قابل ده چه امام ابن تیمیه - رحمه الله - هم دقرآن کریم یا دنورو اذکارو لیکلو او بیا په اوبو وغیره سره دهغې دورانولو او څکلو باندې دجواز فتویٰ ورکړې ده.

(مجموع الفتاوی: ۱۹/٦٤).

★ نهمه طریقه:

هغه مخکښې ذکر شوې دم به په پاك لوخي کښې په پاکه سیاهي - مثلا زعفرانو وغیره - باندې اولیکي او بیا به ئې په اوبو باندې په همدغه لوخي کښې وران کړي او اوبه به یو څو ورځې مریض اوڅکي اوهم به وریاندې یوڅو ورځې غسل اوکړي، ان شاء الله جادو او سِحر به ئې ختم شي.

* * * * * *

## دتړلو، نامردئ اوجنسي کمزورئ ترمینځه فرق

### اول: تړل اوبندول:

که په مریض باندې دجماع نه دبندیدلو جادو شوې وي نو دهغې اهمې او ضروري نښې دادي چه ترڅو پورې دخپلې ښځې نه لرې وي نو په خپل ځان کښې دجماع پوره طاقت محسوسه وي، بلکه عضو تناسل کښې ئې انتشار هم راځي، لیکن کله چه خپلې

بې بې ته ورنږدې شي اود جماع ارداه اوکړي نو عضو تناسل ئې راغونډ شي او بیا دجماع طاقت نه لري ـ

## دویم نامردي :

که مریض نامرد وي – یعني دکور والي نه عاجزه وي – نو که هغه خپلې ښځې ته نژدې وي اوکه لرې وي هغه په خپل ځان کښې دجماع طاقت نه محسوسه وي، بلکه آله تناسل کښې ئې بالکل حرکت او انتشار نه راځي ـ

## دریم : مردانه کمزوري :

که مریض کښې جنسي ضعف (مردانه کمزوري) وي نو په هغې کښې ډیرې ورځې پس دجماع قابلیت راځي اوچه کله دجماع قابل شي نو ډیر زر دهغه مباشرت ختم شي او اندام مخصوصه کښې ئې فطور او سستي پیدا شي ـ

## دضعف جنسي – مردانه کمزورئ – علاج

دربط – تړلو – دعلاج دپاره خو نهه طریقې ذکر شوي دي، اود نامردئ علاج دې د ډاکټرانو او طبیبانو نه اوکړې شي که هغوئ ئې کولې شي ـ

پاتې شو ضعف جنسي – یعني مردانه کمزوري – نو دهغې علاج دادې :

۱ – یو کیلو خالص شهد اودوه سوه ګرامه تازه غذاء الملکات راوړه ـ

۲ – بیا وربانديې سورت الفاتحه او سورت الم نشرح او

Maktaba Tul Ishaat.com

معوذات اولوله ۔

۳ – بیا دے مریض هره ورځ په نهره ددے نه درے کاشوغے خوری۔ اویوه کاشوغه ماسپخین اویوه کاشوغه د ماښام دروټئ نه یوه گینټه مخکښے خوری ۔

٤ – یوه میاشت یادوه میاشتے دے دخپل ضعف په اندازه دا علاج جاری اوساتی، ان شاء الله چه الله جل شانه به ورته شفاء ورکړی ۔

( دغذاء الملکات باره کښے بهتره داده چه دخلیُو نه تازه راویستل شوی وی ځکه چه ددے حفاظت دفریزر نه بغیر نه کیږی، او ددے په غذائی قیمت کښے ورځ په ورځ کمے رائحی۔ په دے کښے خو درجے دی : اوله درجه الغذاء الجبلی ده، اودا دسعودی او د یمن په بعضو علاقو کښے پیداکیږی۔ دویمه درجه الغذا المصری۔ دریمه درجه : الغذاء الترکی۔ څلورمه درجه : الغذاء المستورد ده، اودا دټولو نه کمه ده )۔

* * * * *

# د شنډوالی د بعض اقسامو علاج

## د سړی ، شنډوالے

شنډ والے په دوه قسمه دے :

اول : داچه سړے جسماني طور سره مريض وی او اولاد ئے نه کيږی، نو که داسے وی نو د ډاکټرانو او طبيبانو نه دے علاج اوکړی که هغوئ د دے علاج کولے شی۔

دويم : داچه جسماني طور سره بالکل صحيح وی، ليکن د جناتو د شرارت دوجے نه دے داولاد د پيدا کيدو قابل نه وی ۔ نو د ده علاج په قرآن کريم او ماثوره – منقول – دعاگانو سره کيدے شی۔

اودا خبره خوښکاره او معلومه ده چه د سړی د تولد او تناسل د صلاحيت د پاره د ده د مَنی په يو سانتي متر مکعب کښے د (۲۰) ميليونو نه زيات حيوانات منويه – جراثيم – موجود وی، نو کله کله شيطان د انسان په خصيتينو کښے تصرف کوی او په خصيتينو – هگو – باندے زور واچوی چه دغه معلوم اندازه شوی حيوانات خارج نشی چه د هغے نه بيا تولد نه کيږی ۔

کله چه دغه حيوانات منويه د خصيتينو خُويصلے ته خارج شی نو دوئ يو سائل او لعابی مادے ته محتاج وی نو هلته يوه غده ده چه هغه دا ضرورت پوره کوی، او دغه ماده په خُويصله کښے غورځوی، د دے د پاره چه په دے سره دغه جمعه شوے حيوانات غذاء او خوراك حاصل کړی او ژوندی پاتے شی، نو دلته

Maktaba Tul Ishaat.com

شیطان بیا یو بل تصرف کوی او هغه داچه دغه غده دیته نه پریدی چه دا خپله هغه سائل او لعابی ماده ځویصلې ته اوغورزوی نو چه کله دغه جمع شوی حیوانات ته دغه ماده ملاؤ نشی نو هغه مړه شی او بیا تولد نه کیږی ۔

## د طبعی شنډ والی

## اود پیری دوجے نه دشنډ والی ترمینځه فرق

### دپیری دوجے نه شنډ والے اود هغے علامات

۱ – د سینے تنګ والے اوخاصکر دمازیګر نه پس ۔

۲ – پریشان حالی ۔

۳ – دملا په لاندینو هډوکو کښے درد ۔

٤ – په خوب کښے خفګان ۔

٥ – خطرناك خوبونه لیدل ۔

## د ښځے شنډ والے

دښځے شنډ والے په دوه قسمه دے :

★ اول : طبعی شنډ والے چه الله تعالیٰ دغه شان پیدا کړے وی

★ دویم : داچه ښځه قدرتی طور سره صحیح وی اود اولاد راوړلو قابله وی لیکن د هغے په رحِم کښے پیری ځانله ځائے نیولے وی، اوپه ماده منویه کښے چه کومے انډے (هګئ) وی هغه فاسدوی کومے چه داولاد پیدا کیدو دپاره اصلی سبب وی ۔ دده دشرارت یو شکل خو داوی چه دے د ښځے هغه پیداواری صلاحیت بالکل ختم کړی ۔

اودویم شکل ئے دادے چه د ښځے په رحم کښے یورګ په پونده اووهی چه دهغے دوچے نه د ښځے وینه راتلل شروع شی او حمل ئے ضائع شی۔

او په صحیحینو - بخاری اومسلم - کښے دنبی کریم ﷺ دا ارشاد مبارك نقل شوے دے چه:

ان الشیطان یجری من ابن آدم مجری الدم۔

ترجمه: بیشکه شیطان دانسان په رګونو کښے لکه دوینے غوښته زغلی رازغلی۔

## د شنډ والی علاج:

۱ - مخکښے چه کوم دم دجادو دپاره ذکر شوے دے دابه په یو کیسټ کښے ثبت (ریکارډ) کړے او مریض به دورځے دغه کیسټ درے ځله آوری۔

۲ - سورت الصافات به سَحَر کښے تلاوت کوی او یا به ورته غوږ کدی۔

۳ - داوده کیدو په وخت کښے دسورت المعارج تلاوت کول یا آوریدل۔

٤ - دحبة السوداء (کلونجی یا تورے دانے) په تیلو به سورت الفاتحه، آیت الکرسی او معوذات اولولی اومریض به په دے باندے خپل تندے اود ملا هډوکی غوړوی۔

٥ - همدا آیتونه او سورتونه به په خالص شهدو اولولی اودم به ئے کړی اومریض به هر سَحر په نهره یوه کاشوغه خوری۔

Maktaba Tul Ishaat.com

دا بره ذکر شوی علاج دی مریض څو میاشتې جاري اوساتی، ان شاء الله شفاء به ورته نصیب شی، په دی شرط چه په دی دوران کښی دی دالله جل شانه د شریعت پابندی کوی ۔ دالله په فضل په دی سره ددی قِسم ډیرو حالاتو علاج شوی دی ۔

## دسرعت انزال علاج

که سرعتِ انزال دجسمانی بیماریٔ په طور وی نو طبیبان دهغې علاج په څو طریقو سره کوی :

۱ – په اندام مخصوصه باندی مرهم لګول ۔

۲ – دجماع په دوران کښی په یوه بله اهمه موضوع باندی غور او فکر کول ۔

۳ – دجماع په دوران کښی دریاضی بعضې مشکل سوالونه حل کول ۔

اوکه سرعت انزال د پیری دشرارت دوجې نه وی نو دهغې علاج دادی :

۱ – د سَحر مونځ نه پس سل ځله دا کلمه وئیل :

(لَا اِلٰـهَ اِلاَّ اللّٰـهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَـهُ ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْر)۔

۲ – داوده کیدو نه مخکښی سورت الملك لوستل یا آوریدل

۳ – هره ورځ بار بار آیۃ الکرسی وئیل ۔

٤ – هره ورځ لاندینۍ دعاګانې سَحر او ماښام درې درې ځله لوستل :

★ اَعُوْذُ بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ۔

★ بِسْمِ اللّٰهِ الَّذِیْ لَا یَضُرُّ مَعَ اسْمِهٖ شَیْءٌ فِی الْاَرْضِ وَلَا فِی السَّمَاءِ وَهُوَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ ۔

★ اَعُوْذُ بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّةِ مِنْ كُلِّ شَیْطَانٍ وَّهَامَّةٍ وَعَیْنٍ لَّامَّةٍ

دا پورته ذکر شوي علاج به کم از کم درې میاشتو پورې جاري اوساتي ۔

# جادونه دځان بچ ساتلو دپاره احتیاطي تدابیر

---

دا خبره خو هر چاته معلومه ده چه دجماع نه دبندوالي (تړلو) جادو عام طور سره په ځوانانو باندې هغه وخت کیږي چه ده دواده اراده کړې وي، خاصکر کله چه دې په یو داسې معاشره کښې اوسیږي چه په هغې کښې جادوګر، فاجران زیات وي۔

دلته یو سوال پیدا کیږي او هغه دا چه : آیا دواده ځلمې او ناوې داسې احتیاطي تدبیرونه نشي کولې چه دوئ په هغې سره دجادو داثر نه محفوظ شي ؟

نو ددې سوال جواب دادې چه آو ! داسې کیدې شي او اوس مونږ هغه تحصینات (دځان بچ ساتلو تدبیرونه ) ذکرکوو۔ لیکن ددې نه مخکښې زه غواړم چه تاسو ته یوه واقعه ذکرکړم :

★ په یو کلي کښې یو ځوان وو چه دشریعت الهي پابند وو، چه په خپل کلي کښې اودغه شان دخپل کلي نه بهر به ئې خلق خالص داالله جل شانه توحید اوصفا عقیدې ته رابلل، دې سره سره

Maktaba Tul Ishaat.com

به ئے خلق جادوګر ته دتللو نه يرول او هغوئ ته به ئے ددے خبرے وضاحت کولو چه جادو اوسِحر کول کفر دے، اوجادوګر يو ناپاك اوخبيث انسان وی، اود الله جل شانه اود رسول اکرم ﷺ دشمن وی۔

په دغه کلی کښے يو مشهور جادوګر اوسيده، کله چه به کوم يو ځوان دواده اراده اوکړه نو هغه به دے جادوګر ته راغے او ورته به ئے اووئيل چه زما په فلانئ ورځ باندے واده دے اوکه ستا څه مطالبه وی نو اووايه ۔

نو جادوګر به ترے ډيرو پيسو مطالبه اوکړه، نو هغه ځوان به بغير دڅه تردد نه هغه پيسے دغه جادوګر ته ورکړے ۔ اوکه داسے به ئے اونه کړل نو ده به وربانديے دجماع نه دبندوالی جادو اوکړو اونتيجه به دا شوه چه دغه سړی به بيا دخپلے ښځے سره جماع نشوه کولے ۔نو بيا به دده بله لاره نه وه بغير ددے نه چه دغه جادوګر ته لاړ شی چه دده نه دا جادو ختم کړی۔ ليکن دداسے سړی نه به جادوګر دوچنده پيسے اخستے۔ دغه نيك ځوان ددغه جادوګر خلاف دجنګ اعلان کړے وو۔ او په هرخاص اوعام مجلس کښے اود ممبرونو دپاسه به ئے دده نوم اخستلو اوبيعزتی به ئے ورله کوله ۔ اوخلق به ئے ده ته دتلونه منع کول، دغه وخته پورے لادے ځوان واده نه وو کړے، اوخلقو دده دواده دورځے انتظار کولو چه جادوګر به ده سره څه سلوك کوی، او آيا داځوان به دده دجادو نه ځان محفوظ اوساتی او که نه ؟

دغه ځوان دواړه پروګرام تیار کړو او دواړه نه یو شو ورځې مخکښې ماته راغې او پوره قیصه ئې ماته اوکړه او وې وئیل چه جادوګر ماته دهمکیانې راکوي او خلق هم په انتظار کښې دي چه څوك به غالب کیږي ؟ ستا څه رائې ده، آیا تاسو ماته دڅه احتیاطي اقداماتو په باره کښې معلومات راکولې شئ ؟

اودا خبره قابل ذکر ده چه جادوګر به ښه پوره کوشش کوي او هغه مضبوط جادو به کوي چه څومره ئې طاقت وي، ځکه چه ما دډیرو خلقو په مخ کښې دهغه توهین او سپکوالې کړې دې۔

ما هغه ځوان ته اووئیل چه آو ! ان شاء الله زه داسې کولې شم، لیکن په یو شرط سره ۔

هغه اووئیل : څه شرط دې ؟

ما ورته اووئیل : چه ته به جادوګر ته پیغام اولیږې او ورته به اووائې چه زما په فلانئ ورځ باندې واده دې، اوزه تاته چیلنج درکوم چه ته څه کولې شې نو هغه اوکړه اوکه ستا قدرت او طاقت کم وي نو نور جادوګر هم ځان سره ملګري کړه، او خلقو ته هم اووایه چه ما جادوګر ته چیلنج ورکړې دې ۔

هغه ځوان د تردد په حالت کښې اووئیل : آیا داته چه څه وائې نو ستا په دې باندې یقین دې ؟

ما ورته اووئیل : آو ! زما په دې باندې یقین دې، بیشکه غلبه دمؤمنانو وي، او ذلت او خواري دمجرمانو وي ۔

ماهغه ته احتیاطي تدبیرونه او اقدامات اوخودل ( چه هغه به

Maktaba Tul Ishaat.com

لرږ روسته ذکر کړم ان شاء الله).

ځلمي لاړو او چه کله خپل کلي ته اورسیدو نو جادوګر ته ئې چیلنج ورکړو چه زما په فلانئ ورځ باندې واده دې اوته چه څه کولې شې نو وې کړه، خلقو هم ډیر په شدت سره دده دواده دورځې انتظار کولو چه څه به کیږي.

هغه ځوان زما دهدایاتو مطابق احتیاطي اقدامات اوکړل. نونتیجه داشوه چه دهغه واده اوشو او هغه دخپلې بي بي سره یوځائې هم شو اود جادوګر جادو ورباندې هیڅ اثر اونکړو، اوخلقو ډیر تعجب اوکړو او حیران شو،اود جادوګر رُعب او دبدبه دخاورو سره خاورې شوه،اوددغه ځوان شان په خپل کلي اوکورنۍ کښې اوچت شو، دده داکامیابي دصحیح عقیدې په وجه وه، اودا ددې واضح دلیل دې چه الله - جل شانه - دباطل په مقابله کښې دصحیح عقیدې والا سره نصرت او امداد کوي.

والله اکبر، ولله الحمد، وما النصر الا من عند الله.

هغه احتیاطي اقدامات او تدابیر دادي:

## اول احتیاطي تدبیر:

۱ - دمدینې منورې اووه (۷) عجوه کهجورې سَحر په نهره باندې خوړل، که دمدینې منورې عجوه کهجورې نه وي نو دبل یوښار عجوه کهجورې هم استعمالولې شي.

په حدیث شریف کښې راځي نبي کریم ﷺ فرمائیلي دي:

من تصبح سبع تمرات عجوة لم یضره ذلك الیوم سم ولاسحر

ترجمه: څوك چه اووه عجوه كهجورے د سَحر په وخت اوخوری نو هغه ته به په دغه ورځ باندے زهر اوجادو نقصان نشی رسولے۔

(رواه البخاری: ۱۰/۲٤۹)۔

## دویم احتیاطی تدبیر:

اودس کول: څوك چه داودس والا مسلمان باندے جادو اثر نشی کولے۔ اود الله دطرفه دملائکو په حفاظت کښے وی۔ یو ملائك دده سره وی اوکله چه دے دشپے اړخ بدلوی نو ملائك دده په حق کښے دعاء کوی او وائی: اے الله! ته خپل بنده معاف کړه۔ څکه چه ده دطهارت په حالت کښے شپه تیره کړه۔

(رواه الطبرانی فی الأوسط باسناد جید، قاله المنذری فی الترغیب: ۲/۱۳)۔

## دریم احتیاطی تدبیر:

جماعت سره مونځ کولو پابندی: په دے سره انسان دشیطان نه محفوظ وی۔ او دجَمعے په مونځ کښے سستی کولو سره شیطان په سړی غالب کیږی۔ اوکله چه شیطان غالب شی نو په ده کښے داخلیدے هم شی، اوپه ده باندے جادو هم کیدے شی۔

نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی:

ما من ثلاثة فی قریة ولا بدو، لا تقام فیهم الصلاة الا قد استحوذ علیهم الشیطان، فعلیك بالجماعة فانما یاکل الذئب القاصیة۔

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: په بانده یا کلي کښې هیڅ داسې درې کسان نشته چه هغوئ په جماعت سره مونځ نه کوي مګر دا چه شیطان به په هغوئ باندې غلبه بیامومي، نو تاله جماعت ټینګ نیول پکار دي، ولې چه شرمخ صرف هغه ګډه بیزه ماتوي کومه چه درمې نه لرې اوجدا وي۔

## څلورم احتیاطي تدبیر:

### قیام اللیل – دتهجدو مونځ – کول:

څوك چه غواړي چه ځان دجادو نه محفوظ کړي نو دهغه دپاره قیام اللیل کول پکار دي، اوپه قیام اللیل کښې دې سستي نه کوي، ځکه چه په قیام اللیل کښې سستي کول په خپله شیطان په ځان باندې مسلط کول دي، اود شیطان د مسلط کیدو په صورت کښې جادو ته خود بخود لار هواریږي۔

جناب عبد الله بن مسعود – رضی الله عنه – نه روایت دې چه د نبي کریم ﷺ په مجلس کښې دیو داسې سړي ذکر اوشو چه ترسحره پورې اوده وي اود قیام اللیل دپاره نه ویخیږي۔ نو نبي کریم ﷺ اوفرمائیل: شیطان دده په غوږونو کښې متیازې کړې وي۔

(رواه ابوداو /۱۵۰، باسناد حسن)۔

اود ابن عمر – ی الله عنهما – نه روایت دې چه ده فرمائیلي دي:

څوك چه بغیر د وتر نه صبا کړي نو دې نه صبا کوي

مکر دده په سر باندے د اویا (۷۰) لاسه اوګدے رسئ بوج غورځیدلے وی۔

(قال الحافظ فی الفتح : ۲۵/۳ : سنده جید)۔

### پنځم تدبیر:

بیت الخلاء ته دننوتلو په وخت کښے په الله جل شانه سره د شیطانانو نه پناه غوښتل (یعنی بیت الخلاء ته دننوتلو دعاء وئیل)۔

ولے چه ناپاك ځایونه دشیطان داوسیدو ځایونه وی،ددے وجے نه په داسے ځایونو کښے دمسلمان موجودیت شیطان غنیمت ګنړی او په انسان باندے خپل تسلط او غلبه راولی۔

ماته په خپله یو شیطان وئیلی دی چه زه په یو سړی کښے په داخلیدو باندے هغه وخت کامیاب شوم چه هغه بیت الخلاء ته دننوتلو په وخت کښے د بیت الخلاء دعاء نه وه وئیلے۔ او یو جِنی (پیری) ماته اووئیل چه الله تعالیٰ تاسو ته قوی اسلحه درکړیده نو تاسو کولے شئ چه دهغے په ذریعه زمونږ خاتمه اوکړئ؟ لیکن تاسو هغه نه استعمالوئ! ما ورته اووئیل: هغه وسله څه ده؟ هغه وئیل: نبوی ذکرونه۔

اود نبی کریم ﷺ نه ثابت دی چه هغوئ به چه کله بیت الخلاء ته دننوتلو اراده اوکړه نو دا دعاء به ئے وئیله:

(اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ۔

(اے الله! زه په تاسره د نارینه اوزنانه شیطانانو نه پناه غواړم)۔

Maktaba Tul Ishaat.com

(رواه البخاری : ۲۹۲/۱، فتح، ومسلم: ۷۰/٤، نووی ).

شپږم تدبیر:

دمونځ شروع کولو نه مخکښې اعوذ بالله وئیل:

دجناب جبیر بن مطعم - رضی الله عنه - نه روایت دے چه دۀ نبی کریم ﷺ په مانځه باندے اولیدلو چه داسے وئیل:

(اَللّٰـهُ اَكْبَرُ كَبِيْرًا، وَالْحَمْدُ لِلّٰـهِ كَثِيْرًا ، وَسُبْحَانَ اللّٰهِ بُكْرَةً وَاَصِيْلًا - درے ځله -

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ مِنْ نَفْخِهٖ وَنَفْثِهٖ وَهَمْزِهٖ.

(رواه ابوداود : ۲۰۳/۱، وصححه الألبانی فی تخریج الکلم الطیب : ٥٥).

په دے حدیث کښے دنفخ نه مراد تکبر، دنفث نه مراد شعر اود همز نه مراد میرګی او لیونتوب دے.

اووم تدبیر:

د واده نه پس په اوله شپه باندے دخپلے بی بی په تندی باندے لاس کیخودل اودا دعاء وئیل:

(اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْاَلُكَ خَيْرَهَا وَخَيْرَ مَا جَبَلْتَهَا عَلَيْهِ، وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا وَشَرِّ مَا جَبَلْتَهَا عَلَيْهِ).

(رواه ابودا د وقال الألبانی فی تخریج الکلم : ۱٥۱ : اسناده حسن).

اتم تدبیر:

دازدواجی زندګۍ شروع په مونځ باندے کول:

عبد الله بن مسعود – رضی الله عنه – فرمائی :
دواده کولو نه پس چه کله ته خپلے ښځے ته راشے نو اول هغے ته حکم اوکړه چه ستا نه روسته اودریږی اودوه رکعته مونځ اوکړی، اوبیا دا دعاء اووایه :
(اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لِیْ فِی اَهْلِیْ، وَبَارِكْ لَهَا فِیَّ ، اَللّٰهُمَّ اجْمَعْ بَیْنَنَا مَا جَمَعْتَ بِخَیْرٍ ، وَفَرِّقْ بَیْنَنَا اِذَا فَرَّقْتَ اِلَی الْخَیْرِ)۔
(رواه الطبرانی وصححه الألبانی، راجع : الطریق الی الولد الصالح، للکاتب)۔

## نهم : د جماع په وخت، احتیاطی تدبیر :

عبد الله بن عباس – رضی الله عنهما – نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل : کله چه پتاسو کښے څوك خپلے بی بی ته دجماع دپاره راشی اودا دعاء اووائي :
(اَللّٰهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّیْطَانَ وَجَنِّبِ الشَّیْطَانَ مَا رَزَقْتَنَا)۔
نو که ددے جماع نه پس دوئ ته بچے ورکړے شی نوشیطان به ورته ضرر نشی رسولے ۔
(البخاری : ۲۹۱/۱، فتح، ومسلم)۔
ماته یو پیری د مسلمانیدو او توبه ویستلو نه پس اووئیل چه دتوبی ویستلو نه مخکښے به چه کله دے – بیمار – سړی دخپلے ښځے سره جماع کوله نو دے به ورسره په هغے کښے شریکیده ځکه چه هغه به دا دعاء نه وئیله ۔
سُبْحَانَ اللّٰهِ ! مونږ سره څومره قیمتی خزانه پرته چه مونږ

Maktaba Tul Ishaat.com

دهغې قدر نه پیژنو ـ

## لسم تدبیر :

داوده کیدو نه مخکښې اودس کول او آیت الکرسی لوستل اود خوب دراتلو پورې دالله جل شانه ذکر کول :

حدیث شریف کښې دی چه یو شیطان ابو هریره – رضی الله عنه – ته وئیلی وو چه څوك داوده کیدو نه مخکښې آیت الکرسی اووائی نو تر سَحره پورې یو ملائك دالله تعالیٰ له طرفه دده حفاظت کوی، او شیطان ورته تر سَحره پورې نه پریدی ـ دا خبره چه کله ابو هریره – رضی الله عنه – نبی کریم ﷺ ته اوکړه، نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل : تاته ئې رښتیا وئیلی دی حال دا چه هغه خپله دروغجن دے ـ

(رواه البخاری : ٤/٤٨٧، فتح)ـ

## یوولسم تدبیر :

د سَحر مانځه نه پس سل ځله دا ذکر لوستل :

(لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰـهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَـهٗ، لَـهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ)ـ

نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی : څوك چه دورځې سل ځله دا اووائی نو هغه ته دلسو غلامانو آزادولو ثواب ملاویږی، اود هغه دپاره سل نیکئ لیکلے کیږی، اوسل گناهونه ئې معاف کیږی، او ترماښامه پورې دے دشیطان نه محفوظ وی ، او هیڅوك دده پشان افضل څیز بانده راتگ نشی کولے، مگر هغه څوك چه دده نه

زیاته دا دعاء اووائی۔

## دولسم تدبیر:

مسجد ته ددا خلیدو په وخت کښې دا دعاء لوستل:

( اَعُوْذُ بِاللّٰهِ الْعَظِیْمِ، وَبِوَجْهِهِ الْکَرِیْمِ، وَسُلْطَانِهِ الْقَدِیْمِ مِنَ الشَّیْطَانِ الرَّجِیْمِ )

حدیث شریف کښې راځي، چه نبی کریم ﷺ فرمائی: څوك چه دا دعاء اووائی نو شیطان اووائی: چه دے مانه نن تموله ورځ محفوظ شو۔

(رواه ابوداود: ١/١٢٧، وحسنه النووی فی الأذکار: ٢٦، وصححه الألبانی فی تخریج الکلم الطیب تعلیق رقم: ٤٧)۔

## دیارلسم تدبیر:

سَحر او مابنام درے ځله دا دعاء وئیل:

( بِسْمِ اللّٰهِ الَّذِیْ لَایَضُرُّ مَعَ اسْمِهٖ شَیْئٌ فِی الْأَرْضِ وَلَا فِی السَّمَاءِ وَهُوَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ )۔

(الترمذی: ٥/١٣٣، وقال: حسن غریب صحیح)۔

## څوارلسم تدبیر:

دکور نه دوتلو په وخت کښې دا دعاء لوستل:

( بِسْمِ اللّٰهِ تَوَکَّلْتُ عَلَی اللّٰهِ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ )۔

څنګه چه کله ته دا اووائی نو تاته د الله جل جلاله له طرفه اووئیلے شی چه:

( کُفِیتَ ووُقِیتَ وهُدِیتَ ویتنحی عنك الشَّیْطَانُ )

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : ستا کفایت اوکړے شو، ته بچ کړے شوے او تاته نیغه لاره اوښودلے شوه، او شیطان دده نه لرے کړے شی او بل شیطان ته اووائی : ته به په داسے سړی څنګه غلبه حاصله کړے چه هغه ته هدایت شوے دے او دهغه حفاظت کړے شوے دے ، او هغه بچ کړے شو ے دے ؟

## پنځلسم تدبیر : سَحر او ماښام دا دعاء وئیل :

( اَعُوْذُ بِکَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ )۔

دا احتیاطی تدبیرونه او اقدامات چه کوم انسان اختیار کړی نو هغه به د هر قسم جادونه عموما اود خپلے ښځے دجماع نه دبندوالی نه خصوصا قلعه بند شی، خو په دے شرط چه دے دا تدابیر په یقین، صدق او اخلاص سره تطبیق کړے شی ۔

* * * * *

## دجماع نه د بندوالی دعلاج یوه عملی نمونه

ما دداسے قسم ډیرو حالاتو علاج کړے دے اوداسے ډیرے نمونے موجودے دی ، خو لیکن زه په یوه نمونه ذکر کولو باندے اکتفاء کووم، ددے یرے نه چه کتاب اوږد نشی ۔

★ یو ځوان ماته خپل وررور راوستو چه هغه یوه هفته مخکښے واده کړے وو، لیکن هغه خپلے ښځے ته نشو نزدے کیدے (کوروالے ئے نشو کولے) په دے سلسله کښے هغه ډیرو کاهنانو او نجومیانو ته تلے وو، لیکن هیڅ فائده ئے نه وه شوے ۔ ماته چه پته اولګیده چه دے خو هغوئ ته تلے دے نو ما ورته اووئیل : چه اول

په رښتيا سره توبه اوباسه اودغه کاهنان او نجوميان غلط او دروغجن اوګنړه (دے دپاره چه ايمان او عقيده ئے صحيح شي اوعلاج ورته فائده اورسوی ) نو هغه په خپله هم ماته اووئيل چه زما هغوئ ته په بار بار تللو باندے په هغوئ ددروغو اودد هوکے اود کمزورئ پوره يقين راغے ـ

بيا ما په هغه باندے هغه مخکښے ذکر شوے دم اولوستلو، او بيا مے دهغوئ نه دشنے بيرے اووه پاڼړے اوغوښتے ـ ليکن هغوئ پيدا نه کړے، نو ما دکافور د وُنے اووه پاڼړے راوړے، بيا هغوئ ددوه ګټو په مينځ کښے هغه پاڼړے اوټکولے بيا ما هغه په اوبو کښے واچولے اومعوذات (آخری سورتونه) او آيه الکرسی مے ورباندے اولوسته، بيا مے ورته ددغے اوبو دڅکلو او په هغے باندے دغسل کولو حکم اوکړو، نو هغه چه داکار اوکړو نو فورائے جادو ختم شو او تړل ئے خلاص شو ـ

الحمد لله اولا وآخرا ـ

## دجماع نه دبندوالی جادو په ليونتوب بدل شو

يو ځوان دواده نه مخکښے دماغی طور سره بالکل صحيح وو، ليکن چه کله ئے واده اوکړو نو حالت ئے بدل شو او خپلے ښځے ته دنزدے کيدو نه عاجز شو، او بيا ليونے شو، او په دغه ورځو کښے دا واقعات اکثر پيښيږی چه سِحر ديو حال نه بل حال ته بدل شی يا دجادو دوجے نه مرض ليونے شی ـ اودا ددے وجے نه چه جادوګر دجادوګرئ په فنونو صحيح نه پوهيږی اوجاهل وی ـ

Maktaba Tul Ishaat.com

اوددے مثال مخکښے هم مونږ ذکر کړے دے چه یوے ښځے دجادوګر نه مطالبه اوکړه چه ددے په خاوند داسے جادو اوکړی چه صرف دے سره محبت کوی اوباقی دنورو ټولو ښځو سره ئې نفرت پیدا شی ـ نو هغه چه کله جادو اوکړو نو نتیجه ئے داشوه چه دهغه نوم ښځے نه نفرت پیدا شو تردے چه خپلے ښځے نه ئے هم نفرت پیدا شو ـ او هغه ئے طلاقه کړه، دوباره چه کله هغه ښځه جادوګر ته دے دپاره لاړه چه هغه جادو واپس ختم کړی نو هغه جادوګر مړ شوے وو ـ سبحان الله !

لنډه دا چه هغه ځوان به پړمخے راغورزیدو اوکلی کښے به ګرځیدو اود لیونی پشان به ئے چغے وهلے، کله چه دهغه دپاره قرآن کریم په اوبو اود بیرے په پاڼړو باندے اولوستلے شو او دغه اوبه ئے اوڅکلے او غسل ئے وربانده اوکړو نو عقل ئے صحیح شو اود جماع کولو قابل شو ـ

والحمد لله وحده ـ

* * * * *

# اتم فصل

# د نظره کیدو علاج

۱ - د سترګو او نظر لګیدو باندے دقرآن کریم نه دلائل

۲ - دسترګو او نظر لګیدو باندے دسنت نبویه نه دلائل

۳ - دسترګو لګیدلو په حقیقت باندے دعلماؤ اقوال

٤ - د سترګو لګیدلو او حسد تر مینځه فرق

۵ - پیرے انسان لره د نظره کولے شی

٦ - دسترګے لګیدو علاج

۷ - دسترګے لګیدو د علاج عملی نمونے

★ یو ماشوم دے چه دمور تے نه روی

★ یو ماشوم دے چه خبرے نشی کولے

★ یو ناشنا خبره

* * * * * *

Maktaba Tul Ishaat.com

# اتم فصل

# دنظره کیدو علاج

## د نظر په تاثیر باندے د قرآن کریم نه دلائل

الله جل شانه فرمائی:

﴿ وقال يبنى لا تدخلوا من باب واحد وادخلوا من ابواب متفرقة وما اغنى عنكم من الله من شئ، ان الحكم الا لله عليه توكلت وعليه فليتوكل المتوكلون، ولما دخلوا من حيث امرهم ابوهم ما كان يغنى عنهم من الله من شئ الا حاجة فى نفس يعقوب قضاها وانه لذو علم لما علمناه ولكن اكثر الناس لا يعلمون ﴾

[ سوره يوسف، آيت : ٦٧، ٦٨]۔

ترجمه : اووئیل یعقوب (علیه السلام دشفقت دوجے نه) اے ځامنو زما ! مه ننوځئ تاسو (مصرته) دیوے دروازے نه (چه دنظره نشئ) اوننوځئ دمختلفو دروازو نه، اوزه نشم دفع کولے تاسو نه (دقضاء) دالله نه (په تدبیر سره) هیڅ شے، نه دے حکم (په قضاء سره) مګرخاص الله دپاره دے، خاص په همدے الله تعالیٰ توکل کړے دے ما، اوهم په ده باندے دے توکل اوکړی توکل کونکی اوکله چه ننوتل دوئ (مصر ته) دهغه ځائے نه چه امر کړے وو دوئ ته پلار ددوئ (چه دجدا جدا دروازو نه ننوځئ) نه وو (دغه ننوتل

ددوئ ډېـلـو بيلو دروازونه ) چه دفع کړې ددوئ نه (دقضاء) داالله نه هيڅ شے ، ليـکـن دا يو حاجت وو په نفس ديعقوب (عليه السلام) کښے چـه پـوره ئے کـړو، او بيشـکـه دغـه (يعقوب عليـه السلام) خـامـخا خاوند د پوهې وو په سبب ددے چه مونږ علم ورکړے وو ده تـه، ليـکـن اکثر دخلقو نه نه پوهيږی (په دے چه تقدير په تدبير نه بدليږی ).

حافظ ابن کثير – رحمه الله – ددے دوه آيتونو په تفسير کښے فرمائی :

الـلـه رب الـعزت د يعقوب عليه السلام په باره کښے فرمائی : چـه کله يعقوب عليه السلام (بيامين) سره دخپلو ورونو مصرته دليږلو دپاره تيار کړو نو ددے خبرے تلقين ئے ورته اوکړو چه ټول په يوه دروازه مه ننوځئ بلکه په جدا جدا دروازو ننوځئ، لکه څنګه چـه ابن عباس، محمد بن کعب، مجاهد، ضحاك، قتاده او السدی وغيـره – رضـی الـلـه عـنـهـم اجمعين – فرمائيلی دی چه يعقوب عـليـه السـلام تـه ددے خبرے خـطـره اويره وه چه خلق ئے دنظره نه کـړی، ځـکـه چـه هـغـوئ ښائسته شکل اوصورت والا وو، او نظر لـګـيـدل خـو حـق دی ۔پـه اس بـانـدے سور سړے داس نه غورځولے شی ۔

اودا قول ديعقوب عليه السلام چه ﴿ وما اغنی عنکم من الله من شئ ﴾

يـعـنـی دا ځـان سـاتـل اودا تـدبير زما، تقدير او قضاء دالله جل

Maktaba Tul Ishaat.com

شانه نشي رد كولے، ځكه چه الله پاك كله ديو شي اراده اوكړي نو دهغے مخالفت اومنع والے نشي كيدے ـ

﴿ ولما دخلوا من حيث امرهم ابو هم ماكان يغنى عنهم من الله من شئ الا حاجةً فى نفس يعقوب قضٰها ﴾

دوئ فرمائيلى دى چه هغه حاجت داوو چه ددوئ نه دنظر لګيدل دفع كړى ـ

(تفسير ابن كثير : ۲۸۵/۲) ـ

۲ – الله جل شانه فرمائى :

﴿ وان يكاد الذين كفروا ليزلقونك بابصارهم لما سمعوا الذكر ويقولون انه لمجنون ﴾

[ سوره القلم، آيت : ۵۱ ]ـ

ترجمه : او بيشكه نزدے دى هغه كسان چه كافران دى چه خامخا اوبه ښويه وى تا (اوبه دے غورزوى په زمكه) په سترګو خپلو سره هر كله چه واوريده دوئ قرآن (ستا د ژبه نه) او وائى دوئ (دكينے او بغض دوجے نه) بيشكه دغه (محمد ﷺ) ليونے دے ـ

حافظ ابن كثير – رحمه الله فرمائى :

ابن عباس او مجاهد – رضى الله عنهما – وغيره فرمائى چه د ﴿ ليزلقونك بابصارهم ﴾ معنى داده چه كه چرے ستا دپاره دالله پاك حفاظت او ساتنه نه وے نو دے كافرانو به ته دحسد او بغض په وجه په سترګو باندے دنظره كړے وے ـ په دے آيت كريمه كښے دليل دے په دے خبره باندے چه دسترګے لګيدل او تاثير كول دالله

عـز وجـل پـه حکم سره حق دی، لکه څنګه چه په دے باره کښے په ګـنړو سنـدونـو سره احـاديـث روايت کړے شوی دی ـ (تفسير ابن کثير : ٤/٤١٠) ـ

(يـو قيمتی بحث دے په عنوان د – العين حق – باندے تاليف داحـمـد بـن عبـد الـرحـمن الشميمری، چه ماهم دلته په دے فصل کښے د هغے نه څه برخه نقل کړے ده، دتفصيل دپاره اصل کتاب ته رجوع پکار ده) ـ

## دنظر په لګيدو باندے د سنت نبويه نه دلائل

۱ – جنـاب ابـو هـريـره – رضی الله عنه – فرمائی : نبی کريم ﷺ فرمائيلی دی :

نظر لګيدل حق دی ـ

(بـخـاری : ۱۰/۲۱۳، ومسـلـم فـی الـسلام بـاب الـطب : ١٤/١٧٠، نووی) ـ

۲ – دعـائشـه صديـقـه – رضـی الله عنها – نه روايت دے چه نبـی کـريـم ﷺ فـرمـائيـلـی دی : دنـظر لګيدو نه په الله سره پناه غواړئ، ځکه چه نظر لګيدل حق دی ـ

( رواه ابن ماجه :۳۵۰۸، وصححه الألبانی فی صحيح الجامع : ۹۳۸، الصحيحة : ۷۳۷) ـ

۳ – دابـن عبـاس – رضـی الـلـه عنهما – نه روايت دے چه نبی کـريـم ﷺ فـرمـائيـلـی دی : (دسترګے لګيدل حق دی، اوکه يوشے

Maktaba Tul Ishaat.com

دتقدير نه مخکښې کيدے شوے نو نظر به ترے مخکښې شوے وے، اوکله چه تاسو نه دغسل مطالبه اوکړے شي نو غسل کوئ (يعنى نظر باز سړى نه که دغسل مطالبه اوکړے شي نو هغه دے غسل اوکړى دے دپاره چه دغه اوبه دنظره شوى شخص په بدن واچولے شي)۔

(رواه مسلم فى كتاب السلام باب الطب والرقى : ١٧١/١٤، نووى)۔

٤ – اسماء بنت عُميس – رضى الله عنها – نبى كريم ﷺ ته عرض اوكړو : يا رسول الله ! دجعفرؓ ځامن – د ظاهرى او معنوى ښائست په وجه – دنظره كيږى، نو آيا زه ددوئ دپاره دم اوكړم ؟

نو نبى كريم ﷺ ورته اوفرمائيل : آو ! كه چرے دتقدير نه كوم شے مخكښې كيدے شوے نو نظر به ترے مخكښې شوے وے ۔

(رواه احمد : ٤٣٨/٦، والترمذى : ٢٠٥٩، وقال : حسن، صحيح، وابن ماجه : ٣٥١٠، وصححه الألبانى فى صحيح الجامع : ٥٢٨٦)۔

٥ – د جناب ابو ذر – رضى الله عنه – نه روايت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلے دے :

بيشکه چه نظر په سړى باندے دالله په حکم اثر کوى، تردے چه که دے په يو اوچت ځائے باندے وى نو دنظر لګيدو دوجے نه لاندے راغور ځيږى ۔

(رواه احمد وابو يعلى وصححه الألبانى فى صحيح الجامع :

١٦٨١، والصحيحه : ٨٨٩)۔

٦ — د جناب ابن عباس – رضی الله عنهما – نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی :

( نظر حق دے او انسان داوچت غر نه لاندے راغورزولے شی) ۔

(رواه احمد والطبرانی والحاکم وحسنه الألبانی فی السلسلة الصحیحة : ١٢٥٠)۔

٧ – دجناب جابر – رضی الله عنه – نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی :

( نظر انسان قبر ته ننباسی، او اوښ کټوئ ته رسوی )۔

(رواه ابو نعیم فی الحلیة وحسنه الألبانی فی صحیح الجامع : ٤١٤٤، والصحیحة : ١٢٤٩)۔

مطلب داچه : انسان دنظره شی نو مړ شی او بیا په قبر کښے دفن کړے شی، او اوښ دنظره شی، مرګ ته نزدے شی نو هغه ذبح کړے شی او په کټوئ کښے پوخ کړے شی ۔

٨ – دجناب جابر – رضی الله عنه – نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : ( زما په امت کښے اکثر خلق دالله دقضاء او تقدیر نه پس دنظر لګیدو دوجے نه مری ) ۔

(رواه البخاری فی التاریخ وحسن الألبانی فی صحیح الجامع : ١٢٠٦، والصحیحة : ٧٤٧)۔

٩ – دعائشه صدیقه – رضی الله عنها – نه روایت دے دا فرمائی : رسول الله ﷺ به ماته حکم کولو چه دسترګے لګیدو

Maktaba Tul Ishaat.com

نه دم اچوه ۔

(رواه البخاري: ۱۷۰/۱۰، ومسلم: ۲۱۹۵)۔

۱۰ - دجناب انس بن مالك - رضی الله عنه - نه روایت دے دا فرمائی:

رسول الله ﷺ دنظر اود زهریله شی دچیچلو اود نملے په دم کښے اجازت ورکړے دے۔

(رواه مسلم: ۲۱۹٦،فی السلام)۔

نمله: یو قسم زخمونه دی چه په اړخ کښے راښکاره کیږی۔

۱۱ - دام سلمه - رضی الله عنها - نه روایت دے چه رسول الله ﷺ دیوے جینئ چه ددئے په کور کښے وه په مخ باندے تور - یا زیړ - نشانونه اولیدل، نو وے فرمائیل:

(دا دنظره شوے ده، دم ورله اوکړئ)۔

(رواه البخاري: ۱۷۱/۱۰، ومسلم: ۹۷)۔

۱۲ - دجناب جابر رضی الله عنه نه روایت دے دا فرمائی:

رسول الله ﷺ دحزم - نومے سړی - خاندان دپاره دمار ددَم اجازت ورکړے وو، او اسماء بنت عمیس نه ئے تپوس اوکړو: (څه وجه ده ما لره چه زه خپل د خپلو وریرونو جسمونه کمزوری وینم، ولے فقر او فاقه ورته رسیدلے ده؟ هغے ورته اووئیل: نه! بلکه دوئ ډیر زر نظره کیږی، نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: دوئ دَم کړه)۔

(رواه مسلم فی کتاب السلام: ۲۱۹۸)۔

* * * * *

## دنظر لګیدو دحقیقت په باره کښې دعلماؤ اقوال

۱ – حافظ ابن کثیر – رحمه الله – فرمائی:

دنظر لګیدل اود الله په حکم دهغې تاثیر حق دے۔

(تفسیر ابن کثیر: ٤/٤١٠)۔

۲ – حافظ ابن حجر – رحمه الله – فرمائی:

د نظر لګیدو حقیقت دادے چه یو خبیث الطبع انسان خپل حاسدانه نظر په کوم شخص باندے واچوی نو هغه ته نقصان اورسیږی۔

(فتح الباری: ۱۰/۲۰۰)۔

۳ – ابن الأثیر – رحمه الله – فرمائی:

محاوره ده چه فلانے سړے نظره شوے دے، نو دا هغه وخت کښے وئیلے کیږی چه کله یو دشمن یا یو حسدګر ده ته اوګوری نو دا نظر په ده کښے تاثیر اوکړی اود هغے په وجه دے بیمار شی۔

(النهایه: ۳/۳۳۲)۔

٤ – حافظ ابن قیم – رحمه الله – فرمائی:

بعض کم علمه خلقو دنظر دلګیدو د تاثیر نه انکار کړے دے او وائی چه دا صرف وهم پرستی ده، اوددے هیڅ حقیقت نشته، لیکن حقیقت دادے چه دا خلق جاهلان دی اود روحونو دصفاتو او دهغے دتاثیر نه ناواقف دی اوددوئ په عقلونو باندے پردے دی او طبیعتونه ئے مکدر دی۔ ځکه چه دامت تمام عاقلان خلق سره

Maktaba Tul Ishaat.com

داختلاف دمذاهبو نه دنظر دلګیدو نه انکار نه کوی اګرچه دنظر دسبب اودهغے دتاثیر په جهت کښے اختلاف موجود دے۔

بیا فرمائی : په دے کښے هیڅ شك نشته چه الله تعالی په جسمونو او روحونو کښے مختلف طاقتونه پیدا کړی دی، او په هغے کښے ئے ډیر خواص اود اثر کولو متعدد کیفیات ایخے دی، اود هیڅ یو عقلمند دپاره دا ممکنه نه ده چه په جسمونو کښے دروحونو داثر نه انکار اوکړی، ځکه چه دا یو لیدل شوے اومحسوس شوے څیز دے، اوته به دهغه شخص مخ وینے چه څنګه سور کیږی په هغه وخت کښے چه ده ته هغه سړے اوګوری چه دے دچا احترام کوی او ترے شرمیږی، او زیړیږی په وخت دلیدلو دهغه چا کښے چه دے ترے یریږی۔ او خلقو داسے شخص لیدلے دے چه هغه ته صرف دکتو په وجه بیماریږی اوطاقتونه ئے کمزوری کیږی، دا هرڅه دروح د تاثیر په واسطے سره وی، خو چونکه دروح دسترګے سره سخته مضبوطه رابطه ده نو سترګے ته دا کار منسوب کیږی، حال دا چه سترګه تاثیر کونکے نه ده، بلکه روح تاثیر کونکے دے۔

او ارواح د خپلو طبیعتونو او قوتونو او کیفیتونو اوخواصو په اعتبار سره مختلف دی، پس دحسد کونکی روح واضح طور سره هغه شخص ته ضرر رسوی چه دچا سره حسد کوی۔ ددے وجے نه الله – جل شانه – خپل رسول ﷺ ته دحسد کونکی دشر نه دپناه غوښتلو امر کړے دے۔

دحسد کونکی دحسد تاثیر په محسود شخص کښې يوداسې شے دے چه ددے نه فقط هغه شخص انکار کولے شی کوم چه دانسانيت دحقيقت نه خارج وی ۔

او نظر بنيادی طور سره داسې لګيږی چه دحاسد شخص خبيث او ناپاك نفس کله ناپاك کيفيت اختيار کړی اود چا مخے ته راشی نو په هغه کښې ددغه ناپاك اوخبيث کيفيت اثر اوشی ۔ اودا کله په خپل مينځ کښې دملاويدو په وجه کيږی، اوکله دمخامخ کيدو په وجه، اوکله دکتو په وجه، اوکله دغه شخص ته دروح دمتوجه کولو په وجه، اوکله دخه دعاګانو اودمونو په وجه، اوکله د وهم او ګمان په وجه کيږی ۔

اود نظر باز سړی نظر لګيدل دهغه دليدلو پورے موقوف نه وی، بلکه کله کله يو ړوند ته ديو شی وصف بيان شی، نوکه دهغه په نفس کښې دحسد نه ډك جذبات پيدا شو نو دهغے اثر هم په هغه شی باندے کيږی ۔

او ډير داسې نظر باز خلق شته چه صرف ديو شی په صفت کولو سره بغير دليدلو نه دهغوئ نظر لګيږی ۔ دنظر سره ډير مشابه شے مار دے چه په مار کښې زهر پټ پراته وی خو چه کله دخپل دشمن سره مخامخ شی نو قوت غضبی په کښې پيدا شی اوپه يو ضرری کيفيت سره صورت اختيار کړی چه دبعضو کيفيت ډير سخت او قوی وی، تردے چه دحمل په ساقطولو کښې هم تاثير کوی، اود بعضو دسترګو په ړندولو کښې تاثير کوی، لکه

Maktaba Tul Ishaat.com

چه نبی کریم ﷺ دلنډئ اود ذی الطفیتین (هغه مار چه په ملا کښے ئے دوه خطونه وی) باره کښے فرمائی :

(انهما یلتمسان البصر، ویسقطان الحبل).

ترجمه : دا دواړه سترګے ړندوی او حمل ګذاروی -

(رواه البخاری :۲٤۸/٦، ومسلم : ۲۲۳۳).

اود انظر یو غشی وی چه دنظر باز سړی دنفس نه اوځی، کله په نشان باندے صحیح اولګیږی، اوکله خطاء شی - دکوم شخص طرفته چه دا غشے متوجه شوے وی نوکه هغه د نظر دلګیدو نه دبچ کیدو احتیاطی تدبیرونه اختیار کړی وی نو بیا دغه نشانه خطاء کیږی، اوکله کله دا غشے په خپله په دغه نظر باز باندے لګیږی -

خلاصه : داچه نظر د درے مرحلونه پس خپل اثر کوی- دتهولو نه مخکښے اول دنظر باز سړی یو شے خوښ شی، بیا دهغه په ناپاك نفس کښے حاسدانه جذبات پیدا شی، او بیا ددغه حاسدانه جذباتو زهر د نظر په واسطه منتقل کیږی - کله د نظر باز سړی دیو شی نظره کول دهغه په قصد او ارادے سره وی، اوکله دهغه دارادے نه بغیر وی- (زاد المعاد : ٤/١٦٥).

* * * * *

## د نظر او حسد تر مینځه فرق

۱ – حاسد د نظر باز نه عام دے، نظر باز خاص حسد گر دے، او حاسد عام دے، نو هر نظر باز حاسد دے، او هر حاسد نظر باز نه وی ـ همداوجه ده چه د حاسد د حسد نه د پناه غوښتلو ذکر په سورت الفلق کښے راغلے دے، نو کله چه یو مسلمان د حسدگر د شر نه پناه اوغواړی نو نظر باز په کښے هم داخل دے ـ اودا د قرآن کریم بلاغت او اعجاز دے ـ

(بدائع الفوائد : ۲۳۲/۲، زاد المعاد : ۱۲۷/٤) ـ

۲ – حسد د بغض او کینے د وجے نه راځی، او د دے وجے نه راځی چه انسان د بل چا نه د نعمت دلرے کولو آرزو لری ـ او هر چه نظر دے نو د هغے سبب حیران والے، خوښوالے او دیو شئ لوئے گڼړل وی ـ

۳ – حسد او نظر دواړه په تاثیر کښے شریك دی، ځکه چه دواړه د حسد کړے شوی او د نظره کړے شوی شخص دپاره د ضرر سبب جوړیږی ـ

٤ – حسد گر دپاره دا ممکنه ده چه د یو متوقع کار د واقع کیدو نه مخکښے په هغے کښے حسد اوکړی، خو بل طرفته نظر باز صرف هغه شے د نظره کولے شی کوم چه اوس موجود وی ـ

۵ – انسان د خپل ځان او مال سره حسد نه کوی ... لیکن کله دا دواړه د نظر کولے شی ـ

٦ – حسد صرف دخبیث او حسدگر نفس نه واقع کیږی. لیکن نظر کله دیو نیك عمله سړی نه هم واقع کیدے شی ددے وجے نه چه دهغه یو شے خوښ شی اود هغه ددے دزوال اراده هم نه وی کړے بلکه بلا اختیاره دنظره شی ـ لکه څنګه چه دعامر بن ربیعه – رضی الله عنه – نظر په سهل بن حُنیف – رضی الله عنه – باندے لګیدلے وو ـ سره ددے نه چه عامر – رضی الله تعالیٰ عنه – په اسلام کښے د سابقینو اولینو بلکه د بدری صحابو – رضی الله تعالی عنهم – نه دے ـ

او هغه علماؤ چه هغوئ دحسد او د نظر ترمینځه دفرق قائل دی په هغوئ کښے ابن الجوزی، ابن القیم، ابن حجر او نووی وغیره شامل دی – رحمهم الله جمیعا ـ

اود مسلمان دپاره دا مستحب دی چه کله دے یو داسے شے اووینی چه خوښ ئے شی چه د هغے دپاره دبرکت دعاء اوکړی، یعنی ( ماشاء الله) وغیره الفاظ دے اووائی، برابره خبره ده که دا شے دده خپل وی اوکه دده نه علاوه دبل چا وی، څکه نبی کریم ﷺ د سهل بن حنیف – رضی الله عنه – په حدیث کښے فرمائی :

( الا برکت علیه )ـ

یعنی : تا دهغه دپاره دبرکت دعاء ولے نه کوله !

(رواه البخاری فی کتاب الطب)ـ

څکه چه دا دعاء دنظر تاثیر ختموی ـ

پیرو انسان د نظره کولے شی

۱ - جناب ابو سعيد خدری - رضی الله عنه - فرمائی چه :
رسول الله ﷺ به دپیریانو او انسانانو دنظر نه پناه غوښتله، اوکله چه معوذتان (سوره الفلق او سوره الناس) ناز شو نو نبی کريم ﷺ به دا لوستل او ددے نه علاوه دعاگانے ئے پریخودلے۔

(رواه الترمذی: ۲۰۵۹، فی الطب وحسنه، وابن ماجه: ۳۵۱۱، وصححه الألبانی فی صحیح ابن ماجه: ۲۸۳۰)۔

۲ - ام المؤمنین ام سلمه - رضی الله عنها - نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ددے په کور کښے یوه جینۍ اولیده چه دهغے په مخ باندے تور نشان وو، نو نبی کريم ﷺ اوفرمائیل: دادم کړئ یقینا دا دنظره شویده۔

(رواه البخاری: ۱۰/۱۷۱، ومسلم: ۲۱۹۷)۔

امام فراء - رحمه الله - فرمائیلی دی چه دغه تور نشان دپیریانو د نظر دوجے نه وو

ددے دواړو احادیثو نه مونږ ته معلومه شوه چه لکه څنګه چه دانسان د نظر اثر کیږی نو دغه شان دپیری د نظر هم اثر کیږی، ددے وجے نه په هر مسلمان باندے لازم دی چه کله جامے اوباسی او یا په شیشه کښے ګوری یا بل یو کار کوی نو (بسم الله) دے وائی، ددے دپاره چه دجناتو اود انسانانو دنظر دتاثیر نه محفوظ شی۔

## د نظر لګیدو علاج

د نظر د علاج ډیرے طریقے دی، زه اوس هغے نه یو څو طریقے ذکر کووم:

Maktaba Tul Ishaat.com

## ۱ - اوله طریقه : د نظر باز شخص غسل کول :

کله چه نظر باز سړے اوپیژندے شی نو هغه ته به دغسل کولو حکم اوکړے شی بیا به د هغه دغسل اوبه راواخلے او په نظر وی شخص باندے به ئے د شا دطرفنه واچوے ان شاء الله جوړ به شی۔

ابو امامه - رضی الله عنه فرمائی : چه زما پلار سهل بن حُنیف دغسل کولو اراده اوکړه، کله ئے چه قمیص اوویستو نو عامر بن ربیعه - رضی الله عنه - ورته کتلے اوسهل بن حنیف انتهائی تك سپین وو او بنائسته څرمنے والا وو، نو عامرؓ اووئیل : ما ترننه پورے دیوے پیغلے جینئ څرمن هم داسے بنائسته نه ده لیدلے۔

دده داخبره کول وو چه فورا په سهل - رضی الله عنه - باندے سخته تبه راغله، نو نبی کریم ﷺ ددے واقعے نه خبر کړے شو اودا هم ورته اووئیلے شو چه سهل - رضی الله عنه - خپل سر هم نشی پورته کولے - نبی کریم ﷺ اوفرمائیل : آیا ستاسو په چا باندے شك شته ؟ هغوئ اووئیل : آو ! په عامر بن ربیعهؓ باندے شك کیدے شی۔ نبی کریم ﷺ عامر بن ربیعهؓ را اوغوښتو او د ناراضګئ اظهار ئے ترے هم اوکړو - غصه ئے ورباندے اوکړه - او ورته ئے اوفرمائیل : (تاسو کښے یو تن ولے خپل ورو وژنئ ؟ آیا تا بارك الله نشو وئیلے ؟، دده دپاره غسل اوکړه )۔

نو عامر - رضی الله عنه - خپل مخ، لاسونه ترڅنګلو پورے

اوزنګونان، خپے اود خپل لنګ دننه حصه اووینځله او هغه اوبه ئے په یو لوښی کښے جمع کړے بیا هغه اوبه په سهل بن حنیفؓ باندے دشاطرفنه واچولے شوے نو سهل - رضی الله عنه - فورا جوړ شو۔

(رواه احمد والنسائی وابن ماجه، وصححهٔ الألبانی فی صحیح الجامع: ۳۹۰۸)۔

## په لنګ کښے ددننه حصے نه څه مراد دے؟

څوك وائی چه ددے نه مراد د لنګ لاندے دبدن حصه ده، اوڅوك وائی چه ددے نه مراد اندام مخصوصه دے۔ او څوك وائی چه ددے نه مراد هغه دلنګ ډړلو ځائے یعنی بډه۔

قاضی ابن العربی - رحمه الله - وائی:

ظاهره بلکه قوی او حج خبره داده چه ددے نه مراد دلنګ هغه حصه ده چه بدن سره لګیدلے وی۔

(عارضه الأحوذی: ۲۱۷/۸)۔

## دغسل کولو طریقه:

ابن شهاب زهری - رحمه الله - فرمائیلی دی: چه زمونږ دزمانے علماء کرامو دغسل داسے کیفیت بیان کړے دے چه: دچا نظر لګیدلے وی د هغه مخے ته داوبو یو لوښے کیخودلے شی، نو اول دے د هغه لوښی نه په خپل لاس باندے اوبه راواخلی اومضمضه دے ورباندے اوکړی، او اوبه دے همدغه لوښی کښے دخولے نه توئے کړی، بیا دے مخ هم په دغه لوښی کښے اووینځی، بیا دے په کښے

Maktaba Tul Ishaat.com

ګس لاس دننه کړي او اوبه دې ترې را واخلي او په ښي لاس دې واچوي، بیا دې ښې لاس په کښې دننه کړي او اوبه دې ترې را واخلي او په ګس لاس دې واچوي، بیا دې ښې لاس په لوښي کښې دننه کړي او په ګسه ښنګل دې اوبه واچوي، بیا دې ګس لاس په لوښي کښې دننه کړي او په ښئ ښنګل دې اوبه واچوي، بیا دې کس لاس په لوښي کښې دننه کړي او په ښئ ښپه دې اوبه واچوي، بیا دې ښې لاس په لوښي کښې دننه کړي او په ګسه ښپه دې اوبه واچوي، بیا دې دښي لاس په ذریعه په ګس زنګون - ګوډه - باندې اوبه واچوي، او دګس لاس په ذریعه دې په ښي زنګون اوبه واچوي، بیا دې دې دښپل لنګ یا پرتوګ وغیره دننه حصه اووینځي او اوبه دې په دغه لوښي کښې واچوي۔

او په دې کښې ددې خبرې خیال ساتل پکار دي چه اوبه دې تولې په یو لوښي کښې اوغورزیږي، اودغه لوښې به په زمکه باندې نه ګدي، اودغه اوبه به دنظره شوي سړي په سر باندې دشا طرفنه په یو ځل تولې واړولې شي ۔

(السنن للبیهقی : ۲۵۲/۹)۔

## د نظر باز شخص دغسل مشروعیت :

۱ - نبی کریم ﷺ فرمائي :

(نظر حق دې، که چرې څه شې دتقدیر نه مخکښې کیدې شوې نو نظر به ترې مخکښې شوې وې، اوکله چه تاسو نه څوك دغسل کولو مطالبه اوکړي نو ضرور غسل اوکړئ)۔

(رواه مسلم : ۳۲/۵)۔

۲ – عائشه – رضی الله عنها – فرمائی :

دچا نظر چه به لګیدلے وو نو هغه ته به دغسل کولو حکم کیدو، بیا به دغه اوبه په نظره شوی شخص باندے اچول کیدے۔

ددے دواړو حدیثونو نه د نظر باز شخص داودس یا دغسل کولو مشروعیت د نظره شوی شخص دپاره ثابتیږی۔

## دویمه طریقه :

د مریض په سر باندے لاس کیده اودا دعاء اووایه :

(بِسْمِ اللّٰهِ اَرْقِیْكَ وَاللّٰهُ یَشْفِیْكَ مِنْ كُلِّ دَاءٍ یُؤْذِیْكَ وَمِنْ كُلِّ نَفْسٍ اَوْعَیْنٍ حَاسِدٍ، اَللّٰهُ یَشْفِیْكَ، بِسْمِ اللّٰهِ اَرْقِیْكَ)۔

(رواه ابوداود : ۳۸۸۰، باسناد صحیح)۔

## دریمه طریقه :

د مریض په سر باندے لاس کیده اودا دعاء اووایه :

(بِسْمِ اللّٰهِ یُبْرِیْكَ، مِنْ كُلِّ دَاءٍ یَشْفِیْكَ، وَمِنْ كُلِّ شَرِّ حَاسِدٍ اِذَا حَسَدَ، وَمِنْ شَرِّ كُلِّ ذِیْ عَیْنٍ)۔

(رواه مسلم : ۲۱۸۶)۔

## څلورمه طریقه :

د مریض په سر باندے لاس کیده اودا دعاء اووایه :

(اَللّٰهُمَّ رَبَّ النَّاسِ، اَذْهِبِ الْبَأْسَ، وَاشْفِ اَنْتَ الشَّافِیْ، لَا شِفَاءَ اِلَّا شِفَاؤُكَ شِفَاءً لَا یُغَادِرُ سَقَمًا)۔

(رواه البخاری فی كتاب الطب، ومسلم فی كتاب السلام)۔

Maktaba Tul Ishaat.com

### پنځمه طریقه:

دمریض په درمند ځائے یاندے لاس کیده او سورت الاخلاص، سورت الفلق او سورت الناس ورباندے دم کړه ـ

(رواه البخاری فی کتاب فضائل القرآن باب المعوذات) ـ

## د نظر دعلاج عملی نمونے

### اوله نمونه:

زه یو ځل دخپلوانو ملاقات دپاره تلے ووم، نو هغوئ راته اووئیل چه یو ماشوم دے اود ثو ورځو نه دمور سینه نه روی، حال داچه ددے نه مخکښے ئے دفطرت مطابق دمور تے رودلو ـ ما ورته اووئیل: هغه ماشوم ماته حاضر کړئ! نو هغوئ ماشوم حاضر کړو نو ما هغه په معوّذاتو – آخری درے سورتونو – او مسنونو دعاګانو سره دم کړو، بیا مے ورته اووئیل: اوس ئے خپلے مور له یوسئ، نو چه کله ئے مور له یوړو نو هغوئ فورا راغلل او زیرے ئے راته راکړو چه ماشوم دخپلے مورتے واخستو ـ

والفضل لله وحده، ولا حول ولا قوة الا بالله ـ

### دویمه نمونه:

دمتوسطے دمکتب (مډل سکول) یو طالب العلم چه انتهائی فصیح او بلیغ وو، اود طلباؤ نمائنده ګی به ئے کوله اوخلقو ته به ئے په مجلسونو او پروګرامونو کښے خبرے اوتقریرونه کول ـ یوه ورځ دده دکلی یو ماشوم وفات شوے وو، نو دا هلك هم دخپل خاندان اوکورنئ خلقو سره دتعزیت دپاره لاړو، نو هلته ئے دالله دحمد او

ثناء نه روسته خلقو ته یو بلیغ وعظ اوکړو ـ دغه شپه لا تیره نه وه چه هلك په خوله باندے ګونګے شو اوخبرے ئے نشوے کولے، نو پلار ئے اویریده او هسپتال ته ئے بوتلو، مختلفي معائینے او تیستونه ئے ورله اوکړل، ایکسریانے ئے ورله اوویستے، لیکن دمرض هیڅ پته اونه لګیده، بالآخره ماته ئے راوستو ـ ما چه کله هلك اولیدو نو که ځام مے نه وے راحصار کړے نو نزدے وه چه زما دسترګونه اوښکے روانے شوے وے، ځکه چه ماته په مدرسه کښے دده دیني او اسلامي سرګرمي معلومه وه ـ

ما چه کله دهغه دپلار نه تپوس اوکړو نو هغه راته ټوله قصه بیان کړه، اوهلك بالکل چپ چاپ وو، نو زه پوهه شوم چه دا نظره شوے دے، نو بیا ما په معوذاتو سره دم کړو، بیا مے ورله په اوبو باندے د نظر دم واچولو او پلار ته مے ورله اووئیل چه دا اوبه وربانده د اووه ورځو پورے اوڅکوه، او هم دے وربانده اولامبی، بیا ئے ماته راوله ـ

داووه ورځو نه پس چه کله هغه هلك راغے نو دمخکښے پشان ئے خبرے کولے او بالکل صحیح شوے وو ـ بیا ما هغه ته د بدنظرئ نه دبچ کیدو احتیاطي تدبیرونه اوښودل چه دا سَحر او مابنام وایه چه د نظره کیدونه بچ ئے ـ

(دا هلك څه وخت چه ما په سعودي کښے تدریس کولو نو په متوسطه او ثانویه دواړو کښے زما شاګرد وو) ـ

والحمد لله، ولا حول ولا قوة الا بالله ـ

Maktaba Tul Ishaat.com

## دریمه نمونه : یو ناشنا خبره :

دا زمونږ دکور واقعه ده، هغه دا چه یو سړے او یوه بوډۍ ښځه چه ددغه سړی مور وه مونږ کره راغلل، نو هغه سړی زما په مجلس کښې ماته دخپلې مور قیصه اوکړه، او هغه مورئے زما کور والا ته دننه کورته لاړه، ما بیا هغه را اوغوښته اودم مے وربانده واچولو اودواړه لاړل ـ

زه چه کله کور ته دننه لاړم څه ګورم چه په کور کښې مے ډیر زیات سپین سپین چینجی دی، زه ډیر حیران شوم، کور والا مے دکور صفائی اوکړه، لیکن چینجی یو ځل بیا ډیر په تیزئ سره دکور په هره کمره کښې رابښکاره شو ـ ما خپل کور والا ته اووئیل : راشه چه ددے کار په باره کښې فکر اوسوچ اوکړو ـ

ماورته اووئیل : چه هغه بوډۍ ښځے تاته څه اووئیل ؟

کور والا مے اووئیل : هغے دکور کوټونو ته په ژور نظر سره کتل، لیکن هیڅ ئے نه وئیل ـ

نوزه پوهه شوم چه دا دنظر اثر دے، سره ددے نه چه زمونږ کور انتهائی ساده دے، لیکن شاید چه دغه بوډۍ په باندو کښې اوسیدله اوبالکل ئے د ترقئ اسباب نه وو لیدلی، ددے وجے نه ئے په تعجب سره کور ته کتل ـ

خلاصه دا چه :

ما اوبه را اوغوښتے او په هغے مے د نظر دم اولوستلو، اود کور په ټولو قنجونو کښې مے چنړکاؤ کړے، نودے سره هغه چینجی

ډیر په تیزئ سره لاړل او ورك شو، او كور لكه دمخكښې پشان ددے بلا نه پاك شو ـ

* * * * * *

---

والحمد لله الواحد الديان ـ

هذا، وسبحانك اللهم وبحمدك

اشهد ان لا اله الا انت استغفرك واتوب اليك ـ

* * * * * *

## د سحر او بد نظر علاج

## رساله ختمه شوه

---

### نوټ:

دسحر، جادو، او دمونږ 6 عدد مختلف کیسټې چه حکیم اسحاق صاحب ترتیب کړیدے مونږ سره ملاویږی ـ

Maktaba Tul Ishaat.com